

دا شین گنبد چه د رته بنکاري جلوه کړ دے
دیکښې د کونینو معتبر دے

ﷺ

روح کائنات

اوله حصه

مصنف:

وقار اهلسنت والجماعت فخر الشعراء الحاج ابوسعید

مولانا ظفر گل خادم صاحب نوري سیفي

المكتبة الخادمية

0313- 80 03 281 / 0340- 43 63 222

دا شین گنبد چه درته ښکاری جلوه گر دے
دیکښې د کونینو معتبر دے

روحِ کائنات ﷺ

اوله حصه

مُصنّف:-

فخرِ اهلسنت والجماعت فخرالشعراء الحاج ابوسعید

مولانا ظفر گل خادمؔ صاحب نوری سیفی

المکتبة الخادمیة

انقلاب روډ محله غریب آباد سوریزئی پایان پښاور بالمقابل دارالعلوم نوریه سیفیه

0313- 80 03 281 / 0340- 43 63 222

ټول حقوق د مصنف په حق کښې محفوظ دی

کتاب نوم : روح کائنات ﷺ (اوله حصه)

مصنف : فخر اهلسنت وجماعت فخرالشعراء ابوسعید مولانا ظفرګل خادم صیب (نوری سیفی)

تعداد : ۱۱۰۰

کمپوزنګ : ابوصدیق قاری حبیب الله حبیب

ناشر : المکتبة الخادمیه انقلاب روډ غریب آباد سوړیزی پایان پېښور

﴿ملاویدو پته﴾

* مکتبة النظامیه ګهنته ګهر ریتی بازار.
* مکتبه عمرفاروق جنګی محله پښور.
* مکتبه دارالاخلاص جنګی محله پښور.
* مکتبه روضة القرآن جنګی محله پښور.
* مکتبه رحمانیه جنګی محله پښور.
* زیب ارټ پبلشرز جنګی محله پښور.
* مکتبه رحمانیه سیفیه متهه رحمن باغ شریف.

خبرداري

الحمدلله د روح کائنات ﷺ (اوله حصه) پوره شوه د پسے انشاء الله العزیز (دوئمه حصه) هم زر چاپ کیدونکے ده.

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

فهرست

نمبرشمار	عنوانات	صفحه نمبر
1	**تعارف د مصنف**	۱۱
2	**ذکر باری تعالیٰ** لا اله الا الله	۱۲
3	**رباعی** (۱) په مونږ رحم اوکړے	۱۸
4	**نعت شریف** (۲) دانه ویم چه ملك او	۱۹
5	**رباعی** (۲) په خوبانو کښے	۲۰
6	**نعت شریف** (۳) یامحمد مصطفیٰ شیدا	۲۱
7	**رباعی** (۳) نمبر اوړے دے دنمر	۲۲
8	**نعت شریف** (٤) جهان دے ټول حیران	۲۳
9	**رباعی** (٤) زۀ چه ستا په مزین	۲۴
10	**نعت شریف** (٥) په خپله کړی صفت غنی	۲۵
11	**رباعی** (٥) ته له ورایه چه په ناز	۲۶
12	**نعت شریف** (٦) بل دمینے اور م په	۲۸
13	**رباعی** (٦) عاشقه ورشه مدینے	۲۹
14	**نعت شریف** (۷) ذات دِ مبارك دے	۳۰
15	**رباعی** (۷) اے د مکے او مدینے	۳۱

Scanned with CamScanner

16	**نعت شریف** (۸) محبوبه موصوف	۳۳
17	**رباعی** (۸) زۀ د یار په محبت کښې	۳۴
18	**نعت شریف** (۹) قسم دے چه محبوبه	۳۵
19	**رباعی** (۹) زما زړۀ باندے غمونه	۳۶
20	**نعت شریف** (۱۰) ارمان دے چه مکه	۳۷
21	**رباعی** (۱۰) روضه ښکلے د آقا	۳۹
22	**نعت شریف** (۱۱) بادشاه به اوګنړم د	۴۰
23	**رباعی** (۱۱) وے نعرے د اناالحق	۴۲
24	**نعت شریف** (۱۲) رنړا د نمر دِ نُور ته	۴۳
25	**رباعی** (۱۲) سخته ورځ چه شی	۴۴
26	**نعت شریف** (۱۳) ثانی ستا دکونینو په	۴۶
27	**رباعی** (۱۳) د حضورؐ ښکلی عظمت	۴۷
28	**نعت شریف** (۱٤) حیران یَم انتظار ته	۴۸
29	**رباعی** (۱٤) دی په زړۀ م ارمانونه	۴۹
30	**نعت شریف** (۱۵) والله کل خوبان م	۵۰
31	**رباعی** (۱۵) خوك چه ګیر شی	۵۲
32	**نعت شریف** (۱٦) الله راکړه آرام ښکلی	۵۳

Scanned with CamScanner

33	**رباعی** (۱٦) رب چه د نمر نه خانسته	۵۴
34	**نعت شریف** (۱۷) په چا کښې چه تیاره	۵۵
35	**رباعی** (۱۷) شمیم د زلفو معنبرو	۵٦
36	**نعت شریف** (۱۸) یو دِ د گردونو نه	۵۷
37	**رباعی** (۱۸) گدا خو هر وختے	۵۸
38	**نعت شریف** (۱۹) اوکړه نظر ستا	۵۹
39	**رباعی** (۱۹) چمن د مینے د محبوب	٦۰
40	**نعت شریف** (۲۰) سپینے اوښکے تل	٦۲
41	**رباعی** (۲۰) خوك چه ستا د غلامانو	٦۳
42	**نعت شریف** (۲۱) ښکلی رسولؐ به	٦۴
43	**رباعی** (۲۱) هریو هڅوکے م په	٦۵
44	**نعت شریف** (۲۲) دی خوش قسمته چه ئے	٦٦
45	**رباعی** (۲۲) راشه ځان کړه تابعدار	٦۸
46	**نعت شریف** (۲۳) ژاړمه د سوزه چه م	۷۰
47	**رباعی** (۲۳) په دنیا چه د خدائے	۷۱
48	**نعت شریف** (۲۴) ستا د وطن نه زار قربان	۷۲
49	**رباعی** (۲۴) دوست د پاك غنی سبحان	۷۴

Scanned with CamScanner

50	**نعت شریف** (۲۵) ستا د درد خاورو نه زار	۷۵
51	**رباعی** (۲۵) چه بندی شی په زنځیر	۷۷
52	**نعت شریف** (۲٦) پاك محمدؐ آخرزمان	۷۸
53	**رباعی** (۲٦) ستا د زلفو په هر	۷۹
54	**نعت شریف** (۲۷) ښو مره حسندارے	۸۰
55	**رباعی** (۲۷) ستا د مخ په شمع	۸۲
56	**نعت شریف** (۲۸) ځان ته مِ اوغواړه	۸۳
57	**رباعی** (۲۸) ستا له درده له فراقه	۸۴
58	**نعت شریف** (۲۹) نه وینم ثانی	۸۵
59	**رباعی** (۲۹) ډیر ګران لوئے محبوب	۸٦
60	**نعت شریف** (۳۰) سرومال که دواړه	۸۷
61	**رباعی** (۳۰) مخلوق کاسب دکار	۸۸
62	**نعت شریف** (۳۱) شکر دے مینه چۀ په	۸۹
63	**رباعی** (۳۱) د یسین شال په سر د	۹۰
64	**نعت شریف** (۳۲) عاشق په والضحی	۹۱
65	**رباعی** (۳۲) چرته کنبے ستا مخ	۹۲
66	**نعت شریف** (۳۳) احمد نبی سلطانه	۹۳

Scanned with CamScanner

67	**رباعی** (۳۳) په ډیر احترام اخلی	۹۵
68	**نعت شریف** (۳٤) تور بنکلی چشمان لری	۹٦
69	**رباعی** (۳٤) ستا لوئے کرم	۹۷
70	**نعت شریف** (۳۵) حورے نقاب کنبے	۹۸
71	**نعت شریف** (۳٦) محبوبه جنتونه شه زار	۱۰۰
72	**نعت شریف** (۳۷) ښکلے م نبیؐ عربی	۱۰۲
73	**نعت شریف** (۳۸) ستا ښکلے حرم دے	۱۰۳
74	**نعت شریف** (۳۹) دا د پاك الله د ښکلی	۱۰۵
75	**نعت شریف** (٤۰) د زلفو تار کنبے	۱۰٦
76	**نعت شریف** (٤۱) وطن دحبیبؐ م په	۱۰۸
77	**نعت شریف** (٤۲) څهٔ رنګے مجنونه	۱۰۹
78	**نعت شریف** (٤۳) ارمان دے چه حساب	۱۱۰
79	**نعت شریف** (٤٤) شم ستا د ښکلی	۱۱۱
80	**نعت شریف** (٤۵) داسے نشته د بل چا مخ	۱۱۲
81	**نعت شریف** (٤٦) قسم دے قدرمنده	۱۱۳
82	**نعت شریف** (٤۷) ته ئے بالا واړو	۱۱۴
83	**نعت شریف** (٤۸) یادیږی م هروختے	۱۱۵

Scanned with CamScanner

84	**نعت شریف** (۴۹) چۀ ته م زړۀ کښے	۱۱۶
85	**نعت شریف** (۵۰)...... خدائیګو دیدنونه	۱۱۷
86	**نعت شریف** (۵۱)...... اوغواړه ما د خدائے	۱۱۸
87	**نعت شریف** (۵۲)...... چه ستا جمال ئے	۱۱۹
88	**نعت شریف** (۵۳)...... دخدائے رسول په مینه	۱۲۰
89	**نعت شریف** (۵۴)...... لرم په زړه کښے	۱۲۱
90	**نعت شریف** (۵۵)...... د شین ګنبد سره لس	۱۲۳
91	**نعت شریف** (۵٦)...... اے د مدینے زمکے	۱۲۵
92	**نعت شریف** (۵۷)...... ارمان دے چه رو رو	۱۲۷
93	**نعت شریف** (۵۸)...... ډیر ښکلے جمال لری	۱۲۸
94	**نعت شریف** (۵۹)...... مخ دے دومره ډیر	۱۲۹
95	**نعت شریف** (٦۰)...... تاته هجرت کړے	۱۳۰
96	**نعت شریف** (٦۱)...... خپے ابله سرتور سر	۱۳۲
97	**نعت شریف** (٦۲)...... غواړمه غواړم دیدارِ نبیؐ	۱۳۳
98	**نعت شریف** (٦۳)...... سحر مابنام م ستا د	۱۳۵
99	**نعت شریف** (٦٤)...... ښکلے پیغمبر م محمد	۱۳۸
100	**نعت شریف** (٦۵)...... محبوب زلفے لری په	۱۴۰

Scanned with CamScanner

101	**نعت شریف** (٦٦)....کاش چه هروخت ما	۱۴۱
102	**نعت شریف** (٦٧)....حضرت نبیؐ سلطانه	۱۴۲
103	**نعت شریف** (٦٨)....فخرِ دوجهان رسوله	۱۴۴
104	**نعت شریف** (٦٩)....زړۀ به ترخو مره جدا	۱۴۵
105	**نعت شریف** (٧٠)....مړ به شم له غمه په	۱۴۶
106	**نعت شریف** (٧١)....ډیر خلق زه وینم کال	۱۴۷
107	**نعت شریف** (٧٢)....محبوبه ته حبیب الله ئے	۱۴۹
108	**نعت شریف** (٧٣)....وایه سلامونه م	۱۵۰
109	**نعت شریف** (٧٤)....د جدائئ اور م بلیږی	۱۵۱
110	**نعت شریف** (٧٥)....ښکلے دِ رخسار دے	۱۵۳
111	**نعت شریف** (٧٦)....دا شین گنبد چه درته	۱۵۴
112	**نعت شریف** (٧٧)....دنمر غوندے په	۱۵۵
113	**نعت شریف** (٧٨)....زه قربان شمه ستا	۱۵۸
114	**نعت شریف** (٧٩)....سپین مخ والضحٰی	۱۵۹
115	**نعت شریف** (٨٠)....ښکلے دلبر خیرالابرار	۱۶۱
116	**نعت شریف** (٨١)....احسن الجمال ئے	۱۶۲
117	**نعت شریف** (٨٢)....بوځے مدینے ته مونږه	۱۶۳

Scanned with CamScanner

118	**نعت شریف** (۸۳) دے باندے گواه	۱۶۵
119	**نعت شریف** (۸٤) مخ د والضحی دے	۱۶۷
120	**نعت شریف** (۸۵) ستا په درگاه کښې	۱۶۸
121	**نعت شریف** (۸٦) په مرسلانو کښې	۱۶۹
122	**نعت شریف** (۷۸) راوریږی رحمتونه	۱۷۱
123	**نعت شریف** (۸۸) زۀ پرے شیدا ئیمه	۱۷۲
124	**نعت شریف** (۸۹) خیر دے عُمر کم زما	۱۷۳
125	**نعت شریف** (۹۰) دوست د رب العالمین	۱۷٤
126	**نعت شریف** (۹۱) راکړه دیدن یو ځلے	۱۷۵
127	**نعت شریف** (۹۲) نه دے د شمس وقمر	۱۷٦
128	**ماهِ رمضان** (۹۳) ماهِ رمضان دے	۱۷۸
129	**نعت شریف** (۹٤) مدینے ښاره ستا د مینے	۱۷۹
130	**نعت شریف** (۹۵) حبیب کبریا محبوب	۱۸۱
131	**نعت شریف** (۹٦) ہر درد کی دوا ہے	۱۸۲
132	**نعت شریف** (۹۷) خدائے به جنت ورکړی	۱۸٤
133	**نعت شریف** (۹۸) تاکښے پراته دی	۱۸۵
134	**رباعی** (۳۵) دکونینو د سرور	۱۸٦

Scanned with CamScanner

135	**رباعی** (۳۶) نن که دے دلته	۱۸۸
136	**رباعی** (۳۷) محمدنبی سردار	۱۸۹
137	**رباعی** (۳۸) بختورئے بختورئے	۱۹۰
138	**رباعی** (۳۹) که شداد خان له جوړ	۱۹۰
139	**رباعی** (۴۰) که سپرلے په ګلوشته	۱۹۱
140	**رباعی** (۴۱) ستاله غمه م زړګے	۱۹۳
141	**نعت شریف** (۹۹) بلالؓ خفه وؤ څکه	۱۹۴
142	**رباعی** (۴۲) چه بلے په محبت	۱۹۷
143	**نعت شریف** (۱۰۰) یا الله د پاک نبی	۱۹۸

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

Scanned with CamScanner

تعارف د مصنّف

فخرالشعراء مولانا ابوسعید ظفر گل خادم صیب

دا یو مسلم حقیقت دے چه مولانا ابوسعید ظفر گل خادم نوری سیفی صیب د څه تعارف محتاجه نه دے ولے چه څو مره ئے زۀ د نزدے نه پیژنم نوداسے ئے په هر کلی او په هر وطن کښے خاص اوعام او لوئے او واړۀ پیژنی . خوبیا هم زه دَ دوئی په حقله د خپل قلم چلول سعادت گنړم . خادم صیب په کال ۱۹۶۴ء کښے په دوئم تاریخ د دسمبر د میاشتے د عبدالرحمان بابا په چم او گاونډ کښے نزدے په مشهور کلی هزارخوانئ پیښور کښے په محلـه سدوزئی کښے د یو نیکے کورنئ د مشهور ے بزرگے هستئ د مولانا حاجی تازه گل مرحومؒ په کور کښے زیږدلے دے . ابتدائی تعلیم ئے تر اتم جماعت پورے د خپل کلی په مډل سکول هزار خوانئ کښے حاصل کړے دے . د شعر وشاعرئ سره ئے دوړکوالی نه ډیره مینه لرله او الله تعالیٰ ورله ډیر خوږ اواز ورکړے وو او ولے نه . چه والد محترم ئے خپله یو ډیر خوږ اواز ے مشهور نعت خوان وو . د شعروشاعرئ ابتداء ئے د پنځم جماعت نه کړے وه او په اتم جماعت کښے ئے سبق

وئیلو چه د اشعارو یو کتاب ئے په نوم د (غنچۀ حرم) سره حضورِ عام ته راوستے وو چه اوس هم د هغے یوه نسخه خادم صیب سره پرته ده دپیښور مشهور هائیرسکینډری سکول نمبر۱ پښور ښار کښے ترلسم جماعت پورے تعلیم اوکړو. د دے سره سره ئے دینی علوم وفنون د پیښورد جیّدوعلمائے کرامو نه حاصل کړل.

اولویه دورۀ حدیث ئے په جامعه غوثیۀ معینیۀ بیرون یکه توت پیښور کښے اوکړه او د هغے سره ئے د تنظیم المدارس لاهور نه دشهادة العالمیه سند هم حاصل کړو او بیا په کال ۱۹۸۲ء کښے ئے د یوے نیکے کورنئ سره رشته قائمه شوه اونکاح ئے اوشوه او د هغے په ذریعے سره الله پاك ورته ډیر نیکان عالمان او نعت خوان او شاعران برخوردران ورکړل. چه نومونه ئے دا دی مولانا شمس الاسلام ابن خادم (فاضل تنظیم المدارس) مولانا ضیاء الرحمن ابن خادم (فاضل تنظیم المدارس، ایم اے اسلامیات پشاوریونورسټی) مولانا رضوان الله ابن خادم (فاضل تنظیم المدارس) مولانا مصباح الله ابن خادم (تنظیم المدارس) او مولانا احمد الله ابن خادم.

چونکه خادم صیب محترم دوه وادونه کړی وو او د دوئمے بی بی نه ورته هم الله پاك دوه بچی یو ځوئے او یو لور

وركړل چه د څوئے نوم ئے سعيد الرحمن صيب دے څکه دخادم صيب اسم کُنيت ابوسعيد دے . په کال ۱۹۸۳ء کښے ئے د يو مشهور روحانی پيشوا مجدد دوران خواجهٔ خواجگان اخونزاده پيرسيف الرحمن پير ارچی خراسانی رحمة الله عليه په ارشادِ گرامی سره د حضرت سيدالسادات منبع الفيوض والبرکات پيرسيدنورعلی شاه الجيلانی د تاروجبے د صيب مبارك رحمة الله عليه په لاس مبارك د نقشبندئے سلسلے بيعت اوکړو . په سلوك کښے ئے د هغوئ د نگاه او شفقت په برکت سره د څلور واړو طريقو سبقونه پوره کړل او دحضرت اخونزاده پير ارچی مبارك په لاس مبارك دخلافت مطلق سند حاصل کړو اواجازت د بيعت ورکولوئے ورته هم اوکړو. چه اوس ئے الحمد لله په زرگونو مريدان دی او خدمت ئے هم جاری دے .

او په انقلاب روډ سوړيزئ پايان کښے ئے خپل يو(**دارالعلوم نوريه سيفيه**) جوړ کړے دے چه په هغے کښے تر شپږمے درجے دينی علوم وفنون خودلے شی او د حفظ او ناظرے زده کړه د علاقے بچوته کولے شی او د خادم صيب خپل ځامن پکښے هم مدرسين دی . په کال ۱۹۸۴ء کښے د تيله بند مډل سکول کښے د اسلاميات استاد

مقرر کړے شو درے نیم کاله پس د عربئ عهدے ته واورېدو. او د هزار خوانی په هائی سکول کښے یو کال د قوم بچو ته د عربئ تعلیم ورکړو بیا څه وخت پس د پېښور هم هغه نمبر۱ سکول ته چه کوم سکول کښے ئے په خپله تر لسم جماعت پورے سبق وئیلے وو بدلی ئے اوشوه اوشپږویشت کاله ئے په هغه یو سکول کښے د قوم بچوته دعربئ ژبے خودنه کوله او ډیر قابلان بچی ترینه مستفید شواو د استاذئ په دوران کښے ئے د دولسم، څوارلسم او ایم اے اسلامیات ډګریانے حاصلے کړے او د اکوړه خټک د مشهورے مدرسے جامعه اسلامیه (باچاګل صاحب مرحومؒ) نه دمولانا احسان الله جان قادری صیب مرحومؒ په قیادت کښے هم سند حاصل کړو. د شعروشاعرئ په لړ کښے خادم صیب محترم یو بېل مهارت او مقام لری چه د حضرت اخونزاده پیرارچیؒ په خُلے مبارکے سره ورته د رئیس الشعراء خطاب ملاؤ شوے وو ځکه خوپه نعت او منقبت کښے ئے مثال نشته او ځکه خو د وخت مشهور شاعرانو لکه هدایت شاه سائل مرحوم، افتخار خادم شهید، مقبلی جان ناصح، عاجز سجاد، الحاج ډاکټر لطیف الله سیفی او کامل بادشاه وغیره صاحبانو د خپلو کتابونو تصحیح د خادم صیب محترم

Scanned with CamScanner

په لاس بانده کړې ده . د ټول خیبر پښتونخوا نامور او مشهور نعت خوانان د دوئ نعتیه کلام په لویو لویو محافلو د میلاد شریف کښې وائی .

او پخپله هم د خادم صیب داواز نعت خوانی د دُنیا په هر یو اسلامی ملك کښې عاشقان په ډیره مینه بانده اوری او د هغوئ زړونه او د نیکئ محفلونه پرے منور او روښانه دی . او الله رب کریم دِ د ټولو مشائخو په طفیل د دوئ په علم او عمل کښې نور برکت هم واچوی . دَ دے سره سره د حکمت په لړ کښې یو مشهور حکیم هم دے چه د ګلُ دواخانے په نوم بانده د خپلے مدرسے سره خوا کښے د مریضانو روحانی او جسمانی علاج کوی او د طالبانو د سهولت دپاره د مدرسے سره خوا کښے د کتابونو دکان (مکتبة الخادمیه) هم لری . او د مشائخو په نظرِ کرم سره هر کال کښے دوه ځلے د خپلو خوږو ملګرو د حاجی هاشم خان ، حاجی نختر خان او حاجی عرب شاه سره د حرمینو شریفینو دیدار ته ئے اللہپاك او محبوب صاحب لولاك ﷺ غواړی او په واپسئ کښے ئے په ریاض سعودی عرب کښے جناب ډاکټر الحاج لطیف الله سیفی صیب او مولانا عمرعلی سیفی صیب ډیر خدمت کوی او د هغه ځائے نه ئے پاکستان ته رخصت کوی . ما

عاجز حبیب الله حبیب د خادم صیب مبارك دا مختصر غوندے تعارف ستاسو د وړاندے اولیکلو الله رب العزت د خادم صیب مبارك ته عمرِ د رازوړ کړی . او د هغوئ په علم و عمل او ژوند کښے نور هم برکت واچوی اوزما دا سعی دِ الله رب کریم په خپل دربار ربوبیت او د نبی پاك ﷺ په دربار رسالت کښے قبوله او منظوره کړی

(آمین یا رب العالمین)

له طرفه : د قاری حبیب الله حبیب سیفی رحمانی

نیټه : ٢٦ فروری،٢٠١٨ ورځ دوشنبه (پیر)

بمطابق١١ جمادی الثانی،١٤٣٩ هجری

❁❁❁❁❁

ذکر باری تعالیٰ

لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ

رب تـه ګران دے هر چانـه محمد رسول اللّٰہُ

لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ

درے سوه کالونه ئے الله پاك ته ژړا اوکړه

بیائے د محبوب په وسیلے سره دعا اوکړه

رب درخواست قبول کړو دبابا آدم صفی الله

لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ

پاس نه وے اوبۀ لاندے اوبۀ نوے مصیبت وؤ

دا م د محبوبِ مدنی تول برکت وؤ

بچ چۀ د طوفان نه کشتئ شوه دنوح نبی الله

لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ

نُور چه د محبوبِ لایزال ئے په تندوکښے وؤ

څه اوشو که پروت دنمرودیانو په لمبو کښے وؤ

بچ شو دلمبو نه ابراهیم حضرت خلیل الله

لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ

غرق شولو لښکر دفرعونیانو رودِ نیل کښے

شور غوغا شوه ګډه پۀ لښکر دعزازیل کښے

تیرشو رودِ نیل نه سلامت موسیٰ کلیم الله

لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ لَا اِلٰہَ اِلاَّ اللّٰہُ

مانه را روان دے روستو ښکلے نوم احمدلری
دے دَ رب حبیب عاشق په مخ الله صمد لری
دا وینا کوله قوم ته حضرت عیسٰی روح الله
لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ لَا اِلٰـهَ اِلاَّ اللهُ

میاشت وه د ربیع الاول ښکلے ورځ د پیر وه
وائی ظفر ګل خادم رنړا ئے عالمګیر وه
شو تشریف فرما محبوب په کور د والد عبداللهؓ
لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ

❁❁❁❁❁

رباعی (۱)

په مونږ رحم اوکړے وائے چه رحمان یمه
سوال لتا کومه ځکه چه انسان یم
ستا دکُن په امر هر څۀ فیکون شی
کرشمو د قدرتونو ته حیران یمه

په خپل وخت سره بهار خوشحالی راوړی
هم لیدونکے په خپل وخت کښے د خزان یمه
سرکشان دِ سرد لاندے راګزار کړل
چا چه ویلے چه فرعون یمه هامان یمه

ډیر طامع یمه کریمه ستا کرم ته
غورزولے په ګناه کښے نفس شیطان یم

ماخاآدم ظفرګل خپل قهر نه بچ کړه
که هرڅو مره بدعمل او نافرمان یم

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۲)

دانه ویم چه ملك او دانسان نه تپوس اوکړه
د یارد مبارك شان د قران نه تپوس اوکړه

عاشق چه وفا داروی معشوقه هم وفاداره
د دے رمز دپاك غني سبحان نه تپوس اوکړه

مزه هله پیداشي چه د زلفو تار کښے ګیر شي
که شك دِوی صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ نه تپوس اوکړه

کوم حق دغلامئ چه ادا کړے عاشقانو
رازه ابو طلحهؓ او دسلمانؓ نه تپوس اوکړه

یاسید الساداتِ و یا صاحبَ الجمال
عزیزؒ او دجامیؒ او د نعمانؒ نه تپوس اوکړه

که وائے چه نعتونه د حضور په وخت کښے نۀ وُو
ساده لږ خود حضرت حسانؓ نه تپوس اوکړه

Scanned with CamScanner

محبوبؐ چه پکښې اوسی ځکه زمکه ده خوشحاله
خفه سر په زنګون دے د آسمان نه تپوس اوکړه
دنیٰ فتدلّٰی او هم د قاب او د قوسین
د راز او ناز او عشق دلامکان نه تپوس اوکړه
خادمه ظفرګله که منزل قطع کول غواړے
دخپل پیر او مرشد سیف الرحمٰنؒ نه تپوس اوکړه

❁❁❁❁❁

رباعی (۲)

په خوبانو کښې والله ستا په شان نشته
بل محبوب داسے په زمکه اسمان نشته
د ارفع او داعلیٰ مقام خاوند ئے
عزت مند داسے په در د سبحان نشته
نه دِ مثل شو پیدا نورانیت کښے
هم دنیا کښې ستا په مثل انسان نشته
پاك الله دِ ستا دمینے دولت راکړی
ستا په مینه کښې فائده ده تاوان نشته
د ذرے قدر چۀ ستا بے ادبی کړی
دغه فردله دوزخ شته دے حوران نشته

چه دا ستا د غلامیٔ په رنگ کښے رنگ شی
هیڅ پروائے بیا د نفس او شیطان نشته

ظفر گل خادم لمنے لاندے گیر کړه
هیڅ تونښه ئے د محشر دمیدان نشته

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳)

یا محمد مصطفیٰ ؐ شیدا په مخ سبحان لرے
والضحیٰ واللیل اذا یغشیٰ ښکلی زلفان لرے

ستا په مخ شیدا دے پاك اله العالمین ګُله
تورے روزے تور بانړه او تور ښکلی چشمان لرے

واړه انبیاء دِ مقتدیان په مقدس کښے شول
ښکلے مبارك قدم بالا په هر اسمان لرے

راز دپاك الله سره موسیٰ په کوه طور کړے
ته د پاك الله سره دیدار په لامکان لرے

واړه اصحاب محبوبه ستا په شان دستورودی
غوره پکښے خاص صدیقؓ عمرؓ علیؓ عثمانؓ لرے

نه به وه دُنیا رب پیدا کړے که مخ ستا نه وے
سپین بشر ته لاندے دجنت حوروغلمان لرے

مۀ خوره غم د شپې ورځې خادمه ظفر گله ته
دا دِ نیك نصیب گڼړه مرشدلوئې پهلوان لرے

❁❁❁❁❁

رباعی (۳)

نمبر اوړے دے دنمر نه جمال ستا
سلامی کوی جلوے د هلال ستا
بشکته پورته عالم تول ورته حیران دے
نصیب کړے چه مولیٰ دے کمال ستا

ستا دمخ عاشق به څنگه په اور سوزی
چه اور نه سیزی د لاسو رومال ستا
هغو دواړه جهان اوگټل قسم دے
چه حاصل شولو کوم کس ته وصال ستا

کال په کال ترقی روحانی مومی
چه دیدن کړی د حرم کال په کال ستا
په دُنیا به شی لائق د جنتونو
چه عمل اوکړی په قیل اوپه قال ستا

د دارینو خوشحالئ ترے نه قربان شه
چه په مینه کښې گرځیږی ملال ستا

صفتونه به ئے د عرش په منارو شی
په دربار کښے چه خپل ځان کړی پائمال ستا

خدائیګو رنګ ئے په هر رنګ باندے غالب شو
چه حاصله غلامی کړه بلالؓ ستا

زۀ په کوم زبان د رب شکر ادا کړم
چه منګل په سر لرمه د اٰل ستا

دخادم ظفرګل دا خوش قسمتی ده
چه په مخ باندے سیزی پرو بال ستا

❁❁❁❁❁

نعت شریف (٤)

جهان دے تول حیران په کمالِ محمدیؐ
الله کړے قسم په جمالِ محمدیؐ

صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ او څلورم علی حیدرؓ
څلور واړه یاران دی جلالِ محمدیؐ

که اوګورے خوبان د جهان هسے به شے ستړے
پیدا به چرته نه کړے مثالِ محمدیؐ

شاهان دِ تمامی د هغه کس بخت ته لوګے شی
نصیب شی چه کوم کس ته وصالِ محمدیؐ

نسبت د ورسره الله ځمونږ لري قائم
والله که په اور سوزی رومال محمدیؐ
سپوږمۍ او نمر د شرمه ترے مخ پټ کړو په حجاب کښے
بشر چه رانښکاره شو هلالِ محمدیؐ
زهٔ پاتے شم اولاړے قافلے شی دیار درته
قدم په قدم ځانګم په تالِ محمدیؐ
خادم ظفرګل ځکه د الله شکر ګزار یم
هر وخت چه راسره وی خیالِ محمدیؐ
الله کړے قسم په جمالِ محمدی

❀❀❀❀❀

رباعی (٤)

زهٔ چه ستا په مزین رخسار شیدا شوم
بیګانه له دِ دنیا وما فیها شوم
بادشاهی م حقیقت کښے کړه حاصله
کومے ورځے نه چه ستا د درګدا شوم
که بغیر ستا خوښے خپله خوښه اوکړم
دا منمه دا منمه چه خطا شوم
ظاهری او باطنی امراض م جوړشول
زهٔ چه پیښ په داسے ښکلی مسیحا شوم

Scanned with CamScanner

په يوه نګاه ئے حال زالــه بدل کړو
زير حيران د پير ارچي ګل په نګاه شوم
ظفر ګل د رب احسان هيرولے نشم
چه مريد جوړ د سيد نورعلی شاهؒ شوم

❁❁❁❁❁

نعت شريف (۵)

په خپله کړی صفت غنی سبحان د محمد ﷺ
کړی وصف په هر ځائے باندے قران د محمدؐ
محشر به پرے اختر شی په تکليف به پوهه نه شی
په چا کــه برابر شولو چشمان د محمدؐ
بيا لاس او خپے راټول کړی د دنيا له کاروباره
هر خوك چه شی ماړه په دسترخوان د محمدؐ
چه اسم مبارك اوری درود وربانــدے وائـی
په لوئے او په وړوکی دے احسان د محمدؐ
بيا څنګه به ئے چهره شی په لحد کښے ترے غلطه
چه کړے ئے دنيا کښے وی عرفان د محمدؐ
چه عقل د انسان ورته حيران ګوته په خُله دے
الله دے پورته کړے هغه شان د محمدؐ

پـــه آل ئـــې درود وایـــه د ســـاداتـو کـوه قـدر
دا روح د مـحـمـد دې دغــه ځـان د مـحـمدؐ

د زمکـې پـه سـر اوګـوره شـاهـان ئـې غلامان شول
چـه کـلــه غـلامــان شـولـو یـاران د مـحـمدؐ

خـادمـه ظـفرکـلـه دا د فخر لوړ مقام دې
کـه ښـکـل دِ کړل په سر ستر ګو سګان د محمدؐ
کړی وصف په هر ځائې باندې قران د محمدؐ

❁❁❁❁❁

رباعی (۵)

تـه لـه ورایـه چـه پـه نـاز او پـه ادا شوې
د جـنـت حـورانـې سـر پـه حبذا شوې

خیـردې بیا دِ لـولپـه شم د عشـق اور کښـې
کـــه دمـخ نـــه زلـفــې لـرې د آقـاً شوې

درپـــه درلـوغـړن خـوښ یـم پـه میـرو کښـې
کـه یـو ځـل رانـما سـترګـې د لیـلیٰ شـوې

د کـنـعـان کـوهـی کـښـې شاه یوسفؑ بندی وؤ
د هـجـران تُـورې یـعـقـوبؑ بانـدې رسا شوې

Scanned with CamScanner

چـه قـاصـد د زیـری مـصـر نـه روان شو
د خبر نه مخکښې سترګې ئې بینا شوې

اې عـاشـقـه عـاشقـی د زړګـی رنځ دے
په دے لار د ډیر اسُونو خپې خطا شوې

مـدعـی پـه نـاخبـره خُلـه دعـوے کـړی
د خبـر خبـر نـامـے کـلـه پـه شـا شوې

همیشـه پـه بـارانـۀ اوچ بـوټی تـانـد وی
د ګـریـوان د شتـے م تـانـدے پـه ژړاشـوې

چـه مـحبـوب م لـه رخسـارنـه نقاب لـر کـړو
د کـفـران تیـارے بـدلـے پـه رنـړا شوې

چـه لـه بـابِ فلك تیـرشو هـرملك نـه
صـدا ګـانـے پـرے یـودم د مـرحبـا شوې

بـختـورئـے اے خـادمـه ظـفـرګـلـه
چه مرید جوړ دسید نورعلی شاهؒ شوې

❁❁❁❁❁

Scanned with CamScanner

نعت شریف (٦)

بـل دمینـے اوړم پـه سینـه کښـې دے
سیـد البشـر پـه مـدینـه کښـې دے

سـتـرګـو نـه ظـاهـر کښـې خو پناه ښکاری
مـخ تـه م د زړه پـه آئیـنـه کښـې دے

مونږ کښـې عشق د پاك نبی سرور دے پروت
عشق کـه د فـرهـاد پـه شیـرینه کښـې دے

لـعـل دبـدخشـان بـه تـرے قـربـان کـړمـه
داسـے غـمـے کـومـه خزینـه کښـې دے

اوښکو م ګـریـوان کښـې جوړ دریـاب کـړلو
زړهٔ م نـاسـت د عشـق پـه سفینـه کښـې دے

نـورے میـاشتـے لانـدے تـرے نـه دی والله
شـوے چـه پـه کـومـه مهینـه کښـې دے

شـو تشـریف فـرمـا چـه راهـنمـا د دیـن
ځکـه خـو شیـطان نـاست پـه کینه کښـې دے

ځـوك چـه ئـے جلال کـمـال نـه دی منـکـر
بـغـض د محبوب دے کـمینـه کښـې دے

Scanned with CamScanner

شه ترے لوګے مشك عطر فُليل عنبر
کوم شان م د ګل په سپینه کښې دے
غوره ترے ده ښځه په محبوب شيدا
دين چه ختم کوم يو نارينه کښې دے
زه ظفر ګل زار له خپل مرشد نه شم
وصف ئے اشعارو رنګينه کښې دے
سيد البشر په مدينه کښې دے

❁❁❁❁❁

رباعی (٦)

عاشقه ورشه مدينے ته ځما يار اوګوره
د هر وطن د عاشقانو پرے قطار اوګوره
که ورکوے زړۀ ته آرام کړه په سر اوتړه
څه مسافر د محبت شه خپل وقار اوګوره
د مدينے په هغه دشت وبيان کښے ګرځه
خپے په ازغو کيږده ګلونه د بهار اوګوره
زړۀ نے بيابه نه کړې واپس د خپل وطن په لورى
ته هم روان شه خوږ محبوبؐ د کرديګار اوګوره

چه پاك رسول هجرت کړو صدیقؓ اکبر ورسره
د قدم لار د پاك نبيؐ خیرالابرار اوګوره

هغه دښتونه او میرې چه ښکلا کانې لري
مشك و عنبر ترینه زار هغه ګرد غبار اوګوره

چه له اسمان نه پرې راځي د رحمتونو باران
دشین ګنبد سره په خواکښې لوړ مینار اوګوره

دا چه محبوب ته او صدیقؓ عمرؓ ته کړي سلامي
د عاشقانو په مخ اوښکې ځي باربار اوګوره

اې ظفرګل خادمه هلته که خادم پاتې شوې
بیا په برزخ کښې دِ د خپل عشق اقتدار اوګوره

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۷)

ذات دِ مبارك دې هم روضه دِ مبارکه ده
یا محبوبه تابانده دنیا ټوله عاشقه ده

کیږي صفتونه پکښې چوبیس ګهنټې ستا دمخ
عرش معلیٰ دې که آسمان دې اوکه زمکه ده

رب په سپین بشر بانده شیدا لرې د زړه سره
پورته مرتبه دِ په تمام جهان کښې ځکه ده

Scanned with CamScanner

ستا ځــن م اوتــلــه د نــمــراو دسپوږمۍ سـره

ستا وړاندے دنمـر اوسـپوږمۍ تله ډیره سپکه ده

ګـوتـے د یـوسف پـه خـائـسـت بیلودے د مصـرزن

تابانـدے خدائـی قـربـان مـغـرب نـه تر مشرقـه ده

کـوم زړۀ کښـے چـه نشتـه د الله مـحبوبه ستامینه

دا سینــه مـحـرومـه لـه ایمـان څـنـے بیشکـه ده

نـه لـرم نسبـت د بلـے ډلـے سره ظفرګل

تـل م پـه امـام بُـو حنیـفه عقیده کلکـه ده

یـا مـحبـوبـه تـابانـدے دنـیـا تـوله عاشقه ده

❁❁❁❁❁

رباعی (۷)

اے د مـکـے او مـدیـنـے ډیـر نـامـور حبیبـهؒ

رخسـارخائستـه لرے والله چه زیات له نمر حبیبهؒ

بتـان راپـویـوتـل نسـکـور پـه بیت الله شریف کښے

د ګُـل پـه ورځ بـانـدے چـه تـه شوے جلوه ګر حبیبـهؒ

داخو څلورګُوتـه دنیـا کښـے ستـا د مخ جلوے دی

ګـنـے مـوجـود وۀ لـه پـخـوا شـمـس وقـمـر حبیبـهؒ

شپه د معراج کښې شوے امام د مرسلانو تولو
دا دعزت تاج کړو مولی تاته په سر حبيبهٔ

ترلامکانه پورے لاړے بيا واپس ترے راغلے
د تلوراتلو وخت د ډير زيات وو مختصر حبيبهٔ

په لوړو تندوئے پروانه وه لتا قربان وو
الله درکړے درلـه وو داسے لښکر حبيبهٔ

اگرکه تور وو خودا ستاپه مخ عاشق وو بلالؓ
د ډيرو سپينونه ئے اوړے دے نمبر حبيبهٔ

چۀ ستا فرمان ئے په سر سترګو باندے نه کړو قبول
خاورے په سر شوے د کسرئ او د قيصر حبيبهٔ

چۀ ستادمخ صفت کولو به حسانؓ او کعبؓ
ورته دے اوکړه دعا ورد کړو ثنادر حبيبهٔ

چا چه دا ستا شان کښے ذره بے ادبی کړے ده
مونږ دی ليدلی سروهلی درپه در حبيبهٔ

چه سخته ورځ شی دقيامت نمر نيزه وارشی پکښے
راکړه په هغه سخته ورځ جام د کوثر حبيبهٔ

زۀ ظفرګل خادم به خلاص شم له همه سختونه
لاس د کرم که راله راکړے په محشر حبيبهٔ

نعت شریف (۸)

محبوبه موصوف په یسین په طٰه ئے
جمال او کمال کښے هر چانه یکتا ئے

مسجود د ملکو صورت د آدم کښے
رحمت ئے آدم له شیطان له سزا ئے

دا ستا سو طُفیل دے ظهور د دا رښو
باعث د تخلیق د مخلوق خُدا ئے

ئے فخرِ خلیلؑ هم ئے فخرِ موسیٰؑ ته
هم دا رنګ بشارت د حضرت عیسیٰؑ ئے

تمام انبیاء مرسلان تا پسے وړ
امام الرُسُل امام الانبیاء ئے

مقرب استاذ دے د رب جبرائیلؑ
شو پاتے ته تیر له مقام منتهیٰ ئے

تړے به کمربند شفاعت د پاره
شفیع د امت به په یوم الجزا ئے

میدان د محشر کښے چه ته رونما شے
الله به رضا شی خاوند د رضا ئے

امت به روان کړے دوزخ نه جنت ته
خاوند د قدرت او اختیار من الله ئے
خادم ظفر ګله نظر د حبیبؐ دے
خادم چه د پیر سید نورعلی شاهؒ ئے
جمال او کمال کښے هرچانه یکتا ئے

❁❁❁❁❁

رباعی (۸)

زۀ د یار په محبت کښے دیوانه شوم
د پردو خپلو نه ځکه بیګانه شوم
د دُنیا مزے مِ ټولے فراموش کړے
چه مخمور د محبت په میخانه شوم
چه د یار د ښکلی مخ شمع بلیږی
زړۀ او روح وربانده سیزم پروانه شوم
زړۀ مِ سیل د باغیچے د تاروغواړی
چه شروع د هو الله په ترانه شوم
ستا دَ حُسن د کتاب مطالعه کړم
په څلوردانګه عالم کښے مستانه شوم

د جهـان د نـعـمتـونـو نـه ورتـیـریـم
مـشـرف کـه پـه دیـدار شـاهـانـه شـوم

ظـفـر گـل خادم وئی دا درب احـسـان دے
سـرنـه خپـو پـورے محبوب ته نزرانه شـوم

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۹)

قـسـم دے چـه مـحـبـوبـه ئـے محبوبِ سبحانی
شـه سـرومـال م دواړه ستـا د مخ نـه قـربـانـی

پـه والـضـحـی والـیـل اذا سجی شو ے قسم دے
د وصف نـه دِ ډك دی ایـاتـونـه قـرانـی

صدیقؓ عمرؓ علیؓ خودرنه خپل ځانونه زار کړل
یـادیـری مِ لتـاسـره خـویـونـه عثمـانـیؓ

یوسف دکنعان ستا حُسن نه مخ پټ کړونقاب کښے
کـړی شمـس وقـمـردواړه ستاجمال ته حیرانی

چه کله نه دِ غابن مبارك كړو شهید اُحدکښے
کـړل ختـم دِ دنـیـا کښـے مـحـلـونـه شیـطـانـی

وۀ تـول پـیـغـمـبـران مبشـریـن سـتـا د راتـلـو
هـم واړه سـتـا دیـدن تـه وۀ د عـمـرارمـانـی

دیدن د ورله ورکړلو په بیت المقدس کښې
بیا اودکړوله هغه ځائې سفر آسماني
دیدن د خدائې د پاره ظفرګل خادم له ورکړه
سور اور دے که وطن دے نن په دۀ هزارخواني
شه سروما ل م دواړه ستا د مخ نه قرباني

۞۞۞۞۞

رباعی (۹)

زما زړۀ بانده غمونه که انبار دی
دا د بل چا یاد کښې نه دی بس دیار دی
یو زۀ نه یمۀ چه د خپل جانان منت کړم
شاهان لوئے لوئے د جهان ئے منت بار دی
که دیار د لوری یو خبر ئے راوړو
په لکهونو احسانونه د ربار دی
چه دیار په خواکښې نه یمۀ خزان شی
ورځے شپے دیار په خواکښې د بهار دی
چه ئے زړۀ کښې داغ دیار د مینے نه وی
نه وررسی ، رسی هغه چه داغدار دی

داسے نشته په دارینو کښے د بل چا
چه محبوب ته رب ورکړی یاران چار دی

دا د لوئے الله خائسته مهربانی ده
چه د یار یاد کښے په مخ اوښکے قطار دی

ظفر ګل خادمه بدو نه کنار شه
د هغو سره همراه شه چه دیندار دی

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۰)

ارمان دے چه مکه کښے وے کعبے سره نزدے
هم ویلے م سلام ستاسو روضے سره نزدے

د خدائے حرمِ پاك نه م کولے طوافونه
هم څښلے م زمزم هغه چینے سره نزدے

هم سعی م کولے په صفا او په مروه کښے
وقوف په عرفات وے د نمرے سره نزدے

چه لاړے عرفات نه شپے له مشعرالحرام ته
سحر منیٰ نه تلے مزدلفے سره نزدے

سینه به یخه شوے وے په رمی د جمار
چه کولے م ګزار هرے جمرے سره نزدے

لبیك اللهم لبیك وې زمونږ په ژبو
په خُله م وې ژړا هرې نعرې سره نزدې

فضاء دمدینې منورې خومره خانسته ده
ورد روحي قافلې لونې اسرې سره نزدې

پُرکیفه نظارې دی شین گنبد پلهٔ چه گورم
د جنت البقیع د مقبرې سره نزدې

په باب السلام ورغلې دخپل محبوب سلام له
ولاړ وې تیتې سترگې د جنگلې سره نزدې

شراب دمحبت م د زړه جام کښې نوش کولې
لیدلې تجلې م منارې سره نزدې

چه ریاض الجنت نه غم زپلې ور روان شم
لگولې غلافونه م سینې سره نزدې

خادم ظفر گل وئې کله حضورؐ کله مرشد ته
کتې م د جبریلؑ د دروازې سره نزدې
هم وېلې م سلام ستاسو روضې سره نزدې

❁❁❁❁❁

رباعی (۱۰)

روضه ښکلے دآقا ده مدینه کښے
د زخمی زړونو دوا ده مدینه کښے

منورئے کړل څلور واړه اطرافه
د محبوب دمخ رڼرا ده مدینه کښے

عاشقان ورله وردرومی دهر لوری
ورته شوے مرحبا ده مدینه کښے

چه دهر چانه زیاتے اوشی حاضر شی
معاف شوے ئے ګناه ده مدینه کښے

د صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ جلوے خورے دی
ښکلے فاطمه زهرا ده مدینه کښے

سترګے تیتے په ادب کښے ګرزیدل دی
خاموشی وشوق ژړا ده مدینه کښے

وؤ یثرب دبیمارو ښار یادیدلو
اوس ئے ګرد غبار شفا ده مدینه کښے

د دنیا نظام روان په وسیلو دے
وسیله څما او ستا ده مدینه کښے

Scanned with CamScanner

نــه ردکیـــږی پـــه یـقـیـن سـره قبـلیـــږی
چــه هـرچـا کـړے دُعــا ده مـدیـنـه کـنبـے

ظـفـرګـل خـادمـه ډیـر شـاکـر د رب شــه
حـاضـری چـه کـړے تـا ده مدینه کـنبـے

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۱)

بـادشـاه بـه اوګـنـړم د ځـان نـه کم رسول اللهؐ
پـه کـومـه ورځ چـه تـاسولـه درځم رسول اللهؐ

بادشـاه د زمـانـے بـه حیـرانیـږی ځما بخت تـه
بیـا سترګـے م نیولی دی محبوب هغه وخت تـه

پـه مـخ بانـدے م ځی اوښکـے شبنم رسول اللهؐ

بیـا نـه بـه ورځ وی نـه به شپه وی تاله چه درځمه
رقیـب بـه راتـه سوزی زۀ بـه ستا صفت کومـه

کــه اودِکـړو پـــه مــا نـظـرِ کـرم رسـول اللهؐ

دولـت کـه د دنیـا ځوک په بدله کـنبـے راله راکړی
والله کـه ورلـه ورکـړم نـه بـه مـاپدے خطا کړی

ستـا مینه به په خپـل زړۀ کـنبـے سـاتم رسول اللهؐ

په زړهٔ کښې د حرم نه به جزبې ځان سره واخلم
ګلونه به چمن نه د مکې ځان سره واخلم
په خواکښې د روضې به نې شیندم رسول اللهؐ

شفا د مدینې خاوره د هرې بیمارئ ده
چه هم لرې کونکې د زحمت او د خوارئ ده
دا خاوره به په سترګو لګوم رسول اللهؐ

والاړ به درسره ئمه په ریاض الجنت کښې
جالئ ته مخامخ په ډیره مینه محبت کښې
صلوة سلام به وی ځما په فم رسول اللهؐ

راغلې په ادب چه ورتهٔ جبرائیلؑ امین دے
خائسته د مدینې منورې هغه زمین دے
قربان به ترې نه کړم وطن عجم رسول اللهؐ

په کوم مبارک ځائے چهٔ ایښی تاسو قدمونه
لانق د ډیر تحسین دی د حجاز هغه ګردونه
په شونډو به دا خاورې ښکلوم رسول اللهؐ

خادم ظفر ګل وائی د مرشد په دعاګانو
بیا خاورې به ټولوم دخپلو سترګو په مژګانو
که خدائے کړمه خادم ستا دحرم رسول اللهؐ
په کومه ورځ چه تاسو له درځم رسول اللهؐ

رباعی (۱۱)

وے نعرے دانا الحق په دار د چا
سرے لنبے سکرو تے شوے گلزار د چا
چا خپل پلار ته وے چه شابه تادی اوکړه
چرے اوکړو په مرئی انکار د چا

چۀ له غمه ئے نظر د ستر گو لاړو
شو کوهی ته خوږ فرزند گزار د چا
اره شوے د خپل یار په عشق کښے ځوك دے
بیماری کړلو بدن بیکار د چا

د کب گیډه کښے شپے چا دی تیرے کړے
په دریاب وه جوړه شوے لار د چا
ځوك ژوندے په ځلورم اسمان کښے اوسی
په امت کښے به شی وایه شمار د چا

د چا غاښ مبارك شو شهید اُحد کښے
دوه دیرش غاښه شو جانان نه زار د چا
پنړے وینو نه د چادی ډکے شوے
په شیرین بشر دے شوے وار د چا

ظفر گل خادمه هر چا ته معلوم دی
مخامخ رب سره وؤ دیدار د چا

نعت شریف (۱۲)

رنړا د نمر د نور ته د رخسار کله رسیږی
یارانو ته د هم د بل چا یار کله رسیږی

سودا چه کومه کیږی ستا دمینے په بازار کښے
دنیا کښے ورته بل قسم بازار کله رسیږی

خوشبو ستا د زلفانو ده په مشکو هم غالبه
خوشبو ورته دګلو دبهار کله رسیږی

مسکا ستا کښے پرته ده تسلی دعاشقانو
بے تا نه ئے قلوبو ته قرار کله رسیږی

ډیر کم وخت کښے دِ طے کړلو سفر دلامکان
رفتار ته دِ دَ برق نه تیز رفتار کله رسیږی

تاجونه د شاهانو امیرانو ترے نه زار شه
شاهان دِ تمام ګرد ته د پیزار کله رسیږی

محبوبه په دربار کښے دِ ژړا د عاشقانو
بلبل ورته چمن کښے په چغار کله رسیږی

امت سره چه کومه مینه ده ستاسو په زړهٔ کښے
هغے مینے ته مینه د مور پلار کله رسیږی

چه څوک ستاسو لمنه د سر چتهر انتخاب کړی
لاسو نه ورته دواړه د اغیار کله رسیږی
خادم ظفر ګل فخر کړی چه ستا د آل خادم شو
مقصود ته بے له دے لار په بل لار کله رسیږی
یارانو ته دِ هم د بل چا یار کله رسیږی

❁❁❁❁❁

رباعی (۱۲)

سخته ورځ چه شی اے روره د قیامت
په هر چا باندے به ډیر راشی هیبت
په نفسی نفسی به تول پیغمبران وی
خلق به ګرځی په طلب د شفاعت
هر نبی به ورته وائی په جواب کښے
زما نشته د ورتللو څه طاقت
خلق به تول راشی عیسیٰ علیه السلام له
ورته اوبه وائی کل واړه حالت
د الله رسوله مونږه چا له لاړ شو
چه د خدائے په درکښے اوکاندی منت
بیا عیسی علیه السلام به ورته وائی
زه درښایمه یو در د مرحمت

د حضور علیه السلام دربار له لاړ شي
دا مشکل به موشي حل په دا ساعت

خلق ټول به د حضورؐ دربار ته راشي
وي خراب به د دې ټولو طبیعت

پاك رسولؐ ته به زاري منت شروع کړي
پاك رسولؐ به شي له خپل ځایه اوچت

کمربند د شفاعت به ملانه تاؤ کړي
ورروان به شي د دوؤ کونو حضرت

په مقام محمود کښې سر به سجده شي
یو سجده به وي د یو هفتې مدت

اِرفَعْ رأسَكَ به رب ورته فرمائي
د سل تعطه به جاري شي هدایت

شَفِع تُشَفَّع به زیرې ورته راشي
شفاعت کوه دې تاته اجازت

شفاعت به د الله په درکښې اوکړي
څومره ډیر دې مهربانه په اُمت

ظفرگل خادم او ټولو له شفیع شه
د خواجه سیف الرحمنؒ په برکت

نعت شریف (۱۳)

ثانی ستا دکونینو په کشورکښې نشته دے
داستا هومره خائست شمس وقمرکښې نشته دے

الله درکړلو تاله دومره لوئے اوچت مقام
چه مثل دِ په واړه بحروبر کښې نشته دے

په تاسو کښې موجود دی خوبیانے د کونینو
دا وصف ګله بل یو پیغمبرؑ کښې نشته دے

خطا لرمه ځان کښې د مدد د پاره راشه
شفیع بغیر لتا مو په محشرکښې نشته دے

بے حده شرمنده یَم رب دپاره اوکره خیال
نیکی ځما د جرم په دفتر کښې نشته دے

عیبونه په زرګونو په بدن دظفرګل دی
کمے دِ دَ زرهٔ سره په لوئے در کښې نشته دے
داستا هومره خائست شمس وقمرکښې نشته دے

❀❀❀❀❀

رباعی (۱۳)

د حضورؐ ښکلی عظمت ته په سلام ئم
هم د مخ نورانیت ته په سلام ئم
د یو لاکه څلیرشیت زره انبیاءؑ
په اقصیٰ کښې امامت ته په سلام ئم

په حضورؐ چه دخپل مال وسر نه تیر وؤ
د صدیقؓ صیب صداقت ته په سلام ئم
چه دښمن ئې هم قائل په عدالت وؤ
د عمرؓ صیب عدالت ته په سلام ئم

څو څو واره ئې جنت په بیعه واخست
د عثمانؓ صیب سخاوت ته په سلام ئمٔ
چه کفار ئې د نامې نه په لړزان وؤ
د علیؓ صیب شجاعت ته په سلام ئم

چه شهید شو په میدان د کربلا کښې
د حُسینؓ صیب شهادت ته په سلام ئم
بیا په تیره ئې د کُنډو یتیمانو
تحمل استقامت ته په سلام ئم

د څلور وارو مذهبوئم منونکې
خو مسلكِ حنفیت ته په سلام ئم

Scanned with CamScanner

د خلورو طریقو د بزرګانو
شریعت او طریقت ته په سلام ئم
نورو دلونه م سل ځلې توبه ده
اهل سنت جماعت ته په سلام ئم
د خواجه سیف الرحمنؒ د نوم نه زار شم
زۀ ئې مقام عبدیت ته په سلام ئم
د سید نور علی شاه د در غلام ئم
د دوئ هر یو کرامت ته په سلام ئم
ظفر ګل خادم چه چا برکتی کړم
د هغوی لوئې برکت ته په سلام ئم

❁❁❁❁❁

نعت شریف (١٤)

حیران ئم انتظار ته ډیر خلق ځی راځی
والله مدینې ښار ته ډیر خلق ځی راځی
زۀ کم نصیب ګر ځمه دلته د عجم په زمین
د هجر اور دې اخستې نه شم قدم په زمین
سارۀ سارۀ اهونه پاك پروردګار م وینی
بوتې د بخت که م زرغون شی د کرم په زمین
بیا ځم به ښکلی یار ته ډیر خلق ځی راځی

پرهېږی نه په ځان چه ځی د عاشقانو ولے
حجازی باغ ته ځی په شوق د بلبلانو ولے
لوړے شی اوسوزی ایره شی خو پروا نه کوی
ځکه چراغ ته ځان رسی د پتنګانو ولے
دے شین ګنبد مزارته ډیر خلق ځی راځی

هغه چه خدائے ورته سراجًا منیرًا وئیلی
خاص ئے قرآن کنبے بشیرًا و نذیرًا وئیلی
عطوف رؤف رحیم حریص یٰسین طٰه مزمل
حق د منکر کنبے ویصلٰی سعیرًا وئیلی
دخپل امت غم خوارته ډیر خلق ځی راځی

چا کنبے چه نه وی محبت د محمدؐ عربی
دعوے ډِ نکړی د امت د محمدؐ عربی
چا چه عیبونه لټولی دی ددوئی په ذات کنبے
لری په زړهٔ کنبے عداوت د محمدؐ عربی
ګزار به شی سور نارته ډیر خلق ځی راځی

د ظفر ګل خادم په زړهٔ دغه ارمان کافی دے
په این وآن کنبے ورله هاشمی جانان کافی دے

خیال کښے تصویر تل د سیدنورعلی شاهٔ کړځوی
د دهٔ مرشد له خپل مرشد سیف الرحمٰن کافی دے
ایصال کړی کردیګارته ډیر خلق ځی راځی
والله مدینے ښارته ډیر خلق ځی راځی

❁❁❁❁❁

رباعی (۱۴)

دی پــه زړهٔ م ارمــانــونــه د جـانـان ډیـر
راسـره دی بـل غـمـونـونـه د هـجـران ډیر
کـــه یــو ځــلــے م ستـــا ستـــرګــے اولیـدلــے
صـــدقـــه بـــه درنـــه کـــړمـــه رقیبـــان ډیـــر
ستـــا د زلـــفـــو پـــه نـری تـارکښــے بـنـدی دی
درتــه خـاورو کښـے پـراتـهٔ دی بادشاهان ډیر
ستــاد مـخ یـوے جلـوے تـــه نـــه رسیـــږی
کـــه خائستـــه دی دجـنـت حـورے غلمان ډیر
دومــره مــخ او سُــرخـروئـی دبـل چـا نشتــه
لــکــه تـالــه چــه رب درکــړل امتیـان ډیر
د هــغــوســـره د چـــا بـــخــت بـــرابـــر دے
چـــه دربـــار کښـــے د کـــوی ژړا فـغـــان ډیـــر

د قیصر او د کسریٰ نه رب ته گران دی
ستا د چم او د گاونډ هغه سگان ډیر

چه د در د خدمتگارو دِ خپے ښکل کړم
په زړگی کښے مې ځلیږی دا ارمان ډیر

ظفر گل خادم ته نظرِ کرم اوکړه
په محشر به مشکلات ئے شی اسان ډیر

۞۞۞۞۞

نعت شریف (۱۵)

والله کل خوبان مې د یار غلامان دی
ځما د محبوب د بشر نه قربان دی

مجنون صرف مخ د لیلیٰ پسے گرزی
ځما د یار مخ باندے ټول عاشقان دی

جمال د کمال ذوالجلال ورعطا کړو
اوصاف د حبیب مې جمیع په قران دی

قربان مې کړے خدایه له پاك بیت الله نه
لبیك اللهم لبیك مې ارمان دی

پیدا وے یو کانړے خووے مدینه کښے
غمونه مې جمع په زړهٔ د هجران دی

عاشقه د یار په قدم قدم کیږده
د یار قدمونه په رب باندے گران دی
حرم د حبیبؐ م په زړۀ را وریږی
صلوة او سلام م هر دم په زبان دی
خادم ظفرگل شه قربان له سرداره
هغونه چه څوك د محبوب پتنګان دی
ځما د محبوب د بشر نه قربان دی

❀❀❀❀❀

رباعی (۱۵)

څوك چه گیر شی دزلفانو په دا م ستا
سرو مال قربانوی تهول په نام ستا
چه قسمت د یارئی پنجه ورله ورکړی
ښکلوی بیا د درخاورے مدام ستا
د دنیا تهول کتابونه ئے لټ په لټ کړل
خو معلوم نه کړلو هیچا مقام ستا
د دنیا وما فیها نه مستغنی شی
چه تر غوږوئے واصل شی کلام ستا
بادشاهان ئے بیا د اسم نه زاریږی
چه ربښتیا لکه بلالؓ شی غلام ستا

مخلوقات تے سلامی ته جمع کړی
مشرف چه شی کوم کس په سلام ستا

په والله چه تر محشره به نشه وی
چه په شونډو چا واقع کړلو جام ستا

ظفرګل د خپل مرشد په دُعا رنګ دے
چه تعریف کړی د جمال ګام په ګام ستا

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۱٦)

الله راکړه آرام بنګلی دیدار کنبے د محبوب
ماخاورے کړه په دراو په دربار کنبے د محبوب

د ذرهٔ د تل نه واڅم په سر سترګو م قبول دی
را رسی تکلیفونه که په لار کنبے د محبوب

خدائے چا ندے لیدلے پیژندے شی په قدرت
ما اوپیژند عالمه په رخسار کنبے د محبوب

تباه بے ادبئ کړل ابوجهل کسری دواړه
لیاقت به ترے نه ډیروی په حِمار کنبے د محبوب

چهٔ څومره دجهان په مخ آزاد دی ترے نه زار شه
چهٔ څوك دی ګرفتار د زلفو تار کنبے د محبوب

مایوس خریداران شی چه طلب ئے د بل چا شی
مونده کله مثال شی په بازار کښے د محبوب
ګلونه دسپرلی استفاده ئے له خوشبو کړی
چه زلفے راخورے شی په بهار کښے د محبوب
خادمه ظفر ګله دا خوستا د پیر دُعا ده
ګرځے چه زړۀ ستی د عشق په نار کښے د محبوب
ماخاورے کړه په در او په دربار کښے د محبوب

❁❁❁❁❁

رباعی (۱٦)

رب چه د نمر نه خائسته تاته سپین جمال عطا کۀ
ستر ګو ځما ته د دیدار ئے هم خیال عطا کۀ
ولے به ستا مخ ته په غټو سترګو نۀ ګورمه
چه پاك الله ورته دارینو کښے کمال عطا کۀ
زۀ چه قدم په قدم ځم د فکر تهال کښے ځانګم
مشکینو زلفو ته چه تا د مینے تهال عطا کۀ
مخکښے م خلق په ګُفت پو هیدل اوس پرِ جوړ نه
پو هیږی دا دِ دَ قال سره محبوبه راته حال عطا کۀ
چه کوم خوا ګورمه فضا کښے دی جلوے ستا دمخ
دا دِ احسان راته عالم کښے د مثال عطا کۀ

چه زهٔ موجود ئمه د بل چا حُسن ولے گورے
محبوب دمینے دائره کښے راته سوال عطا کړه
زهٔ ظفر ګل د خپل مرشد په خدمت فخر کوم
دا یو نعمتِ عُظمیٰ ماته ذوالجلال عطا کړه

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۷)

په چا کښے چه تیاره وه تا هغوله رنړا ورکړه
د زړونو بیمارانو لـه دِ ښکلے دوا ورکړه
چه کله دِ چمن کښے د وحدت بوټی نهال کړل
غنچے لره ریحان لره سنبل له دِ ساه ورکړه
چهٔ کله دِ دلبو په سر لږ تبسم اوکړو
خفه خفه ضمیر ته دِ خوشبو دصبا ورکړه
نشه شول عاشقان چه د زلفان خوارهٔ وارهٔ کړل
تر عمره به پراتهٔ وی دا په څهٔ دِ سزا ورکړه
دلبر لامکانی درته یو دم په سلامیٔ شو
تحفه کښے چه دِ کله ورله نازاو ادا ورکړه
خوبان د نعیم سمدستی لتاځنے چاپیر شول
غرورئے تام شو تا چه د خپل حُسن ښکلا ورکړه

چاپیره دشمنان د په یوه لحظه دوستان شول
تالیٔ چه د والیل زلفو ته کله په شاورکړه
خادم ظفرګل کله وؤ خبر د عشق له رمزه
دا ټول برکات ستا دی چه دِصرف زړا ورکړه
د زړونو بیمارانو له دِ ښکلے دوا ورکړه

❀❀❀❀❀

رباعی (۱۷)

شمیم د زلفو معنبرو چه د یار نه واخلم
بیا به خطا ځما وی مشك که د تاتار نه واخلم
چه ستا د درخاورے ځما د سترګو شولے رانجهٔ
اوس ملامت یٔم که رانجهٔ نور د بازارنه واخلم
زهٔ د ساقی دجام پروا په دوجهان کښے نه کړم
چه څهٔ حصه ستا د چشمانو دخُمارنه واخلم
د عاشقیٔ په لارم ایښے دے قدم روان یٔم
رخصت به دلته کښے له مور او هم له پلارنه واخلم
ځما په بخت به ساکنان د جنت رشك پیدا کړی
که څه فائده ستا د زلفانو د یو تارنه واخلم

مادجنګلے په خواکښے ستا دمخ جلوې ليدلی
بيا به وی کله چه د افيض مدينے ښار نه واخلم

د صبر تيګه هم زړګی ته ايخودلے نه شم
رحم به اوشی کار به لږ د انتظار نه واخلم

چه وسيله خپله خواجه سيف الرحمنؒ لرمه
برخے کاملے به د دِ ولی دربار نه واخلم

زۀ ظفرګل دخپل مرشد نورعلی شاهؒ په درکښے
خدمت کومه کار به نور د دغه کار نه واخلم

❁❁❁❁❁

نعت شريف (۱۸)

يو دِ د ګردونو نه قربان شم
بل دِ تورو غرونو نه قربان شم

اے د مدينے منورے زمکے
ستا د قسمتونو نه قربان شم

تاکښے ثالثه ياران خوبونو کړی
زۀ ئے له خوبونو نه قربان شم

ګنبد خضری اوچت مقام لری
ستا د مقامونو نه قربان شم

شارے شوے د مصراو کنعان لارے
تاله درتګونو نه قربان شم
نه لری خزان همیش پرے وی بهار
ستا د سرو ګلونونه قربان شم
کیږی چه صفت ځما دیار پکښے
هغه محفلونو نه قربان شم
وائی ظفرګل خادم کریم ربه
ستا د قدرتونو نه قربان شم
بل دِ تورو غرونو نه قربان شم

۞۞۞۞۞

رباعی (۱۸)

ګدا خو هر وختے لاسونو د کرم ته ګوری
دی خوش نصیب چه څوك دیار مخ محترم ته ګوری
دمحبوب مخ باندے قطرے د خولوداسے ښکاری
لکه چه څوك سحر ګلاب باندے شبنم ته ګوری
نمرځلورم آسمان کښے دے فیض ئے هرکورته رسی
آقام هر وختے عربونه عجم ته ګوری

سينې د ښکلو اينې دي پکښې هر څه وينې
دي سادګان هغه کسان چه جام دجم ته ګوري
د خمارو سترګو نظر ته تاب د چا راتلې شي
ډير دلاور به وي چه داسې ايټم بم ته ګوري
ستا عاشقان خوبې پروا په دارنيزه ور خيژي
دعوے د نکړي چه ستا عشق کښې درد وغم ته ګوري
پکار خودي چه شکريه کښې روح او تن قربان کړي
څوك چه جنت د باغيچې نه ستا حرم ته ګوري
تور ښاماران به سلامې په توره شپه شي ورته
څوك چه دا ستا دتورو زلفو پيچ وخم ته ګوري
زۀ ظفر ګل په دعا رنګ ئيم د تارو دګلاب
دوئ د شفقت په نظر هر بنې آدم ته ګوري

نعت شريف (۱۹)

اوکړه نظر ستا ئيمه غلام
ئيم د هر خادم ته لاس په نام
وينم چه سپوږمۍ ستوري او نمر
دغه حُسن ته لرے تمام

ستاسو پهرېرا د مرتبې
خوزي همیشه د عرش په بام
نوم ئې چه کړو ستاسو وسیله
شو معاف آدم علیه السلام
مسجد اقصیٰ کښې انبیاء
جمع وؤ لیکن ته شوې امام
نه دې تللې هلته جبرائیل
کوم ځائې چه دِ تاسو ایښې ګام
کړې وؤ موسیٰ په کوه طور
لامکان کښې تا اوکړو کلام
وېشې چه جامونه په کوثر
ماغریب له هم ترې راکړه جام
څوك چه کړي دعوه د نبوت
خدائیګو هسې نوم به کړي بدنام
نوروس خوم نشته د درتلو
دې ځائې نه لیږم صلوٰة سلام
تورو تاریکو کښې د برزخ
غوارم دیدن ستا على الدوام

یـــاد چـــه راتـــه وی پـکښـــې مـحبـوب
خــدائـــې دِلـــری دغـــــه صبـح وشـــام
ئـــم د جیـــلانـــی مـــرشـــد خـــادم
اوبـــه کــړی دے خپـل خــادم تــه فـام
ګیـــرئـمـــه پـکښــې زهٔ ظـفــرګـل
تــاؤ دے رانـــه ستـــا د زلـفـو دام

❁❁❁❁❁

رباعی (۱۹)

چـمـن د مینـې د محبوب نه هوا ماته رائځی
نـاز او ادا کړی چه په وخت د صبا ماته رائځی
رائځه رائځه زلفـې دے وخت کښې دی رُخسار نه لرے
د عـاشـقـئ پــه بیـابـان کښـې صدا مـاتــه رائځی
چــه کـومــې ورځــې نــه د زړهٔ پــه سر سورے ئمه زهٔ
دحـجــازی شـفــاخـانــې نــه دوا مــاتــه رائځی
زهٔ خــولائــق نـــه ئـم خـودا ګـنـړم نـظـر دجـانـان
چــه غـنـچــې ډکــې دکرم او عـطـا مـاتـه رائځی
چـــه د ربـــار دخُـلــې نـــه اورمـــه خبـرے دیـار
ګـریـوان م تـرشـی بــې اختـیـاره ژړا مـاتـه رائځی

بالواسطه دیار لمن څکه په لاس کښې نیسم

د مرګ نه پس داسې موقع کله بیا ماته راځی

سالك له ښائی چه په خپله رضا کارنه کوی

فیض چه راځی دا د مرشد په رضا ماته راځی

اے بے مذهبو په قیامت کښې به الله فرمائی

چه هره ډله د امام په ندا ماته راځی

زۀ ظفر ګل خادم د پیرار چی قدم ښکلوؤم

په برکت د دوئ باطن کښې رڼرا ماته راځی

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۰)

سپینې اوښکې تل په مخ څما راځی

ستا په ښکلی ښار پسې ژړا راځی

سپینې سپینې اوښکې د فراق چغې

کله به م وار د بیت الله راځی

ګرځی کم نصیبه د عجم په خاك

ښکلی بختور حرم له ستا راځی

ښکلیه هرطرف نه بلبلان ښکلی

ستا ښکلی چمن ته په خندا راځی

تانه څوك خائسته نيشته خوبانو كښے
نــه بــه تــانــه روســتــو انبيــاء راځي
څــم پــل صــراط بــه ورتــه نيــســمــه
دغــه بــنــكــلــى ځائــے تــه بــه آقــا راځي
اوكــړه ظــفــر ګــل بــانــدے نــظــرِ كــرم
هغــه وخت كښــے كــلــه چــه قضاء راځي

۞۞۞۞۞

رباعی (۲۰)

څوك چــه ستــا د غــلامــانو غلامــى كــړى
بــادشــاهــان ئــے د خــاكــروبوسلامــى كــړى
تــر قيــامتــه بــه روغ نــه شى دَ دے رنځــه
چــه دا ستا خمارے سترګــے څوك زخمى كړى
پــه والله كــه ستــا بــلالؓ عــاشق تــه رسى
كــه صفت څوك د مــصرى يا د شامى كــړى
نبــوت الله پتــا بــانــدے تــمــام كــړو
څوك چــه پس دعوه كوى نو بدنامى كــړى
ستا پــه عشق كښــے چــه تكرے كــړى قبولے
د جــنــت پــه بستــرو بــه خِرامــى كــړى

Scanned with CamScanner

ستا صفت نه پوره کیږی د زړهٔ سره
ظفر ګل که ختم عمر تمامی کړی

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۲۱)

ښکلی رسولؐ به بے دینانو ته وعظونه کول
ددین د پاره ئے میدان باندے جنګونه کول

څومره مزه وه عاشقان چه جنګیدل په بدر
دور د خوند وؤ چه څوك شهیدان کیدل په بدر
ستوری اسمان نه وؤ راغلی ځلیدل په بدر
د تورو مینځ کښے غیر تیانو تکبرونه کول

سیلاب د وینو بهیدلو دموتا په زمین
عاشق په سر د لاندے شولو راخطا په زمین
کوم ښاغلی تو ے کړو مسلمانه روره تاپه زمین
بے تنے سربه په اسلام پسے ویرونه کول

کله چا رور او پلار خاوند باندے پروا کوله
صرف ژړا به ئے په غم د مصطفیٰؐ کوله
چه به حضرت حیات وؤ هر چا به مُسکا کوله
شمع وه بله پتنګانو پرے سرخونه کول

Scanned with CamScanner

هر سړی ځان فدا کړلو دحضرت په مینه
تندے نهرے تیریدے پرے دملت په مینه
د ورځے جنګ د شپے به ئے کړلو عبادت په مینه
په اوچو شونډو به ئے پاك رب ته سوالونه کول

په هغه وخت پسے ارمان دے ظفرګل خادمه
ګنده ماحول کښے عمرګران دے ظفرګل خادمه
دلته نورځه دی خو هجران دے ظفرګل خادمه
کړه هغه کار چه یار په څۀ باندے حکمونه کول

❁❁❁❁❁

رباعی (۲۱)

هریو هډوکے م په عشق کښے د جانان سوزی
لکه د شمعے په رخسار چه پتنګان سوزی
مخ دنقابه رابهر کړه چه نمر فخر نکړی
د فراقت په اور کښے واړه عاشقان سوزی

په هغه وخت کښے دوباره مخ نه نقاب لرے کړه
چه په لنبو دجهنم کښے رقیبان سوزی
د مخ انوار دِ په اویا زره پردو کښے پټ دی
که یو پرده لرے شی کُل واړه جهان سوزی

شپـه د میـلاد د مـصـطفیٰ ده بلـه شـمـع د نـور
راجـمـع شـوی پـرے د هـر ځـائـے سـالـکـان سـوزی
هـو الله هـو دی اوازونـه دے مـرهـم ځـیـګـر لـه
د دے پـه تـاؤ بـانـدے انسی جنی شیطان سوزی
زه ظـفـرګـل خـادم دپیـرنـورعـلـی شاه پـه عشـق کـښـے
هغوئی پـه عشـق کـښـے دخواجه سیف الرحمنؒ سوزی

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۲)

دی خوش قسمته چه ئے ځی اوښکے رودونه دروضے سره
وائـی سلامونه د روضـے سره
دمـــدیـــنـــے هـــغـــه انـــوار
چـــه پـرے راځـی لیـل و الـنـهـار
پـه دواړو سـتـرګـو ښکلوی هغه ګردونه د روضـے سره
وائـی سلامونه د روضـے سره
نـاسـت وی پـه ریاض الجنت کـښـے
کـوی نـظـر پــه مـحـبـت کـښـے
پـه مړو سترګو دمحبوب کړی دیدنونه دروضـے سره
وائـی سلامونه د روضـے سره

Scanned with CamScanner

په خپل وطن کښې که بادشاه وی
خو د محبوب در کښې ګداوی
بیا د دنیا په بادشاهانو کړی فخرونه د روضې سره
وائی سلامونه د روضې سره
چه مخامخ شی سترګې سرې شی
په نظر سپینې منارې شی
د شین ګنبد رڼا اوړی د خلقو زړونه د روضې سره
وائی سلامونه د روضې سره
باب جبریل باندې چه ورشی
ښکلې جنګله ئې په نظر شی
شی ئې پوره د تمام عمر ارمانونه د روضې سره
وائی سلامونه د روضې سره
شفا د هر مرض ده واوره
د مدینې محبوبه خاوره
عرش نه بهتره ده لری چه نسبتونه د روضې سره
وائی سلامونه د روضې سره
ملك اوازره سحر
هم اوازره مازیګر
وهی تمامې فرشتې خپل وزرونه د روضې سره
وائی سلامونه د روضې سره

Scanned with CamScanner

دا لوئے ارمان م دے په زړۀ کښے
که شی پوره په ژوندانه کښے
چه م کولے شپه او ورځے خدمتونه د روضے سره
وائی سلامونه د روضے سره
زۀ ظفرګل ئے ناست په خوا وے
هم مخامخ مرشد ځما وے
لکه کچکول مواوچت کړے وے لاسونه د روضے سره
وائی سلامونه د روضے سره

❁❁❁❁❁

رباعی (۲۲)

راشه ځان کړه تابعدار د اولیاء
مشرف شه په دیدار د اولیاء
خدائے وئی ته که په جنت اوسیدل غواړے
په فهرست کښے کړه ځان شمار د اولیاء
دا حدیث قدسی اوګوره په سترګو
حضورؐ کړے دے ګفتار د اولیاء
خدائے فرمائی ځما جنګ ته دِ تیار شی
څوک چه جنګ ته وی تیار د اولیاء

Scanned with CamScanner

په جنت کښې به په مثل د انسان وی
سپی د کهف چه شو یار د اولیاء

ځوئی د نوح ځکه کافر دنیا نه لاړو
مخالف چه شو د پلار د اولیاء

مولٰنا د رومؒ خو هله مولانا شو
چه شو کله خدمتګار د اولیاء

چه د اصل نه فرزند د عزازیل وی
په ښکاره کوی انکار د اولیاء

د ازل په ورځې برخې ئې نصیب شوې
ډك كمال نه شو رخسار د اولیاء

هله سر د معشوقې په غیږ کښې کیږدی
چه اشناشی په دربار د اولیاء

چه ایمان راوړی وکانوا یتقون شی
او پیللې شی په تار د اولیاء

ظفرګل خادمه هله به کامیاب شې
واچوه غاړه کښې هار د اولیاء

۞۞۞۞۞

Scanned with CamScanner

نعت شریف (۲۳)

ژاړمه د سوزه چه م ښکلی یار له بوځه
یا الله مونږ د مدینے نګار له بوځه

ژاړمه د سوزه دارمان چغے سورے وهم
خدایه بے لتانه به بل چا وته نعرے وهم
خپل فضل وکرم سره م دغه ښار له بوځه

ستا فضل چه اوشی دا مشکل به شی اسان ځما
کړے قبول بارګاهِ عالیه کښے شورفغان ځما
سر به پرے قربان کړم ما دعشق دار له بوځه

سر به پرے قربان کړم چه ئے کله بشر اووینم
زۀ چه په نظر د رحمتونو نظر اووینم
دے د جنتونونه خائسته مزار له بوځه

دے د جنتونو نه خائسته ځما د ګُل حرم
کله به په سترګو اووینمه ظفرګل حرم
دا م تمنا ده چه م هر مینار له بوځه

❁❁❁❁❁

رباعی (۲۳)

په دنیا چه د خدائے خو مره کائنات دی
دمحبوب دوالضحٰی مخ نه خیرات دی
مرتبه لری په ټولو کښې بلنده
که په بحروبر په ارض و سمٰوٰت دی
خدائے خدائی خپله د دوئی په مخ ښکاره کړ
چه ذی علم وی هغوته معلومات دی
چه ترڅو پکښې موجود وی عذاب نشته
دا څو ټول ددوئ د پاك ذات برکات دی
چه د چا صفت په زور زیر شته قرآن کښې
هغه ذات له رب ورکړی کمالات دی
په زبور او په انجیل او صحیفو کښې
صفتونه ئے رب کړی په تورات دی
دے نه لوئے شان ئے بیان کړم درته څنګه
چه مولیٰ او ملك سر ئے په صلوٰة دی
چه لمن د دوئ د چا د لاسه لاړه
بس په دین دنیا همه واره میرات دی

چه عیبونه ئے لتوی سپک ورته گوری
دا هـوا وهـلـی تـول دلات مـنـات دی

خدایه تول م ورکړے پیر نورعلی شاه له
چـه د پـاکـو خـلـقـو ځـو مـره درجـات دی

دا نظـر خـاص د خـواجـه سیف الـرحمن دے
چـه بـخـلـی ئـے عـالـم تـه فیوضـات دی

ظفر گل خادم پرے خدایه مستقیم کړے
چـه د دۀ د مـرشـد څـو مـره پـاك عـادات دی

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۴)

ستـا د وطـن نـه زار قـربـان شـم
د خدائے محبوبـه رالـه راکـړه دیدنونه
دا م ارمـان دے

یـادیـږی ډیـرم ستـا حـرم
څـاځـی د سـتـرگـو نـه م نـم
کـلـه بـه وی چـه درروان شـوم
دپـاك الله پـه در کـښـے تـل کـوم سـوالـونـه
دا م ارمـان دے

د پاک الله په در کښې ژاړم
ستا مبارکه روضه غواړم
اوس ځم فقیر بیا به سلطان شم
که م یو ځل ستا د حرم اوکړل سیلونه
دا م ارمان دے

دلته د هجر ډک ژوندون دے
یو خو اغماز بل خوا بیلتون دے
که دِ بلبل د ګلستان شم
تاراته خپل ګلشن کښې اوسپړدے ګلونه
دام ارمان دے

محبوب د رب العالمین ئے
یاد په طٰهٰ او په یٰسین ئے
خادم به کله ستا په ځان شم
پیرزو په ما کړه د حرم ښکلی ګردونه
دا م ارمان دے

کاش چه وے ستا د حرم ګرد
وریسے زړهٔ م کوی درد
که ستا په زلفو بندیوان شم
دابه د خدائے دلوری ډیری وی احسانونه
دا م ارمان دے

خواکښے د یار صدیق اکبرؓ دے
په بل طرف حضرت عمرؓ دے
قریب به کله تر عثمانؓ شم
چه جنت البقیع کښے اوکړم سلامونه
دا م ارمان دے

خواکښے دِ ناست وے ژړیدلے
ستاسو جنګلے م ښکلولے
نور به د څه شی په ارمان شم
ما ظفرګل ته لرکړه مخ نه حجابونه
دا م ارمان دے

❁❁❁❁❁

رباعی (۲٤)

دوست د پاك غنی سبحان ئے یا رسوله
په نبیانو کښے سلطان ئے یارسوله
هم صادق ئے هم امین ئے هم صابر ئے
عزت مند او قدردان ئے یارسوله
ستاله رویه رب پیدا کون و مکان کڼه
هم رحمت د کل جهان ئے یا رسوله

Scanned with CamScanner

ځوك ثاني دِ دَ بشر دنيا کښې نشته
بې مثاله شاه خوبان ئې يارسوله

د لولاك تاج دِ پسر بانده ځليږي
هم رازدار په لامکان ئې يارسوله

چه په غورد خپل مرشد رخسار ته ګورم
پکښې هر وخت راعيان ئې يارسوله

زهٔ خادم ظفرګل ستا د مخ صفت کړم
د زخمي زړهٔ م درمان ئې رسوله

❁❁❁❁❁

نعت شريف (۲۵)

ستا د درد خاورونه زار
ستا دپاك حرم دخدمتګارونه زار

کله به وی ګورمه چهٔ ګنبد خضرئ ته ځهٔ
مثلِ قيس چه لاړم شم دحجازښکلے صحراته ځهٔ
ستا عشق کښې بيمارونه زار
ستاله روئ خاطره داغيارو نه زار

دا م تمنا نهٔ ده چهٔ ګرزم به ګلونو کښې
خوښ ئمه هميش چهٔ نسکور پروت وے په ګردونو کښې
شم ئې ګرد غبارونه زار
ستا د مبارك کلې دلارو نه زار

خواکښې دِ چۀ وائې په صدیقؓ اوپه عمرؓ سلام
هم په غلافونو ستا د درپه منجور سلام
ستا د چارو یارونه زار
ستا دمهاجرو او انصارونه زار
څومره بختوردی چه همیش ستا دیدنونه کړی
خواکښې د روضې دِ فریادونه سلامونه کړی
هغه شهرِ یارونه زار
ستا د پاك حرم د څوکیدارو نه زار
دلته ورځې شپې دی تیروم د انتظار سره
کاش چۀ ملاقې شوې ستا د دراو د دیوارسره
ستا سترګو خمارونه زار
ستا داطلسی زلفو ابدارونه زار
اے خادمه ظفرګله عقل مې حیران شی
ستا د تصور عُقاب چه پورته تر اسمان شی
شم دِ د اشعارونه زار
ستا دَ د ے طرزونو مزیدارو نه زار

❁❁❁❁❁

رباعی (۲۵)

چــه بــنـدی شی پــه زنـځیـر دتـورو زلـفـو
کــه بــادشــاه وی شی فـقیـر دتـورو زلـفـو

پــه قسـم سره لـه درست جهان نـه خځ دے
چــه پــه دام کښـے وی اسیـر د تـورو زلـفـو

همیشــه بــه ئـے چشـمـان پـه ژړا سرۀ وی
چــه وهـلــے وی شــب ګیــر د تـورو زلـفـو

مـنـصـفـی اوکـړه مـنـصـفـه صادقان دی
کــه نــه تــش دی د عــوه ګیــر د تـورو زلفو

دمـجــاز پــه رسـو بیـرتــه وتـے نــه شم
ئـم پـریـوتــے چــه پــه بیـر د تـورو زلـفـو

څــه طاقت تـوان بــه ځما د خوارعاجز وی
نــه لــری تــوان عــالـمګیـر د تـورو زلـفـو

زۀ خــادم ظـفــر ګـل ځـکــه سـریـالا ئـم
چــه تــارو کـښــے لــرم پیــر دتـورو زلـفـو

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۲٦)

پاك محمدؐ آخرزمان نه.....زاریږمه ځۀ
هاشمی جانان نه.....زاریږمه ځۀ

بللے پاك الله وؤ ځان ته.....زمونږه ختم المرسلین
دیدار دپاره لامکان ته.....زمونږه ختم المرسلین
د داسے ښکلی قدردان نۀ.....زاریږمه ځۀ

د یو څیز نه رحمتِ عالم . ښکلے فرزند د عبدا لله دے
قریشی نسبی د هاشم.....ښکلے فرزند د عبدا لله دے
تل ئے د ښکلی خاندان نه.....زاریږمه ځۀ

دنیا چه رب کړله روښانه.....دا برکت د جلوه گر دے
مونږ ئے واقف کړو له قرانه.....دا برکت د جلوه گر دے
بے حده ښکلی مخ تابان نه.....زاریږمه ځۀ

په کل عرب او په عجم کښے.....لری بے شمیره عاشقان
کمے ئے نه راځی کرم کښے.....لری بے شمیره عاشقان
په امت ډیر زیات مهربان نه.....زاریږمه ځۀ

زۀ ظفرګل ئیمه غلام.....د پیر سید نورعلی شاه صیب
تل د دربار ئے کړم سلام.....د پیر سید نورعلی شاه صیب
هم د خواجه سیف الرحمنؒ نه.....زاریږمه ځۀ

❁❁❁❁❁

رباعی (۲٦)

ستا د زلفو په هرتار کښے ئیمه بند خوښ
مرګ نه روستو هم دَ دے د نیا په ژوند خوښ
زه بوراِئم تل کوم مینه په ګلو
د ګونګټ پشانے نه ئیمه په ګند خوښ
په صوری او معنوی د واړو حالتو
زړۀ م دے ستا له رُخسار سره پیوند خوښ
کوم لذت چه ستا د عشق ترخو کښے پروت دے
عاشقانو ته هغه دے زیات له قند خوښ
چه ستا مخے له م درولی محبوبه
لږیدلے هتکړئ ئیم په مړوند خوښ
صفائی د اندورن م رب نصیب کړه
ئیم د بدو د هرکار نه په سوګند خوښ
Scanned with CamScanner

د باچا صیب مبارك د عاشقانو
په خدمت کولو ئمه بهره مند خوښ

ظفرګل خادم شم زارله پیرا رچی نه
طریقه کښے ئمه تل د نقشبند خوښ

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۲۷)

ثو مره حسندارے
یارسول الله د کل جهان سپه سالارے

مثال د نشته بے مثال ئے......یارسول اللهؐ
ثو مره حسندارے
ستا فراقت کښے م ئحی مخ باندے رودونه . ثو مره

په بهترینو بهترین ئے......یارسول اللهؐ
ثو مره حسندارے
ستا له جماله نمر سپوږمئ روښانه شونه . ثو مره

ستا له چشمانو نه قربان شه......یارسول اللهؐ
ثو مره حنسدارے
زمکه ده اسمان دے که دا دواړه جهانونه . ثو مره

تــا چــه تشـریف راوړو دنیــا تــه......یــارســول اللهؐ
خــومــره حســنــدارے
پـریـوتـل د قیـصـر و کسـرئ لـوړ مـحـلـونـه......خومـره

اور د فــارس یــودم کښــے مــړشــو......یــارسـول الله ز
خــومــره حســنــدارے
بـل شـو پـه شیـطـان بانـدے لـه غـمه سرۀ اورونـه......خومره

والله چــه خــاورے د دربــار ستــا......یــارســول للهؐ
خــومــره حســنــدارے
مشـك و عـنبـر زار شـه تـریـنـه هـم تـمام ګلونـه......خـومره

خــوك لامــکــان تــه تلــے نــه دے......یــارسـول اللهؐ
خــومــره حســنــدارے
تــالــه الله درکــړل لامــکــان کښــے دیـدنـونـه......خـومـره

دا وخــت چــه خــواجــۀ خــواجــګـان دے......یارسول اللهؐ
خــومــره حســنــدارے
ستاسود سیـنــے نــه خـوروی خـومره فیـضـونـه......خـومره

زه ظفر ګل چه ئے خادم ئیم......یارسول اللهؐ
څومره حسندارے
پیرم جیلانی راته په سر ایښی لاسونه......څومره

❁❁❁❁❁

رباعی (۲۷)

ستا د مخ په شمع سوے پتنګ خوښ ئیم
د باقی عالم نه ګله په څنګ خوښ ئیم
مال دولت ته م حاجت له سره نشته
یارسوله ستا په عشق کښے ملنګ خوښ ئیم
که هر څومره خلق تهمت راباندے وائی
ستا دعشق په تهمتونو کښے رنګ خوښ ئیم
زه مجنون ئیم ستا په عشق او محبت کښے
سوے سوے په میرو او ګړنګ خوښ ئیم
برکت م د مرشد نورعلی شاهؒ دے
نفس شیطان سره همیش له په جنګ خوښ ئیم
ظفرګل که شمار شم ستاله خادمانو
بیا والله که په شاهئ د اورنګ خوښ ئیم

❁❁❁❁❁

Scanned with CamScanner

نعت شریف (۲۸)

ځان ته مِ اوغواړه نبیانو کښې سلطانه
ئے محبوب د رب آخر زمانه

محبوب د رب العالمین ئے
ډیر په حسینو کښې حیسن ئے
راز د خالق له تلے ئے تر لامکانه

شمس وقمر دی که دی ستوری
تول په یو مخ ستا مخ ته گوری
هم تول شرمیږی ستاله مخ ماه تابانه

د شپے تر مسجد اقصیٰ تۀ
لاړے حبیب کبریا تۀ
بیا مقدس نه پورته لاړے تر اسمانه

سوال دِ اوکړو په لامکان کښے
خاص په دربار د رب منان کښے
کریمه ته مِ په امت شے مهربانه

د لا علاج مرض دوائے
مرهم د خوږ زړگی ځمائے
زه دوائی دوصال غواړمه لتانه

چه ظفرګل شیرین زبان یٔم
ستا دمحبوب بچی غلام یٔم
لکه پتنګ زاریږم پیر نورعلی شاهؒ نه
زهٔ ظفرګل خادم مدام
د پیرار چی کړم احترام
ځان قربانومه له خواجه سیف الرحمانهؒ

❁❁❁❁❁

رباعی (۲۸)

ستا له درده له فراقه بے تاب خوښ یٔم
سرنګون د عشق په اور کښے کباب خوښ یٔم
چه خزان راشی نو قدر ئے پیدا شی
ځکه نن خو زهٔ په خوا د ګلاب خوښ یٔم
چه دیدن د خمارو چشمانو نشته
ورلاهو ځکه د غم په دریاب خوښ یٔم
که اجل د یار له غمه وی تیار یٔم
زه پهانسی د محبت په طناب خوښ یٔم
خیر دے خیر دے په سرسترګو م قبول دی
د مجنون او دیوانه په خطاب خوښ یٔم

اوشو څۀ که ظاهري خاورے په سرشوم
زه د عشق په بادشاهئ کښے نواب خوښ يم
ظفرګل خادم دخپل مرشد په درکښے
د نياز ايښودے سر په تراب خوښ يم

❁❁❁❁❁

نعت شريف (۲۹)

نه وينم ثاني دِ په عالم تمام
يانبيؐ خيرالانام . يانبيؐ خيرالانام
نشته ثاني ستا د واړو جهانو کښے
شمس وقمر ولاړ دي درته لاس په نام
يو لاکهـ او څليريشت زره انبياء
ته شوے په اقصیٰ کښے د همه امام
ندي پورته څوك تلي الله لره
کړے مخامخ رب سره تا کلام
ستا مدينه ښار په زړۀ وريږي م
دے څما ارمان صلوٰۃُ والسلام
ئمه په زارئ او په منت ولاړ
نوش کړه ما غريب باندے د مينے جام

پیــر م جیـلانـی ښـکــاره د نمـر پشــان
ئیـمـــه ظـفـرګـل خــادم د دوئ غــلام

❁❁❁❁❁

رباعی (۲۹)

ډیر ګران لوئے محبوب دسبحان دے محمد ﷺ
بــاعـــث د تـخـلیـق د جهــان دے مـحـمـدؐ

دا دواړه جهـــانـــه پیـدا ئـــے پـــه مـخ شول
قسم دے چـه رب تـه ډیـرګـران دے مـحمدؐ

راکوز پـه مکـه کښـے شو نُور لـه اسمانـه
زیبــا مــخ مــنـور جـانــان دے مـحـمـدؐ

صـــادق او امیـــن دے امـــام د نبیـــانــو
بهتــر پـــه نبیــانــو سـلـطـان دے محمدؐ

درود او ســـلام پـــرے وئیـلــے الله دے
مـــوصـوف د الله پـــه قـــران دے مـحـمـدؐ

راز دار د الله شـــو پـــه شپـــه د مـعـــراج
خــاونـد د عـزت او لـوئـے شـان دے مـحـمدؐ

قـربــان ظـفـرګـل ئیم لــه ښکلی رسولؐ نــه
زمیــن و آســمــان لـــه امــان دے مـحـمـدؐ

❁❁❁❁❁

Scanned with CamScanner

نعت شریف (۳۰)

سـرومـال کـه دواړه قـربـانـی م شو لتـانـه......خـۀ
خــــۀ بـــــه وی والله چـــۀ بـــے شـــانـــه
خـۀ لـوګـے لـوګـے چـۀ شم تـاتـه پـه مجمرګله
هغـه ساعـت غـواړمـه لـه پاك غنی سبحانه......خۀ
مینـه کښـے پـه دار چـه شی هـلـه د تکمیل نخه
لړی د اخـلاص پـه غشـی خـدائیـګـو پـه اسانه......خۀ
څـوك چــه تـمـنـا لـری سـتـا دسپیـن بشـر نبیؐ
دلتـه دِ واقف شـی لـه حدیـث او لـه قـرانـه......خۀ
څـوك کـه لـری دا طـمـع بـچ چـۀ د تیـارونـه شم
دلتـه پـه دنیـا دِ بـچ کـړی ځان له نفس شیطانه......خۀ
څـوك چـه مینـه سچـه کـړی ځی پـه نردبان د عشق
نـوروتــه ښکـاره کـړی پـاك الله د دۀ مـړانـه......خـۀ
شـمـع د نـور بـلــه ده راشـــه کـــه پتـنـګ ئـے تـۀ
اووهـه سرخـونـه ځـان لـوګـے کـړه لـه جـانـانه......خۀ
څـوپـورے چه ئـے حیات هغۀ پورے کړه خدمت
زارشـه ظـفرګله خپل مرشدنورعلی شاه نه......خۀ
خـۀ بـه وی والله چـهٔ بـے شـانـه

۞۞۞۞۞

رباعی (۳۰)

مخلوق کاسب دکار دے کل دنیا پرے خبر ده
که څوك وئی کولے نشی عقیده د جبر ده
ذکرِ خُدا که غواړے له ذکرِ رسولؐ جدا
والله ذکر دخدائے نهٔ دے کُنجی د سقر ده

نجدی که پرے سوزیږی نویو سل ځله دے سوزی
د یا رسول اللهؐ ندا پتهٔ د ځیګر ده
په مرګ کښے په برزخ کښے هم دلوئے حشرد پاره
لمن د پاك رسولؐ لویه توخه د سفر ده

دا ټول یو اقتباس دے د محبوب د سپین بشرنه
افتاب دے که ماهتاب دے که رنړا د سحر ده
خادمه ظفر ګله درنصیب شه په دارینو
دا کومه چهره سپینه چهٔ نن ستاپه نظر ده

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳۱)

شکر دے مینه چۀ په زړۀ کښې د دلدار لرمه
بیا د ورتللو مدینې ته انتظار لرمه

زار به ترے ورځ کړم د اختر که یو ځل زیرے راغے
امید م شته دے ورنه طمع د دیدار لرمه

ډیر به خوشحال شم جوړ به شی باغ اِرم سینے نه
په هغه ورځ چۀ ستا په لور باندے رفتار لرمه

زبان قاصر لیکن احسان د مُحسن نه هیر وی
چۀ د محبوب په محبت کښې زړۀ بیمار لرمه

شاهان به رشك اوکړی ځما د اقبال ستوری باندے
چه لبان تر د مدینې په ګرد غبار لرمه

چۀ د جنګلے سره بیا اودریږم لو خړه شمه
چرته کښې دا لیاقت زۀ مختورن خوارلرمه

که م نصیب شی شین ګنبد ته په بار بار کتنه
دا به احسان د رب په ځان باندے بار بار لرمه

چه د روضے خواکښې صلوة سلام پتاسو وائم
زړۀ کښې ارمان د دغه در او د دیوار لرمه

د مرغلرو هار تـه زړهٔ م خدائیگو نـه پسخیږی
چه د محبوب یاد کښے په مخ اوښکے قطار لرمه
د دوئ نـائـب غوث دوران دے پیرارچی صاحب
شـکـر چــه دارنګ رهبـر دَ دغـے لار لـرمـه
زه ظفرګل چهٔ دسید نورعلی شاه خادم شوم
دا خپـل قسمت په قسمتونو کښے سردار لرمه

✿✿✿✿✿

رباعی (۳۱)

دیٰسین شال پـه سر د احمـد مجتبیٰ کوی خوند
لکه چه ښکلے ستورے د صبا کوی خوند
لـعـل پـه ایـرو کښـے نـه پټیږی دے متـل مشهور
مخ پـه پردو د نـور کښـے پټ دمحبوبا کوی خوند
کـه ئـے فردوس ، رضوان ، نعیم په مقابل کښے راشی
خائستـه حرم د پاك محمـد مصطفیٰ کوی خوند
هریـو جنت کښے که د هرقسمه میوے شته ښکلے
قسم پـه رب دمدینے پاکـه صحرا کوی خوند
کـه څـوك انبـار د جـواهرو اولعلونو جوړ کړی
پـه څو څو واره تـرے نـه گنبد خضریٰ کوی خوند

زه ظفرگل خادم د پیر نورعلی شاهؒ خادم یم
د جیلانی مرشد سره خدمت ځما کوی خوند

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳۲)

عاشق په والضحیٰ رخسار سبحان ﷺ د محبوب
پیدا په ښکلی مخ دے ټول جهان ﷺ د محبوب

که اوګورے طٰهٰ یٰسین مزمل او مدثر
قدم په قدم کړی صفت قرآن ﷺ د محبوب

شی ورځ چه کله مخ کړی له نقابه رابهر
کړی شپه چه شی خوارهٔ په مخ زلفان ﷺ د محبوب

تمام عمر له کړی ئے په دارینو عزت مند
په چا باندے چه اولړی چشمان ﷺ د محبوب

قسم دے که آدم نه تر قیامته د بل چا شته
صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ علیؓ یاران ﷺ د محبوب

خدمت چه څوك كوى هغه مخدوم د كل جهان شی
جبریل او میکائیل دی خادمان ﷺ د محبوب

ادنیٰ نه د اعلیٰ په درجه باندے فائز شی
په سرسترګو چه اومنی فرمان ﷺ د محبوب

باغونه د دنیا خود خزان په هوا اوچ شی
خزان کله راځی په ګلستان د محبوب

شاهان دکل جهان ئے د قدم خاورونه زار شه
چه هرڅوك وی په سچه عاشقان د محبوب

له نفس اوله شیطان اوله دوزخ نه تهٔ یریږم
صفت شته په قلم اوپه زبان د محبوب

لکهونه خلفاء او مریدان لری هر ځائے کښے
وارث حضرت خواجه سیف الرحمٰن د محبوب

خادم ظفرګل وائی بل ارمان م په زړهٔ نشته
خدمت په پاك حرم کښے دے ارمان د محبوب

❁❁❁❁❁

رباعی (۳۲)

چرته کښے ستا مخ منور چرته کښے نُورد افتاب؛
چرته خوشبو د زلفوستا چرته کښے بوئی د ګلاب

قسم په رب دے چه مخلوق کښے لوړمقام اولری
څوك چه خدمت باندے مامورشی ستا د در دَ کِلاب

څلور اطرافه د دنیا به ولے نه وی خړوب
چه رحمةُ اللعالمین لری د رحم درباب

دررسیدل اسان کار نه دے لوئے قسمت غواړی
چه دخپل مال و سرنه تیر شی هله شی به کامیاب
کون ومکان ئے خیال نه اوځی شی بے نیاز له دُنیا
څوك چه شی محو مطالعه کښے ستا دمخ دکتاب
دچا محراب چه دے مرکز دهر نعمت دپاره
نصیب موشه دهغه ذات د سرولبانو شراب
چاکښے چه نه وی ظفرګل خادمه عشق د رسول ﷺ
په دوجهان کښے نشته بل ترے نه زیات خانه خراب

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳۳)

احمد نبی سلطانه......قربان دِ د نامے شم
سردارِ دو جهانه......قربان دِ د نامے شم
الله پاك ئے ستائیلے......قران کښے په یٰسین
په واړو مرسلانو......کښے ته ئے بهترین
په تاشو رسالت تام......ئے ختم المرسلین
راز دار د لامکانه......قربان دِ د نامے شم
راتلو نه مخکښے ستا وو......دنیاکښے جهالت
چه ته راغلے دنیا ته......شو ختم رذالت

ددین اسلام بے حده.....تا اوکړو حفاظت
ته ئے شمع روښانه.....قربان دِ د نامے شم

الله صلوٰة سلام ...... وئیلے پتا باندے
په حُسن کښے خوبان.....شوستا حُسن ته لاند ے
له مورا او پلاره زیات.....امت ډیر پتا ګراندے
د رب په در کښے ګرانه.....قربان دِ د نامے شم

له مور او هم پلاره..... چۀ مونږه باندے ګران دے
قیوم د زمانے هم.....مجدد دوران دے
هغه پیر ارچی م.....خواجه سیف الرحمنؒ دے
فیض اخلم دے رنړانه.....قربان دِ د نامے شم

سیدنورعلی شاهؒ صیب.....دے تور م د چشمانو
د نمر پشان ځلیږی.....تولی کښے د ولیانو
آرام د خوږو زړونو.....د واړو سالکانو
دے ګران راته له ځانه.....قربان دِ د نامے شم

شوستا په جُدایئ کښے.....مرض م دَ طاعون
محبوبه ظفرګل شوم.....په مثل د مجنون
سوزیږمه په اور کښے.....رسوا کړمه بیلتون
نظرکړه فیض رسانه.....قربان دِ د نامے شم

❀❀❀❀❀

رباعی (۳۳)

په ډیر احترام اخلی خدا نامِ محمد ﷺ
خائسته شومره دے صَلِ علیٰ نامِ محمدؐ
قران کښے په جنت کښے هم دعرش په بازوګانو
کوم شان سره لیکلے مولیٰ نامِ محمدؐ

مزمل او مدثر پاك الله ورته فرمائی
مرفوع شو په تمامه دُنیا نامِ محمدؐ
یریږم ګناهونه م ډیر زیات دی په بدن
خاشحال یم په زړهٔ لیك دے ځما نامِ محمدؐ

خالق نه روستودویم مقام د شاهِ محترم دے
لوستلے شی په ارض وسماء نامِ محمدؐ
خادم ظفر ګل غواړی که امان ناروسقرنه
خپل ورد دِ کړی بیګاه او صبا نامِ محمدؐ

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳٤)

تور ښکلی چشمان لری...... څه عجیبه ښکلے دے
مخ د نمر پشان لری...... څه عجیبه ښکلے دے

دے پرے پاك الله مئین...... سپین مخ ئے رڼا کوی
ډیر ښکلی اخلاق ئے دی...... مینه په هر چا کوی
سپین جبین روښان لری......

داسے په طٰهٰ یٰسین...... وصف ئے سبحان کړے
دا په مومنانو خاص...... پاك الله احسان کړے
لوئے کتاب قران لری......

درویشت کاله عمر کښے...... ټول جهان ئے رنګ کړلو
بیا هم هر دښمن د دین...... دوئی سره به جنګ کړلو
صبر بے پایان لری......

داسے په مشرق مغرب...... هم شمال جنوب کښے ډیر
ویلی درودونه شی...... شته کمال محبوب کښے ډیر
ډیر زیات عاشقان لری......

نه به کړی صرفه په څۀ...... زار به مور او پلار کړی ترے
هم وطن او خپل بدن...... سر ومال به زار کړی ترے
خوك چۀ پرے ایمان لری......

یار صدیق اکبرؓ ئے دے......بل حضرت عمرؓ ئے دے
داسے ذوالنورین عثمانؓ......بل علی حیدرؓ ئے دے
ښکلی پاك یاران لری......

لوئے اعلیٰ مقام ته ئے......چرته مرسلان رسی
والضحیٰ رخسار ته ئے......چرته خوبرویان رسی
ښهٔ واللیل زلفان لری......

تل به ئے ظفرکل خادم......وصف د جمال کوی
څکه چه صفت ئے ډیر......پاك رب ذوالجلال کوی
دا رنګ جانان لری......څه عجیبه ښکلے دے

❁❁❁❁❁

رباعی (۳٤)

ستا لوئے کرم د رسالت مآب ته هیڅ نه رسی
جوړ ترے ثواب شی ستادعشق عذاب ته هیڅ نه رسی
سل صحیفے درے کتابونه پرے منسوخ کړل الله
محبوبه تاباندے نازل کتاب ته هیڅ نه رسی
شی ملاقی رب سره تا سره چه شی ملاقی
چه اطیعوالرسول نه شی وهاب ته هیڅ نه رسی

شفیع په حشر رسولِ کریم ختم الرسل ئے
کم کم بیان کړمه ستا یو خطاب ته هیڅ نه رسی

حسین ئے دومره چه الله درته حبیبؐ اووئیل
نورخولا څۀ چۀ ستا د دِرتراب ته هیڅ نه رسی

په والضحی رخسار دِ پاك الله قسم کړے دے
د زړه تکوره ستا بشر ګلاب ته هیڅ نه رسی

ستا صفتونه به مُنکر نَکِیر ته وړاندے کړمه
څما د لوری ئے بیا دے جواب ته هیڅ نه رسی

زه ظفر ګل خادم چه کوم طرف ته خیال کومه
په خوبرویانو کښے عالی جناب ته هیڅ نه رسی

❀❀❀❀❀

نعت شریف (٣٥)

حورے نقاب کښے پټوی بشر لتانه......د زړګی سره څما
اے په تهولی د مرسلانو کښے سلطانه......د زړګی سره څما

ستا دخائسته مخ جلوه کړ نه......دنیاروښانه شوه حبیبهؐ
ستاسو راتلو سره ماڼۍ هم......د کسرئ ورانه شوه حبیبهؐ

ګله د ګل په ورځے راغلے له بوستانه......

ستاسو رتبې ته مرسلان......نه رسي ته ئې بې مثاله
ئې مقتدا د همه وارو......دغه عظمت درکړو رب تاله
راز د خالق له تلې ئې تر لامكانه......

ښكلي دي ستا حُسن ته لاندے......ئې ډير حسين بدرمنير
شغلې دِ ځي له سپين رُخسارنه......لرے عاشق په ځان قدير
راتلو جبريلؑ به دِ خدمت له منتهیٰ نه . .

د مكے ښار كښې كافرانو......كوؤ پتاسو ظلم زور
چۀ مو هجرت كړو مدينې ته......كافران پاتې شو مخ تور
خوږے مكے نه مسافر شوے قدر دانه......

والله چه ستا د مخ انوار......بره د عرش په بام ځليږي
په جنتونو كښې حوران......كله ستا حُسن ته رسيږي
ټول خائستونه دِ هيركړي له رضوانه......

شفيع په ورځے د محشر ئے......د ګنهګارو مددګاره
سوال به كړے پاك رب العزت نه......د دِ غريب امت د پاره
ټول ګنهګار امت به بيائے له نيرانه......

ښکلیه د حشر په میدان......له شر مه نه شی کتے تاته
درب د پاره درته سوال کړی......اوکړه یو نظرِ کرم ماته
چه خواله راشه ظفرګل خادم نعت خوانه . دزړګی سره ځما

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳٦)

محبوبه جنتونه شه زار......ستا د روضے نه
هم زیړاو سرۀ ګلونه شه زار......ستا د روضے نه
جنت کښے چه دے......کوم یو نعمت
هم حورے غلمان، هر عمارت
کل واړه نعمتونه شه زار......ستا د روضے نه
دنیا چه وینم، ټوله اباده
بس داپه خاطر، محبوبه ستا ده
ځمونږ دغه مخونه شه زار......ستا د روضے نه
راځی ملائیك، د رب له دره
سحراوماښام، کښے اویازره
اے نُوره ټول نورونه شه زار......ستا د روضے نه
په خواکښے دِ یو، صدیق رض اکبر دے
قریب ورسره، حضرت عمر رض دے
خائسته لوړ محلونه شه زار......ستا د روضے نه

بهتـــره خــــاوره، ده تهــول وطـــن کښې
نسبــت چـــه لــری، ستـــاسـو بـدن کښې
د مشـکـو انبارونـه شه زار.....ستـا د روضـے نه
انـــوار تـــجـلـــے، لـــکـــه بـــاران
وریـــږی هـــمیـــش، ستـــا پـــه آستـــان
د فیـض تهول دریابونه شه زار.....ستا د روضے نه
لـــکهـــونـــه خـــلـــق، درځـــی سـلام تـــه
زړهٔ تـــګـــے لـــری، د میـــنـــے جـــام تـــه
دمینـــے بـازارونـه شـه زار.....ستـا د روضـے نـه
نسبــت ئــے ګــوره، څــو مــره اعـلــیٰ دے
مـــرشـــدپـــاك ؒ، نـــورعـــلـــی شـــاهؒ دے
څـمـونـږ سرومالونه شه زار.....ستـا د روضـے نه
حـــضـــرت مبـــارك، دارچـــی څـــوان
نـــامـــه چـــهٔ لـــری، سیـف الـــرحـــمنؒ
د اوښـکـو بارانـونـه شـه زار.....ستـا د روضـے نه
خـــادم ظـــفـــرګـــل، وائـــی اشـعـــار
پـــه خیـــال کښـــے لـــری، مـــدیـنـــه ښـــار
دا کُل واړه ښـارونـه شـه زار.....ستـا د روضـے نه

✿✿✿✿✿

نعت شریف (۳۷)

ښکلے م نبیؐ عربی......تور ښکلی زلفان چه لری

څومره چۀ دنیا کښے خوبان، یادی د کمال خاوندان
شپه ورځے لګیا دی کوی، وصف درُ خسار د جانان
مخ د نمر پشان چه لری......تور

یارِ غار صدیقؓ اکبر، بل فاروق اعظم دے عمرؓ
بل کان د سخا دے عثمانؓ، شیرِ خدا علی حیدرؓ
دغه پاك یاران چه لری......تور

حضرتِ موسیٰؑ به په طور، اوریدو کلام د غفور
ایښے دے قدم پاس په عرش، هاشمی قریشی حضورؐ
راز په لامکان چه لری......تور

شته ئے په نظر کښے شفا، هم خاورو د در کښے شفا
ریاض الجنت کښے موجود، محراب ومنبر کښے شفا
شین ګنبد روښان چه لری......تور

سخته ورځ چه شی دقیامت. هرانسان به وی په هیبت
یو د الله ښکلے محبوب. ګرځی به په غم د اُمت
خپل زړهٔ مهربان چه لری......تور

روره د محشرپه میدان، غواړی به بخشش له سبحان
کړی به جهنم نه بهر، واړه ګنهګار امتیان
دومره اعلیٰ شان چه لری. تور

اوبه کړی نظر د کرم، محبوبِ خُدا مکرم
نشته د خادم ظفرګل، ورځ کښې د قیامت ذره غم
دا رنګِ جانان چهٔ لری، تور ښکلی چشمان چه لری

۞۞۞۞۞

نعت شریف (۳۸)

ستا ښکلے حرم دے خامخا م ورله راوله
یا الله، خپل وطن نه بیا م ورله راوله
بخت به م اوچت شی د دنیا په بادشاهانو
خاورے د حرم به ښکلو مه په چشمانو
نن خو ورته ژاړم په خندا م ورله راوله

زړونــه دی راکــاږی ځـان تــه دځ نــه جدا کیـږی نـه
ښکلے بیت الله دے بالکل سترګے پرے مړیږی نه
ستــرګــے چــه وی خـکـتــه پـه حیا م ورلـه راولـه
ستــا د قـدرت دلتــه ښـکـلے ښکلے نظارے دی
دے مـطـاف ،حـطیـم او د زمـزم ښکلے چینے دی
ځـمــه چــځ صـفـا نــه تـر مـروا م ورلــه راولــه
ځـومـره بــه خـوشحال شم چـځ ترلے م احرام وی
داسـے عــرفــات ، مــزدلـفــه کښــے م قیـام وی
اولـم شیـطـانـان بــه تـر منـیٰ م ورلــه راولــه
کـړم پــه میـنـه میـنـه چـځ ستـا بیت نه طوافونـه
جـنـت الـمـعـلٰی کښـے هـم اوکـړم زیـارتـونـه
ویــنـم غـــارثـــور ، غـارِحـرا م ورلــه راولـــه
ځـو چــه لــه مـکـے نــه مـدینـے منـورے تـه
خــاص د مــحـمـدرسـول اللهؐ ښـکـلے روضـے تـه
زړځ خـوښـوی ګـنـبـد خـضــریٰ م ورلــه راولــه
ریـاض الـجـنـت نــه چــځ راځـو سلام د پـاره
مـواجـهــه شـریف تــه د خـائستــه قیـام د پـاره
وائـم سـلامــونــه بــه تــرخـوا م ورلــه راولــه

ویُم په مدهم ژبه چه محبوب ته سلامونه
هم چه د صدیقؓ او عمرؓ او کړم دیدنونه
جنت البقیع دے په ژړا م ورله راوله
وائی ظفرگل خادم په زړهٔ کښے م ارمان دے
دلته مدینه منوره کښے م جانان دے
سره دخپل مرشد نورعلی شاهؒ م ورله راوله

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۳۹)

دا د پاك الله د ښکلی شان د برکته
یاد چه مومنان یود ایمان د برکته
د کفر او د شرك او دبدعت تیارونه بچ یو
دا خود نبیؐ آخرزمان د برکته
د بنی کلب د گډو د ویختو هومره په شمار
خلاصیږی گنهگار به د شعبان د برکته
نیسی چه روژے وریسے خامخه اختر وی
د وصل خوند زیاتیږی د هجران د برکته
نورخلق ترے نه فیضیاب شی خو چه خپله پرے عمل کړی
مړهٔ زړونه ژوندی کیږی د قران د برکته

دی نفل ئے په فرضنو، فرض قبلږی په اویاوُ
حه بـانـدے اے رونـړو د رمضـان د بـرکتـه
کـه پـوئیـږو دقـران او دحـدیـث پـه مسـائلـو
اے رونـړو دا دحـضـرت نـعـمـانؒ د بـرکتـه
سکون او اطمینان چه په سینو کښے محسوسیږی
بیشـکـه دا د ذکـر د سبـحـان د بـرکتـه
خادمه ظِفرګله چه قلم راشی جزبه کښے
بیا لیکه پرے اشعار د مرشد جان دبرکته

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۴۰)

د زلـفـو تـار کښـے دے تـړلـے ئیـم
اے درب حبیبهٔ په زړګی باندے داغلے ئیم
زار دِلـه روضـے شم

چـهٔ اودریـدلـے لاس پـنـام درتـه
پـه ډیـر ادب او احتـرم درتـه
هم م لـوستـے صـلـوة سلام درته
ستـا بیـلتـانـهٔ پـه زرهٔ ویشتـلـے ئیم
راکړه د وصال مرهم ستا عشق کښے سوزیدلے ئیم

اے د الله محبوبه اوکړه کرم
چه ستا په لوری باندے واخلو قدم
په سترګو بیا اووینم ستاسو حرم
مخکښے خوشحاله درغلے یم
تنده نه ماتیږی دهجران تندے وهلے یم

ستاسو رضا کښے رب رضا ایښے ده
هم ئے دُنیا هم ئے عقبیٰ ایښے ده
ستاسو نظر کښے رب شفا ایښے ده
ستا اخستلے نه شم غلے یم
حوار مے شفا ستا د فراق تبے زپلے یم

ګلے نه ریاض الجنت ته درشم
هم مخامخ درله زیارت ته درشم
دے ډکے غیږے د رحمت ته درشم
د غم دریاب کښے پریوتلے یم
یم به خوش نصیب چۀ دِ روضے ته اودریدلے یم

ستا په دربار کښے بادشاهت ملاؤ شی
د ګناهونو مغفرت ملاؤ شی
جنت ملاؤشی آخرت ملاؤ شی
اهل دُنیا ځان نه شړلے یم
ستا مینے ملنګ ستا په کوڅه کښے کینولے یم

زۀ ظفر گل ډیر ملامت یم ګله
په ګناهونو کښے لت پت یم ګُله
خوامیدوار د شفاعت یم ګُله

نفس و شیطان راپرزولے یم
شکر دے مرشد د کرم لاسو کښے نیولے یم
زار دِ دَ روضے شم

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۴۱)

وطن د حبیب ﷺ م په زړۀ راوریږی
وریږی وریږی وریږی وریږی

وطن د حبیب ﷺ راته ګران له جنت دے
له سترګو م تل د غم اوښکے بهیږی

مجنونه خبر شه څما د محبوب نه
لیلیٰ کله حُسن د یار ته رسیږی

منصور ؒ انا الحق بانددے اوختودار ته
بلال ؓ تودو شګو کښے نه خفه کیږی

دیار تورزلفو کښے ځان بندیوان کړه
ستا مینه به هله د زړۀ قائمیږی

عاشق به په شوق سره ذکر د هُو کړی
په ذکر د هُو سره روح خوشحالیږی

دا مونږ چه لمن ئے نیولے ده لاس کښ
دا ګل پیرار چی په لاهور کښے اوسیږی

خادم ظفر ګل چه روان دے رنړا کښے
دا ستورے په چم د تارو کښے ځلیږی

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۴۲)

څۀ رنګے مجنونه په زار زار به ژړیدلے
کله به چۀ سترګے د لیلیٰ دِ نۀ لیدلے

ګرم نه دے بلال چۀ په آقا پسے ژړا کوی
اوګوره چه غوښے ئے په عشق کښے سوزیدلے

دا رنګے خلیلؑ چه په سور اور کښے ورګزار شولو
زخم د ذبیحؑ په بدن نۀ دے لګیدلے

خیال اوکړه حُبیبؓ ته چه په دار باندے قربان شولو
اوګوره منصور ته د نور شمعے بلیدلے

اوګوره ثوبانؓ ته څخوی اوښکے د سترګو نه
سترګے ئے په مینه د حضورؐ کښے غړیدلے

دے دور کښې اوګوره لکھونه عاشقان لری
غر د پیر ارچی م تول جهان ته رسیدلے
دا خو حقیقت دے ظفرګل خادمه خوند کوی
ته چۀ په ګلشن کښې د تارو او چغیدلے

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۴۳)

ارمان دے چه حساب وے ستا د در خاورو ایرو کښې
د زړۀ بلبل م تل وی د فراق نعرو سورو کښې
د غم عظیم دریاب کښې به ترکومے په لامبو ئیم
ننګ او ناموس م بیلود ستا د عشق په جوارو کښې
شبنم اوښکے م هر وخت د رُخسار په ګل پرتے وی
نصیب به م کمے وی د قسمت په ستارو کښې
دا ستا د درِ دَ خاورو ښکلے ول م تمنا ده
نسکور لکه مجنون وے ستا دمُلك په جزیرو کښې
دا غلے زړۀ به لاړ شم تورو خاورو ته دُنیا نه
تر څو به ژوند تیرومه د هجران په کتارو کښې
ژړیږمه له غمه بیلتانۀ م زړۀ سورے کړو
پتنګ کله خوشحال وی بے له شمعے په تیارو کښې

ازل نــه لــوغــړن ئـم دغـه چـاره د تـقـديـر دی
سـلـگـئ وهـمـه زانـگـم د فـکـرونـو گـوارو کښې
خادم ظفرگل هله به شي پاس په امتحان کښې
چۀ ستا عشق ئې پهانسی کړی د حرم په کنارو کښې

❁❁❁❁❁

نعت شريف (٤٤)

شم ستا د ښکلی مخ زيبا نه قربان
هـم د واليـل اذا سـجیٰ نـه قربان
قـران تـعـليـم ئـې د تـعـظيـم ورکـوی
شـم دِ د هـغـه اقـربـا نـه قـربـان
وؤ ستا محبوب تاسو محبوب د هغوئ
د راشـديـنـو خُـلـفـا نـه قـربـان
يـو مونځ پکښې قبول په يو لاکه باندې
شـم د مـکـې ام الـقـرئ نـه قـربـان
کوم ځائې کښې تاسو چه ئئ جلوه افروز
د هـغـې گـنبدِ خُـضـرئ نـه قـربـان
زمـری ځنـگـل کښې ورتـه لاره ښائـی
ستـا د اصـحـابـو د ويـنـا نـه قـربـان

قران حدیث باندے ئے مونږه پوئے کړو
شم ستا د دین د فقهاء نه قربان

خپله وی پاك نورخلق هم پاکوی
د طریقت اهلِ صفا نه قربان

چه پاکستان ئے ټول کړو ګل وګلزار
د پیر ارچی غوندے آقا نه قربان

ئیم ظفرګل خادم د زړهٔ له صدقه
د خپل مرشد نورعلی شاهؒ نه قربان

نعت شریف (۴۵)

داسے نشته د بل چا مخ	لکه دے حبیبؐ ستا مخ
په یو لاکه خلیریشت زره	غوره ډیر دے ستا زیبا مخ
د یوسفؑ نه هزار واره	دے خائسته ستا والضحیٰ مخ
ستا د مخ له برکته	رب پیدا کړلو څما مخ
په حُرمت د سپین بشر دِ	رابنکاره شو د دنیا مخ
د چمن ګلونه واړه	پټوی ګله لتا مخ
په خادم ظفرګل خیال کړه	ګرځوی تور د ګناه مخ

نعت شریف (٤٦)

قسم دے قدرمنده په هر چا مدینه ده
وطن ډیر مبارك د مصطفیٰ مدینه ده

چه راغے مسافر ورته مکے معظمے نه
بالا په هر یو ښار دَ دے دُنیا مدینه ده

یثرِب وؤ د یثرِب نه مدینے په نوم بدل شو
د یار له مخ گرانه په الله مدینه ده

انصار د مدینے د مدني یار نه فدا دی
د دِ خلقو په وجه خو زیبا مدینه ده

رضوان گوته په خُله حیران ولاړ دے مدینے ته
ښائسته خلقه په گنبد خضریٰ مدینه ده

محبوبِ کبریا صدرُالعُلیٰ پکښے موجود دے
په وجه د صدیقؓ عمرؓ اعلیٰ مدینه ده

الله عزت ورکړے دے بیشانه مدینے ته
بالا خدائیگو په جنت المأوٰی مدینه ده

خادم ظفرگل وائی شم قربان له مدینے نه
مجنون وریسے ئم ځما لیلیٰ مدینه ده

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۴۷)

ته ئے بالا واړو مرسلانو کښے
نشته ثانی ستا د مخ خوبانو کښے

ستا په ذاتِ پاك دے رب قسم کړے
ئے حسین په ټولو حسینانو کښے

ذکر د کوم ښار چه په قران کښے دے
ئے د ځغه ښار په بادشاهانو کښے

واړه اصحاب پشان د ستورو دی
غوره دی څلور ستا په یارانو کښے

خوخے د بلال پنړے الله ته وے
ځکه ئے چغار وؤ په جنانو کښے

حُسن ستا د مخ تقسیم هرچاته دے
ورنه نشته حُسن په حورانو کښے

ستا زلفو کښے څومره خوشبوئی چه ده
داسے خوشبوئی نشته ګلانو کښے

لوئے لوئے بادشاهان ستا دحرم په خاك
ځان حسابوی په ګدایانو کښے

پیر ځمونږ خواجه سیف الرحمنؒ چه دے
لوئے شان دے ورکړے رب پیرانو کښے
دے خو د سید نور علی شاهؒ غلام
شمار که ظفر ګل کړی غلامانو کښے

نعت شریف (۴۸)

یادیږی م هروختے سپین رُخسار د مصطفیٰ ﷺ
رحمت هر وخت وریږی په دربار د مصطفیٰ ﷺ
منصورؒ په سرد دار ترے نه قربان کړلو خپل سر
بلالؓ لوګے لوګے شو په انکار د مصطفیٰ ﷺ
یوازے زلیخا که د یوسفؑ مینے بندی کړه
په زلفو کښے هر کس دے ګرفتار د مصطفیٰ ﷺ
زاری هر وخت په در کښے د مولیٰ رب العزة کړم
داخل م کړے خالقه په مزار د مصطفیٰ ﷺ
بیشکه چه خائسته دی د جنت حورو غلمان
خو چنده ترے بشر دے حُسندار د مصطفیٰ ﷺ
قسم دے په دارو په دوایانو نۀ رغیږی
چه کوم زړۀ شی په مینه کښے بیمار د مصطفیٰ ﷺ

د ښـغـــه بـختـورو دِ سـل ځـلـــه مبــارك وی
شپــه ورځ چـــه دی سیـرابـــه پـه دیدار د مصطفیٰؐ

یــا ربــه ظفـرګـل خــادم د یــارغیـږ ےلــه بوځـه
تــرڅــو بــه وی فـراق کښــے نـاقرار د مـصطفیٰؐ

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۴۹)

چـۀ تـۀ م زړۀ کښــے اوسے ورته غم کله راځی
چـه خیـال نـه م بهـرشـے بیـائـے دم کله راځی

وفــا اومــحبـت چــه ئـے لــه کـوره پیـدا واروی
د داســے دلبــرانــو نـــه ستـم کـلـــه راځـی

دوه ستــرګـے م څـلـور شوے انتظار او انتظار دے
نـــمبـــر بـــه د لیــدو م د حـرم کـلــــه راځـی

درځم چه ځان لوګـے کړم ستا دښکلی مخ پـه شمع
دلــوری ستـــا اواز بـــه د نـعـم کـلــه راځـی

کـه خوب کښـے دیدن راکړے دا عظیم احسان دے ورنه
ګـیـلـــه تـانـــه مـحبـوبـه م پـه فـم کـلـه راځـی

ښغه به ترے انکار کړی چه د زړۀ سترګـے ئـے نه وی
انــوار چــۀ دِ عــرب نــه تـر عـجـم کـلــه راځـی

د سترګو او د زړۀ فرش به په لاره ورته خورکړم
محبوبه چۀ په لورم ستا قدم کله راځي
خادم ظفرګل وائي د عشق درد دِ وفا دار دے
بے تا نه قرارے ئے په مرهم کله راځي

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۵۰)

خدائیګو دیدنونه دآقا به بختور کوی
مونځ شام وسحر کوی . ښکلے مدینه ګښے
څومره بختور خلق . درومی په سفر خلق
ډیر دی معتبر خلق
خاندی خوشحالیږی د مکے نه چه سفر کوی
ګوری چه روضے ته څوك . هرے دروازے ته څوك
دے خوند او مزے ته څوك
ژاړی په سلګو چه سلامونه په دلبر کوی
اخلی چه قدم قدم . ځائے ګښے د حرم قدم
خواګښے د ګلفم قدم
بیا په مینه مینه چه جنګلے وته نظر کوی

څوک چه شي ګدا پکښې . ښکاري به بادشاه پکښې
راشـي يــو رنــړا پــکښـې
فـخـرد جهـان پــه بـادشاهـانو ئـې قلندر کړی

ګوري چــه مزار ښـکلـې . دغــه پاك دربار ښکلې
ژاړي پــــه زار زار ښــکـلـې
هـم چــه سلامونــه پــه صديقؓ او پــه عمرؓ کوی

ګنبدِ خضـرئ کتـل . دشـت غـرونـه صحـرا کتل
شيــن غـلاف تـــه بيــا کتـل
ډيـر دی خوش نصيب ديدن د ښکلی پيغمبرؐ کوی

خـوار ظفر ګـل ځـان تـه تـۀ . اوغـواړه بُستـان تـه تـۀ
ســوال اوکـړه سبحـان تـه تـۀ
څــو پـورې ګـزران بـه ډك لـه غم پـه ينبـور کـوی

نعت شريف (۵۱)

اوغــواړه مــا د خـدائـې د پـاره د الله محبوبــۀ
دلتــه کښې تنګ شـوم لـه اغياره د الله محبوبـۀ
د فـراق اوښـکـې م پـه مـخ لـکـه باران څاځي
ګـرځـوم تـل سيـنـه بيمـاره د الله مـحـبـوبـۀ

په والضحیٰ مخ چۀ خورے کړے د والیل زلفانے
عاشق کرم کړے سم له واره د الله محبوبهٔ

مرګ به اختر شی چۀ په شونډو دِ مسکا اوونیم
لکه حُبیب د سر د داره د الله محبوبهٔ

من تن او دهن کړل عاشقانو دپتنګ په مثال
لوړے لوړے ستا له رُخساره د الله محبوبهٔ

خپے ابله خپے او سرتور سر به هم خوشحاله ئیمه
خودر روان دا ستا په لاره د الله محبوبهٔ

بغیر لتام په خُله بله وظیفه نشته دے
صلوة سلام وائیم بے شماره د الله محبوبهٔ

ستا محبت کښے همیشه وائی خادم ظفرګل
ګران راته ئے له مور او پلاره د الله محبوبهٔ

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۵۲)

چه ستا جمال ئے اولیدو قمر او شرمیدهٔ
د نُور تجلیاتو نه دِ نمر اوشرمیدهٔ

ورکړے ورقه وه ګواهی د رسالت ستا
بشر نه دِ حورو غلمان بشر اوشرمیدهٔ

اثر دومره سوا دے ستا د سترګو په کتو کښے
چه کوری خوبرویان درته نظر اوشرمیدهٔ

چه والضحیٰ دِ مخ شو تورے زلفے دِ والیل شوے
یودم کښے درنه شام او هم سحر اوشرمیدهٔ

په بیت المقدس کښے شوے امام د مرسلانو
عظمت نه ګله ستا هر پیغمبرؑ اوشرمیدهٔ

ته لاړے منتهیٰ نه بره راز له د مولیٰ
تنها سفر نه ستا د جبریل پَر اوشرمیدهٔ

خوشحاله ظفرګل خادم دے ستا چه اُمتی دے
د دغه خوشحالونه ئے اختر اوشرمیدهٔ

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۵۳)

دخدائے رسول په مینه کښے بیمار به ځی جنت له
اختیار چه دغه لار کړی په دے لار به ځی جنت له

چه زړهٔ کښے ئے حاضر دیار د مینے تصور وی
چهٔ ځان نه ګڼړی یار خوږ دغه یار به ځی جنت له

هر چاته ده معلومه په مناسب دخپل عمل به
یو نیم زر کاله لاړ ده پدے لار به ځی جنت له

چه دلته ئے وفا کړے په حکم د مولیٰ وی
وفا وفا وی هغه وفادار به ځی جنت له

چه نه وی ازلی شقی بدبخت څوك د ازل نه
دنیا كِ كه ډیر خوار وی دغه خوار به ځی جنت له

جنت دوزخ پخپل لاس كِ دی سوچ فکر پرے اوکړه
دوزخ له بد کرداره نیك کردار به ځی جنت له

د خدائے او د رسول او اولیاءُ چه دښمن وی
د دۀ سره همیش له دشمندار به ځی جنت له

خادمه ظفر ګله والیل زلفو کښے بندی شه
د خوږ محبوب د زلفو ګرفتار به ځی جنت له
اختیار چه دغه لارکړی په دے لار به ځی جنت له

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۵٤)

لرم په زړه کښے ارمانونه
اے د رب حبیبہؐ......مونږ ځان ته اُوغواړه
راکړه څوځلے دیدیونه
اے د رب حبیبہؐ......مونږ ځان ته اُوغواړه

بختور خلق در چلیږی
ستا د روضې نه قربانیږی
خواکښې دِ وائی سلامونه

کاش چه نصیب مو دا سفر شوې
مونږ مدینې ته مسافر شوې
راحت ګڼړمه تکلیفونه

ښکل به ئې کړم په شونډو باندې
که دا احسان په مونږ اوکاندې
ستا د کوڅو هغه ګردونه

چه روح او زړه م منور کړی
راکړه مراد چۀ راله سر کړی
ستا د ګلشن خائسته ګلونه

هغه وطن دِ ډیر رڼا کړو
یثرب نه تا دارالشفا کړو
چه تا پرې کیخول قدمونه

مکه کښې ستا سو ولادت وؤ
هم مدینې ته مو هجرت وؤ
غوره دِ کړل دواړه ښارونه

چرته چه کفروؤ تیارے وے
د ظلم جبر طریقے وے
تاترے خوارۂ کړل چراغونه

خپل مال وسر به در لوګے کړم
د شین ګنبدنه سپیلنے کړم
کړه مو نصیب دغه بختونه

زۂ ظفر ګل په محبت
د خپل مرشد په برکت
جوړوم ستا ښکلی نعتونه

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۵۵)

د شین ګنبد سره لس ښکلے منارے دی
والله څۂ ښکلے ښکلے نظارے دی

رائحی د پاسه پاسه نه پرے نور
دا دے حرم د پاک حضورؐ
دے پرے لوئے فضل فضل د غفور
د شپے او ورځے د صلوٰة سلام نعرے دی

کـړه د جنګلے جنګلے سره قیام
لوله پرے ډیر ډیر درود سلام
ورکـړه سینے سینے ته دے آرام
ګوره جنګلو ته چه پردے پرے راخورے دی

ادب نه ډك ډك دغه دربار دے
موجود د دوؤ دوؤ کونو سردار دے
ورسره خوا خوا کښے صدیق رض یار دے
بل دے عمر رض په دے روضه کښے یاران درے دی

سلام نه پس پس لاړ شه بهر شه
باب بقیع بقیع طرف ته ورشه
لګ شین ګنبد ګنبد ته په نظر شه
ګنبد ته ګوری دعشاقو سترګے سرے دی

د رحمتونو رحمتونو پرے باران دے
د سرو ګلونو ګلونو ګلستان دے
پکښے عثمان رض عثمان رض بن عفان دے
دغه بقیع کښے د اصحابو مقبرے دی

راغلی بنځے بنځے او که نر دی
ټول په درود درود او سلام سر دی
دا خلق بیحده بیحده بختور دی
چا چه د یار په خوا کښے کړے شبګیرے دی

Scanned with CamScanner

د اُحـــد واړه واړه شهـــداء تـــــه
اوکـــړه ســـلام ســلام امیـــر حــمــزهؓ تــه
هــم ورشـــه مسـجـد مسـجـدِ قبـا تــه
پــه دوؤ رکـعـاتـو ثـوابـونــه د عُـمـرے دی

د مـدینـے مـدینـے پـاکـے نـه زار شه
د مـحبوب خـوا خـوا کـښـے پـه چغار شه
حبیــب قــاری شـکـر ګـزار شـه
چـه دِ پـه خُلـه دظفر ګل خادم فقرے دی

۞۞۞۞۞

نعت شریف (۵٦)

اے د مـدینـے زمکـے تـه څـو مـره بختوره ئے
تـا کښـے دے سـرور نبیؐ
خـورم قسم چـه تـه د هـر مقـام نـه راتـه غوره ئے
تـا کښـے دے سرور نبیؐ

شـوے پـه مکـه کښـے وؤ دے ثانی جنت کښـے
ستا چه په نصیب کښے وؤ راغـے په عزت کښـے
ډیـرو درجـو کښـے دَ د ے وجـے معتبـره ئـے

تاته په هجرت باندے راغے بیت الله نز
خوږ وطن ئے پرېښودو ته شوے قدردانه
ځومره معززه ، مبارکه ، منوره ئے
ښکلے د مکے ښار نه لاړلو اقصیٰ پورے
شپه کښے د معراج ښکلے شو قریب الله پورے
تاله آخر راغے د ازل نه ناموره ئے
پرېښول جنتونه ئے ته ئے ځان له خوخه کړے
فخر په اسمان چه کړے تول دَ دوئ له مخه کړے
واړه جنتونه درنه زارشه معطره ئے
بخت دِ ډیر بلند وینم تاکښے دی یاران ښکلی
ستا غیرۀ کښے خوب کوی ډیر اصحابان ښکلی
نورے زمکے لاندے ته په واړو کښے بهتره ئے
غواړم ظفر ګل خادم دِ سوال کوم مولیٰ ته
پروت ئمه جولئ کښے خپل مرشد نورعلی شاهؒ ته
ګرانه مرشدجان ته م سره د تول تېره ئے
تاکښے دے سرور نبیؐ

نعت شریف (۵۷)

ارمان دے چه رو رو ښکلی حرم کښے ژړیدے
پشانِ د بلبل ئے په ګلشن کښے چغیدے

یا خاوره د دربار وے د آقا نبی سرور
یا کانړے دروضے مطهرے وے د دلبر

یا وے جارو په لاس کښے جاروکش د یار دَ در
یا ناست ئے وے په خواکښے چه مِ اوښکے څڅیدے

یا ګرد وے د کوڅو د پاك رسولِ مدنی
یا وے لکه بلالؓ د یار د مخ نه قربانی

یا ختمه وے دیار په محبت کښے مِ ځوانی
یا وے شمع په درد دَ هاشمی کښے بلیدے

ډیر زیات به بختور ووم که حجاز مِ وے وطن
لوګے اوسیپلنے مِ د آقا نه وے بدن

روضے سره په خواکښے وے سلګئ د زنکدن
د جنت البیقع په مقبره کښے خخیدے

کاش ربه ظفرګل د یار دمخ نه وے فدا
نظر ئے لګیدلے تل په ګنبدِ خضرا

بادشاه به وے که وے د خپل محبوب درکښے ګدا
بیا ولے به ئے زړهٔ هزار خوانئ کښے سوزیدے

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۵۸)

ډیر ښکلے جمال لری ځمونږ ښکلے جانان
دے عربی هاشمی، هو، هو
ستائیلے په طه او په یسین دے پاك سبحان
دے عربی هاشمی، هو، هو

نشته دے مثال ئے د جمال بشریت کښے
داسے بے مثاله دے په کل نورانیت کښے
ځائے په ځائے صفت ئے الله کړے په قرآن

ښکلے دے په ښکلو کښے دهر ښکلی نه ښکلے دے
رب په خپل کلام کښے په اعلیٰ لقب ستائیلے دے
ښکلی نور د دوئ پشان نشته په جهان

مخ باندے د دوئ پیدا زمونږ دغه مخونه دی
نمر سپوږمئ له دوئ نه حاصل کړی خائستونه دی
شول پیدا دَ دوئ په خاطر دا زمکه اسمان

میاشت کښے د ربیع الاول کُل کښے کُل پیدا شولو
څومره منور پرے ښکلے کور د عبد اللهؓ شولو
دے رحمة العالمین پرے ګران دی اُمتیان

وخت د ولادت کښې ئې امت لـه دعاګانې کړې
ډیرې ئې د پاك الله پـه در کښې ژړا ګانې کړې
ربِّ هـب لـی اُمتـی ویـنـا سـره ګـویـان
کړې راز موسیٰؑ دې کـوه طور کښې د مولیٰ سره
پاتې جبرائیلؑ وؤ د محبوب نـه منتهٰی سره
راز څمونـږ محبوب کـړې د رب پـه لامکان
مـونـږ ئـې د الله او د رسـول سـره اشـنـا کـړلـو
هم ئې سر د خدائې پـه ذکـر تـل بیګا صبا کړلو
دا احسـان مـنـو بـه دخـواجـه سیف الـرحمنؒ
وائی ظفر کـل خـادم صفت بـه ئې مدام کړمـه
د دوئ پـه صفتـونو به خائسته ځان له کلام کړمه
تـل ژونـدی کـوم سـنـت د حـضـرتِ حسّـانؓ
دې عـربـی هـاشـمـی، هو، هو

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۵۹)

مـخ دې دومـره ډیـر دې جـلـودار اشـنـا
نشتـه دې ثـانـی دِ دَ رخسـار اشـنـا
لاړو پـه یـوسفؑ پسـې نـظـر د پـلار
تـا پسـې هـر څـوك ویـنـم بیمـار اشـنـا

Scanned with CamScanner

بیابـه دلیلیٰ نوم پـه خُولـه وانـخلی
تـانــه کــه مـجنون شو خبـردار اشنـا

ټول جهـان مِ یـوخپـه بـاندے چانړکړلو
نشتـــه چـرتـــه ستـا پشــانِ یـار اشنـا

څــو پــورے چـــه تـاسره م میـنـــه ده
اوبــه نــه کـړم ستـا دخفگـان کـار اشنـا

څوك كـه پرے بدلـه کښے راکوی جنت
وربــه نــه کــړم ستــا دَ زلـفو تـار اشنـا

یـوځـل کـه دَ مخ نـه نقاب لرے کړے
شـم بــه درنـــه زرکــرتـــه زار اشنـا

ســوال کــوم هــمیـــش زۀ ظفرگل خـادم
شَـم کـــه خـادمـانوکښے دِ شمـار اشنـا

❀❀❀❀❀

نعت شریف (٦٠)

تاتـه هـجـرت کـړے دے حضرت پـه سختـه لاره
اے مـدینـے ښاره گرانـه......اے مدینے ښاره

تاکښـے عـاشـقـان اوسیدل مونږ ورته انصار وَایُو
مخکښـے پـه یثرِب یادیدے اوس د نبی ښار وایُو
ستـا حُلیـه پـه دے زیـورشـوه ډیـره حُسـنداره

تـا تـه چـه تشـریف راوړلـو رحـمة الـلعا لمین
شول صدیقؓ عمرؓ عثمانؓ ستا په لور مهاجرین
تـا پسـے سینــه د شیـرعلیؓ وه نـاقـراره
حق کښے دَ اُم الـقـرئ کړے وه دُعـا خلیلؑ
ستـا حـق کښے دعـا کړے پاك رسول اللهﷺ جمیل
سر ورکئ عـاشق ستـا پـه نـامـه خیرالامصاره
قـدر ستـا پـه زړونـو کښـے پـروت د عاشقانو دے
تـا نـه زار حُبیبؓ ، حـمزهؓ ، نمر د شهیدانو دے
خیـژی پـرے یـربـږی نـه لـه تُورے هم لـه داره
تـاکښے د الله رسـولﷺ اوسـی تـر قیامت پورے
ټول عـالـم حیـران ویـنـم ستـا قدرو قیمت پورے
اخلی خـوشبـوئـی مخلـوقات ستا لـه نوبهاره
جنـت البیقـع کښـے دی ستـا د بـاغیچے ګلان
فـخـر کـړه پـه هـر زمین فخر کړه پـه هـر بوستان
کـلـه بلبـل تـلـل غـواړی واپـس ستـا لـه ګلزاره
کـاش چـه اودریـدلـے وے ګنبـد خضرئ سـره
عـطـرم شیـنـدلـے وے پیـر نـورعـلی شاهؒ سره
سـرو مـال مـو دواړه نـزرانـه وے سـتـا دپـاره

تل به ظفر گل خادم ستا ثنا صفت کوم
ذکر هر محفل کښې به ستا د فضلیت کوم
شرم هر بلبل کوی ځما دَ دے چغاره
اے مدینے ښاره گرانه.....اے مدینے ښاره

۞۞۞۞۞

نعت شریف (۶۱)

خپے اِبله سرتور سر په مدینه کښې گرزیده
لتانه زاریده.....ستا خواکښې ژړیده
رحمت راوریده.....گُله رحمت راوریده
دپاك الله انوار.....راتلے قطار قطار
وے اوښکے په رخسار
روضے نه دِ په شان د پتنگانو تاویده
محبوبه مدینه کښې.....ارمان لرم سینه کښې
وے ناست دِ شنه روضه کښې
غمونه به م رور رور د سینے نه کمیده
ستا خواکښې وے قیام.....سحر او په مابنام
په خُله م وے سلام
نجدیانو لرے کولے او زه بیا واپس کیده

په ریاض الجنت کښې......مشغول وے تلاوت کښې
کتــــے ﹰم هـــــر ســـــاعـــــت کښـــــے
هـم ژبـه ﹰم شـروع پـه صـفـت ستاسو چلیدے
صـدیقؓ اوهـم عـمـرؓ ته......هـم ستا قبرِ انوار ته
هـــــم خـــــاورو ستـــــا دَ درتـــــه
پـه جـنـت البقیع کښـے صـحابه ؤ ته اودریدے
مـلګری م دوستان وے......وطن عربستان وے
رهبـــــر مـــــو مـــــرشـــــد جـــــان وے
خـادم ظفرګل وائی ستا دربار کښـے اوسیدے
رحـمـت راوریـدے کُـلـه رحـمت راوریدے

✿✿✿✿✿

نعت شریف (٦٢)

غـــوارمـــه غـــوارم دیـــدارِ نبـــیؐ
ئـــمـــه عـــاشـق دَ رُخســـارِ نبـــیؐ
نشتـــه عـــلاج م طبیـــب ســـره نـــور
زۀ ئـــمـــه خـــلـقـــه بیـــمـــارِ نبـــیؐ
نـــور ارمـــانـــونـــه م شـــاتـــه کـــړل تـــول
شتـــه یـــو ارمـــان ﹰم دَ ښـــارِ نبـــیؐ

Scanned with CamScanner

بیا دخزان ورسره نه وی کار
څوك چه شی ګُل دګلزارِ نبیؐ

دید به شی عید شفاعت به واجب
سترګے چه وینی مزارِ نبیؐ

ټوله دنیا به پرے شی عاشقان
څوك چه عاشق شی په یارِ نبیؐ

اخلی سودا دَ دُنیا آخرت
کړی چه سودا په بازارِ نبیؐ

رشك به کوی پرے شاهان د جهان
څوك چه پهانسی شی په دارِ نبیؐ

لرے به زرشی تیارے د لحد
راشی یودم چۀ انوارِ نبیؐ

شی به آسانه سختی د محشر
ټول خلق به کړی انتظارِ نبیؐ

پیرِ ارچیؒ نه زر وارے قربان
کرم چه روان ئے په لارِ نبیؐ

نظرِکرم دے د نورعلی شاهؒ صیب
زړۀ کښے لرمه چۀ پیارِ نبیؐ

Scanned with CamScanner

کرم ظفر کل خادم شکر د رب
لیکم په مینه اشعارِ نبیؐ

۞۞۞۞۞

نعت شریف (۶۳)

سحر ماښام م ستا د پاك حرم دیدار کولے
کاش چه مدینه منوره وے څما کلے
ناست وے په لیلُ النّهار
کولے م چه ستا دیدار
نه وے څما بل یو کار
جنګلو سره په خواکښے کوزے سترګے اودریدلے
تاته مخامخ قیام
وے څما په صبح و شام
ویلے م درود سلام
شبنم غوندے م اوښکے له چشمانو وریدلے
ګر چه نالائق یم
دے قول کښے صادق یم
خو وایم چه عاشق یم
په شونډو ګنهګارو م روضه ستا ښکلولے

Scanned with CamScanner

میـنـے مـحبـت سـره
هـم پـه ډیـر عـزت سـره
پـورتـه هـر سـاعـت سـره
د شیـن ګـنبـد طـرف تـه م بنـړو لانـدے کتـلے
شـی بـه م عـزت نـصیـب
هـم بـه شـفـاعـت نـصیـب
شـی کـه م زریـات نـصیـب
وَجَبَـت لَـهُ م احـادیثـو کښـے لیـدلـے
تـول عـاشـقـان جـمـع وے
سـتـرګـے م پُـر نـمـه وے
سـتـا د رخـسـار شـمـع وے
زۀ لـکـه پتـنګ پـه دغـه شـمـع سـوزیـدلـے
خـواکښـے بـخـتـور لـرے
یـار صـدیـق اکبـر لـرے
بـل حـضـرت عـمرؓ لـرے
د دواړو پـه حـضـور کښـے سلامـونـه م وئـیلـے
فـضـل د جـلیـل بـانـدے
بـابِ جبـرائیـلؑ بـانـدے
راغـے پـه تعـجیـل بـانـدے
نعـتـونـه م پـه ریاض الجـنت کښـے جـوړولـے

مزار دے د عثمان ؓ پکښے
ډیر اصحابان پکښے
شی تازه ایمان پکښے
په جنت البیقع کښے ورته ډیر اوژړیدلے
د ستر ګوئے رنړا چۀ وه
فاطمه زهرا ؓ چه وه
ډیره باحیا چۀ وه
د نور شغلے دَ دے له مبارك مزار ختلے
مسجد قباء کښے وے
ناست هُغه فضا کښے وے
ستر ګے په ژړا کښے وے
اُحد ته د حضور ؐ د کاکاجان مزار له تللے
خلقه په جهان ځما
دے په زړۀ ارمان ځما
وے چه مرشد جان ځما
لاسونه مو کچکول غوندے جالئ سره نیولے
خلق چۀ وے ولاړ قطار
خاص د مدینے په ښار
جوړ وے ستا دمینے دار
وائی ظفر ګل خادم چۀ زۀ پرے ورختلے

نعت شریف (٦٤)

ښکلے پیغمبر م محمد آخر زمان دے
پاک رسول الله ﷺ
خورم قسم چۀ هرچانه د رب په در کښے ګران دے
پاک رسول الله ﷺ

هغه چه نبیانو ورته لاس د سوال نیولے دے
هغه چه رب خپله په صلوٰة سلام ستائیلے دے
هغه چه خدمت کښے جبرائیلؑ ئے ګرځیدلے دے
هغه چه دارینو کښے هرچا غوره منلے دے
هغه چه روښانه ئے په مخ تمام جهان دے

خُلقِ عظیم رب ورله ورکړے دے عظیم خطاب
نشته د جنت ګلو کښے په خلقه دا رنګ ګلاب
څنګه چۀ دنیا کښے دے د واړه انبیاء نواب
دا رنګِ په ورځے د قیامت به وی عالی جناب
ګنهګار امت د پاره هر وخت په ګریان دے

مینځ کښے لا د روح او د جسد پروت وؤ آدمؑ نبی
هغه وخت کښے هم م پیغمبرؐ وؤ محترم نبیؐ
اول و اخر دے مصطفیٰ خیرالامم نبیؐ
شمار ئے په امت کښے دے عیسیٰ ابن مریمؑ نبیؑ
دومره په درګاه د ذوالجلال کښے قدر دان دے

رب ئے پـه قـرآن کښـے صـفـت کړے پـه یٰسین
زلـفـے پـه والیـل پـه والضـحٰی سره مخ سپین
روستـو دعـویدار تـرے راتـلـے نـه شي پـه یقین
ختـم نبـوت دے پـرے دے ختـم الـمرسلیـن
ځائـے پـه ځائـے صفت ئے اللّٰه کړے پـه قران دے

حُسـنِ یـوسفؑ تـل د دوئـی د حُسـن تـماشا کوی
کـلـه د افتـاب مـخکښـے چراغ خپلـه رنړا کوی
یـو حُسـن هغـه دے چـه دیدارِ ئے زلیخا کوی
دا حُسـن هغـه دے چـه ستا ئینـه ئے مولا کوی
شـمـس و قـمـر تـل ګـوتـه پـه خُله ورته حیران دے

وائـی ظـفـر ګـل خـادم ځـمـا د زړګـی سـر دے
تـورے شپـے دکـفـر لـره زیـرے د سـحـر دے
لاندے سپین جمال ته ئے چهارم اسمان کښے نمر دے
بـل نبـی د دوئ رتبـے تـه کـلـه بـرابـر دے
ځـکـه چـۀ راز دار د اِلـهی پـه لامـکـان دے

❁❁❁❁❁

نعت شریف (٦٥)

محبوب زلفے لری په سپین جبین خورے ورے
اطسی دی لری هم دواړه سترګے خمارے
ورپسے عاشقانو په ژړا کړے سترګے سرے
په نګاه د چشمانو ئے کړل خلق ذرے ذرے

د خدائے په لوئے شکلی دربار کښے
د دوئ په شان عزت د بل چانۀ وینمه
په کل څلور ګوټه دنیا کښے
تمام مخلوق د دوئ دمخ صفت کوینه

که دومره نور عمر خدائے راکړی
د دوئ په وصف کښے به ئے خاورے ایرے کړمه
دَ در په خاوروئے خوشحال ئم
قسم دے نه غواړم بنګلے تخت او تاجونه

څوک چۀ د دوئ عشق کښے فنا شی
تل د هغوئ په ذات وریږی رحمتونه
کوم وخت چه سپین مخ رابنکاره کړی
دقیامت ورځ به په اختر بدله شینه

Scanned with CamScanner

کــــه پـــــه بـــدل وصـــل د یــــار وی
زه خپـل جنـت دیـار پـه وصـل ورکـومـه
یـوسف ؑ نــه زرچـنـده خـائستــه دے
دجـنـت حـورے ورتـه لاس پـنـامـه دینـه
نـورعـلــی شـاهؒ صیـب نـه قـربـان شم
مـاظـفـرګـل خـادم خپـل یـار تـه رسـوینـه

❁❁❁❁❁

نعت شریف (٦٦)

کاش چه هروخت ماکتے......ستاروضے ته مخامخ
هر بیګـاه صبـا کتـے......ستـا روضے تـه مخامخ
هغـه وخـت بـه کلـه وی......دے پـه زړهٔ ارمان ځما
یـخ چـهٔ پـه دیـدن ستـاسو......شی دواړه چشمان ځما
ډیـرم پـه ژړا کتـے......ستـا روضـے تــه مـخـامـخ
ستا د جنګلے خواکښے وے......اوښکے په رُخسار ځما
مستـے خـوشبـویـانـے وے......ستـا د نـوبهـار ځمـا
دا مـنـظـر بیـا بیـا کتـے......ستـا روضـے تـه مخامخ
اوشیـنـدلـے مـا د زړهٔ......ویـنـے ستـا پـه لارو کښے
سـرم همیشـه پـروت وے......ستـا د دربار خاورو کښے
ستـا عـاشق هـر چـا کتـے......ستـا روضـے تـه مخامخ

Scanned with CamScanner

وے پـه خُلـه صلوٰة سلام...... هـر مـابنـام او هر سحر
وے نظـر روضو بـانـدے......بيـا بيـا د صديقؓ عمرؓ
لاس مې پـه دعـا کتـے......ستـا روضـے تـه مـخـامـخ

خدائے مو ورلـه ور وله......ستا دربار کښے شته جنت
نشتـه د يو څيـز کمے......شتـه والله چه هر نعمت
دام پـه دُنيـا کتـے ......ستـاروضـے تـه مخـامـخ

وَس مې د درتـلـو نشتـه......بـس وسيلـه تـا لـرم
ستـا د اٰل خـادم ئـمـه......پيـر نـور علی شاهؒ لـرم
دوئ تـه مې ويـړيا کتـے......ستـا روضـے تـه مخامخ

ستـا پـه مخ عـاشق ئـمـه......ئم زۀ ظفر گل خادِم
ډيـر کـه گـهنـگـار ئـمـه......اوس ئم پـه گناه نادِم
عـفـوِ مې گناه کتـے......ستـا روضـے تـه مـخـامـخ

❀❀❀❀❀

نعت شريف (٦٧)

حضرت نبیؐ سلطانـه
دا ستـا پـه جدائئ کښے تـل بليـږی اور پـه مـا
يـا مـحبوبِ سبحـانـه
بـدل پـه خوشحالئ کړه دا دَ هجر دور پـه مـا

سـردارہ د نبیـانو سـرم شـه لتـانـه زار
بـل سـتـا د مـخ پـه شانِ چرتـه نشتـه حُسندار
حسیـن ئـے لـه هـر چـانـه
هـجـران دِ سره لـمبه کـړلـو مـحبوبه کـور پـه ما

قـریب م کـړه روضـے تـه چـه دِ اوکـړمـه دیدن
پـه سـتـرګـو چـۀ زۀ اوونیـمـه سـتـابـښکلـے وطن
نـظـر کـړه فیـض رسـانـه
مـحبـوبـه د هـجـران غـمـونـه ډیر شو زور پـه ما

پیدا شو ستا له مخه نمر سپوږمۍ زمکه اسمان
هـم واړه نـعـمتـونـه د جـنـت حورو غلمان
سپیـن مـخ مـاه تـابـانـه
بیـلتـون دِ هـر ساعت کوی بے حده شور پہ ما

یـوځـل کـه ظـفـرګـل ستـا پـه ګردونو قدم کیـږدی
خـالـق به پرے د خپـل لوری احسان اوکرم کیـږدی
قـربـان عـربستـانـه
بـادونـه هـر سـاعـت لړی دا ستـا د لـور پـه ما

❁❁❁❁❁

Scanned with CamScanner

نعت شریف (۶۸)

فخرِ دوجهان رسوله......شاهِ خوبان رسوله
نه وے یو وختِ له تانه جدا
نه وے لتانه جدا......زه لتانه جُدا

ستا له مخه منور شو تمام جهان حسین
کړی اسمان پتا فخر، فخر کړی پتا زمین
نشته قدردان رسوله......ځوك ستا په شان رسوله

ته که په دُنیا نه وے......نه به وو اباد جهان
نه به وو شمس وقمر......نه به وو جن وانسان
ستا په مخ روښان رسوله......راغے انسان رسوله

اولین و اٰخرین......نازنین و بهترین
شافع اللمذنبین......رحمة اللعالمین
ډیر ئے مهربان رسوله......تانه قربان رسوله

لاړے د جبریل سره......خاص ته منتهیٰ پورے
پاتے جبرائیل شولو......ته لاړے مولیٰ پورے
در کړلو سبحان رسوله......راز په لامکان رسوله

سوال دِ دَ الله په در......ودَ اُمتی په باب
سوال م دِ منظور کړلو......درکړلو الله جواب
ډیر شولے شادان رسوله......لرشو خفګان رسوله

نور ارمان م نشته دے.....صرف یو ارمان لرم
داغ د مینے زۀ خادم.....ظفر گل په ځان لرم
ته م ئے ارمان رسوله.....ئمه ناتوان رسوله
نه وے لتانه جدا..... زه لتانه جُدا

❁❁❁❁❁

نعت شریف (٦٩)

زړۀ به ترخومره جدا تانه کر زومه نبیؐ
ستا له هجرانه سپینے اوښکے تویومه نبیؐ
اور دِ دَ عشق او محبت په زړگی بل دے ځما
بغیر لتا هسے کنډر د زړۀ محل دے ځما
همیش سینه کښے په ژړا دزړۀ بلبل دے ځما
دا تصور کوم چه کله به درځمه نبیؐ
د فراقت سلګئ وهمه د عجم په سیمه
کله به کیږدمه قدم ستا د حرم په سیمه
لکه مجنون کرځمه تل کله د غم په سیمه
جوړ د ازل نه نصیب برخه م ده کمه نبیؐ
محبوبه ستا کلی ته ځی دعاشقانو ډلے
ته ئے محبوب درځی د سوؤ مجنونانو ډلے
هم دَ نور شمع ئے درځی دَ پتنگانو ډلے
کله به ځۀ ستا په مخ پروبال سیزمه نبیؐ

(٨٠)

Scanned with CamScanner

ستا رتبے ته نه رسی نبیان که مرسلان دی
شه لوګے ستا سترګو ته ګلونه د ګلزار
نوم ئے چه کمال دے هر کمال باندے موصوف ئے ته
ئے حبیبِ کبریا نبیانو کښے سردار
ستا د مخ د نُور په تجلو ئے زره روښانه شی
څوك چه شی بندی ستا د زلفانو په هر تار
وائی ظفر ګل خادم چهٔ ستا په مخ پیدا شو مه
ستا په تعرف مونږه پیژندلے دے غفار

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۷۱)

ډیر خلق زه وینم کال په کالِ بیت الله له ځی
هم ښکلے روضے دپاك حضرت رسول الله له ځی
ډیر خلق زه وینم چه روان شی په سفر باندے
اوښکے ئے روانے وی له سترګو نه بشر باندے
هجر کښے د یار وی ستی شوے په ځیګر باندے
ژاړی په زار زار چه پاك حرم دمصطفٰی له ځی
څوك چه د مکے او مدینے ښکلے خبرے کړی
کړمه اسویلی زړهٔ م له غمه اور د سرے کړی
دا غم خو ډیر خهٔ دے چهٔ عاشق ئے لړے لړے کړی
داسے عاشقان به د زخمی زړونو د واله ځی

خدائیګو بختورے هغه شونډے مبارکے دی
کومے چه پرتے حجرِاسود باندے نازکے دی
ستنے دهجران دلته ځما په زړګی لکے دی
پاتے شمه زه قافلے لاړے دلربا له ځی

څومره خوش نصیب دی چۀ کعبے نه طوافونه کړی
وی سرتورسرونه عرفات باندے سوالونه کړی
هم د خدائے حرم کښے د مولیٰ عبادتونه کړی
داؤ په محبت وهی صفا کله مروا له ځی

ئیم په نصیبؒ خوارزۀ دَ ازل نه کم نصیبه ئیم
پروت ئیم په سرحد کښے چه جدا له خپل حبیبهؐ ئیم
څنګه به رغیږم چه محروم د لوئے طبیبه ئیم
روح م په جزباتو کښے کوځے دخپل آقا له ځی

اے کریمه خدایه بے لتام بل الله نشته
ډیرئیم بے مجاله د زخمی زړۀ م دوا نشته
وصل د حبیبؐ په نصیب کښے چه ځما نشته
څکه خو زړګے م هر ساعت ویراو ژړا له ځی

بس که ظفرکله اوښکے اوچے له چشمانو کړه
نوره ژړا پریږده خوئی ازده له پتنګانو کړه
مینه هر ساعتے د محبوب په عاشقانو کړه
څوورځے ژوندون دے مرګ راتلونکے دے هرچاله ځی

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۷۲)

محبوبه ته حبیب الله ئے
ځما د خوږ زړګی دوائے

رب درکړے دے داسے مقام
شے بللے په خیرالانام
د کل نبیانو مقتدا ئے......

خدائے نه روستو اوچت لرے شان
ستا له حُسنه شرمیږی خوبان
خدائے پتا ته په رب شیدا ئے......

چه لرے خپل خادم جبرائیلؑ
ئے روف او رحیم او جمیلؐ
شفیع به په یوم الجزا ئے......

ستا راتلو سره هر خوا رنړا شوه
په اغیاروچاپیره ژړا شوه
لختِ جګره دلربا ئے......

ظفر ګل په تر مرګه صفت ستا
کړی په ژبه قلم هر ساعت ستا
دلبره زیرے د عیسیٰ ئے......

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۷۳)

وایه سلامونه م په یار نسیمه
په هاشمی خیرالابرار نسیمه
کله به ورشمه زه ښکلی حرم ته
زړۀ نیوے نه شمه نور د هجر غم ته
وایه راکړه یو ځلے دیدار نسیمه......
څو چه غړیږی ځما ساه په بدن کښے
دغه ارمان به م وی مخ په کفن کښے
کړم به سوال جواب ته انتظار نسیمه......
که مُعطر دِ کړمه په خوشبوئی د وصال
په زندګئ کښے ځما پوره کړه دغه سَوال
کړم به درنه ځان لوخړه زار نسیمه......
که ظفر ګل خادم شی خادم د در ئے
د وصالت په اوبو یخ شی جیګر ئے
ځان به کړی قربان د عشق په دار نسیمه......

❀❀❀❀❀

Scanned with CamScanner

نعت شریف (۷٤)

د جدائئ اورم بلیږی په څګیر نسیمه
اے د سحر نسیمه..... څه مدینے ته

وایه حضورؐ ته سلامونه څما
په ادب وړاندے کړه عرضونه څما
زړګے همیش کوی دردونه څما
ورته یادیږی تیر وختونه بختور نسیمه.....

د مدینے هغه دوران ښکلے وؤ
وخت د دیدن هغه مکان ښکلے وؤ
د شین ګنبد سره ګزران ښکلے وؤ
بیا بیا م سترګو ته راځی هغه منظر نسیمه.....

چه به م ګنبد خضرئ ته کتل
هر میدان نه م فضا ته کت
ستا د حرم ښکلے رڼرا ته کتل
په ژوند به راشی کله هغه مازیګر نسیمه.....

په هره لار کښے برکات لیدے شو
ډیر نورانی وؤ مقامات لیدے شو
هغه زاړۀ زاړۀ حالات لیدے شو
اوس هم لیدے شی په کښے هغه زوړ اثر نسیمه.....

Scanned with CamScanner

که دومره نور عمر هم تیر شی زما
کله به دا وختونه هیر شی زما
هر وختِ بیا له زړه چاپیر شی زما
هغه سُتون هغه محراب هغه منبر نسیمه......

چه به جنګلے سره دیدار کیدلو
د روضے خواکښے به رفتار کیدل
صلوٰة سلام سره ګفتار کیدلو
حضورؐ نه روستو په صدیقؓ اوپه عمرؓ نسیمه......

بیا دا سفر به بختور شی هله
مراد دزړونو به مو سر شی هله
یخ به د تهولو پرے ځیګر شی هله
چه جیلانی مرشد ځمونږه وے رهبر نسیمه......

د ظفر ګل خادم ارمان په زړۀ کښے
سلام د حضرتِ عثمانؓ په زړۀ کښے
هم د حجاز د ګلستان په زړۀ کښے
په ژوند کښے بیا غواړی له رب نه دا سفر نسیمه......

✿✿✿✿✿

Scanned with CamScanner

نعت شریف (۷٤)

د جدائئ اور م بلیږی په څګیر نسیمه
اے د سحر نسیمه..... څه مدینے ته
وایه حضورؐ ته سلامونه څما
په ادب وړاندے کړه عرضونه څما
زړګے همیش کوی دردونه څما
ورته یادیږی تیر وختونه بختور نسیمه.....

د مدینے هغه دوران ښکلے وؤ
وخت د دیدن هغه مکان ښکلے وؤ
د شین ګنبد سره ګزران ښکلے وؤ
بیا بیا م سترګو ته راځی هغه منظر نسیمه.....

چه به م ګنبد خضریٰ ته کتل
هر میدان نه م فضا ته کتل
ستا د حرم ښکلے رڼا ته کتل
په ژوند به راشی کله هغه مازیګر نسیمه.....

په هره لار کښے برکات لیدے شو
ډیر نورانی وؤ مقامات لیدے شو
هغه زاړه زاړه حالات لیدے شو
اوس هم لیدے شی په کښے هغه زوړ اثر نسیمه.....

که دومره نور عمر هم تیر شي زما
کله به دا وختونه هیر شي زما
هر وختِ بیا له زړه چاپیر شي زما
هغه سُتون هغه محراب هغه منبر نسیمه......

چه به جنګلے سره دیدار کیدلو
د روضے خواکښے به رفتار کیدل
صلوٰة سلام سره ګفتار کیدلو
حضورؐ نه روستو په صدیقؓ اوپه عمرؓ نسیمه......

بیا دا سفر به بختور شي هله
مراد دزړونو به موسر شي هله
یخ به د تهولو پرے ځیګر شي هله
چه جیلاني مرشد څمونږه وے رهبر نسیمه......

د ظفر ګل خادم ارمان په زړهٔ کښے
سلام د حضرتِ عثمانؓ په زړهٔ کښے
هم د حجاز د ګلستان په زړهٔ کښے
په ژوند کښے بیا غواړی له رب نه دا سفر نسیمه......

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۷۵)

ښکلې دِ رخسار دے
کړے په قران کښے پرے قسم پروديګار دے
يانبیؐ اکرمه
کړے په قران دِ صفت رب العالیمن
ستا له مخه وائی هذا البلدالامين
زړه م نا قرار دے
پاتے په هجرت درنه هم دغه ښکلے ښار دے
يانبیؐ اکرمه
واړه اصحاب دے په رُخسارخپل عاشقان کړل
دوه ديرش غابښه تول ئے ستا په مينه کښے قربان کړل
ستا د مخ نه زار دے
اوګوره اویس قرنیؓ نا ليده نثار دے
يانبیؐ اکرمه
مخ دِ لکه شمس دے تورے زلفے دِ واليل دی
عطر دی پُکهراج که زبرجد دی که فُلیل دی
تول ګردوغبار دے
خورم قسم چه غوره ترے نه ګرد ستا د پيزار دے
يانبیؐ اکرمه

Scanned with CamScanner

خوك دی چه بغیر لتا دی تلی لامکان ته
دا خصوصیت ستا دے چه رب اوغوښتے ځان ته
کله ترے انکار دے
کړے چه په لامکان کښے تا د رب دیدار دے
یانبیؐ اکرمه
وائی ظفرګل خادم چه کفر له سحرته ئے
یوسفؑ کنعان نه زار د نیمے ورځے نمر ته ئے
ټول زړهٔ م پرهار دے
هجر کښے دِګله پیښور راته انګار دے
یانبیؐ اکرمه

نعت شریف (۷۶)

دا شین ګنبد چه درته ښکاری جلوه ګر دے
دے کښے دَ کونینو معتبر دے
چه شپه او ورځ کړی رڼرا ګانے
هم وی چا پیره ژړا ګانے
هریو عاشق ترینه قربان په مال و سر دے

خواکښې ئې ښکلې مناره ده
ډېره پُرکشش نظاره ده
لږ ورته اوګوره کتو کښې ئې اثر دے
چه رياض الجنت ته ورشې
بيا دروازے ته لږ بهر شې
قبلې ته شا کړه مخامخ نبی سرورؐ دے
خاص د مسجد نبوی نه
سترګې به اوښکې تويوينه
چه نظر اوکړے جنتی ښکلې منظر دے
د جنګلې خواکښې په قيام شه
شروع په صلوٰة اوسلام شه
دا د محبوب خواکښې صديقؓ او بل عمرؓ دے
د ګنهګار اُمت شفيع دے
خواکښې ئې جنت البقيع دے
اصحاب پکښې لس زره شته ځائې بختور دے
چه ياد په جامع القران دے
پکښې زيارت د پاك عثمانؓ دے
پکښې مزار د فاطمې بی بی اطهر دے

Scanned with CamScanner

نور خو مره ښکلی مقامات دی
ډیر عاشقان ورته رامات دی
الله د ټولو کړه نصیب ښکلے سفر دے
چه ظفرګل خادم ګویا دے
دا پرے نظرِ کرم د چا دے
هغه سید نور علی شاهؒ سوچه ګوهر دے

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۷۷)

دنمر غوندے په بحروبر
په زمکه په آسمان ئے ته
ئے اصل کښے نورِ خُدا
ظاهره کښے انسان ئے ته

(۱)

ملك دربانده فخر کړی
حوران دربانده فخر کړی
جنت دربانده فخر کړی
غلمان دربانده فخر کړی
دپاك الله حبیب ئے ته
قران دربانده فخر کړی
دنیا کښے دِ قدم کیښود
انسان دربانډے فخر کړی
امیر فقیر عرب عجم
هر ځان دربانده فخر کړی
تیارے دِ ترینه لرے کړے
جهان دربانده فخر کړی
د خدائے تمام مخلوق لره
رحمت عظیم الشان ئے ته

(۲)

روښـــان ستـــا پـــه بشـــر وینـــم   کـــل واړه بـــحـــروبـــر ویـــنـــم
د زمـــکـــې دَ ډِ ظهــور نـــه   بـــر عـــرش نـــه ستا گذر وینم
جبریـل او میـکـائیل غوندې   خُـدّام ستـــاسـو دَ در ویـــنـــم
صدیقؓ عـمـرؓ عثمـانؓ علیؓ   کِبّـار ستـــا د لښـکـــر وینم
میدان کښې هـر بـاطل لـه دِ   مـحـکـم لـکـــه د غـر وینم
عـاشق ستـا پـه خائسته رُخسار   الله غـنـــی اکبـــر ویـــنـــم
ظـلـمـت گـدو د کـفـر لـــه   رښتیـا مـاهِ تـابـان ئې تـــه

(۳)

صـــادق امیـــن رؤف رحیـــم   د رب در کښې خطاب دې ستا
نـــاســخ هـــر یُـو کتـــاب لـــره   قـــران مـــجید کتاب دې ستا
تـــر مـــرگـــه تـــگـــې کیـــږی نـــه   چه څوك په فیض سیراب دې ستا
بـــا لـــکـــل خزان ورتلـــې نشـی   چمن کښې چه گلاب دې ستا
بـــادشـــاه د کـــائـــنـــاتـــو شـــو   په سپوکښې چه حساب دې ستا
بـــس دا رتبـــه دِ ډیـــره ده   عاشق چه رب وهاب دې ستا
مشـکـوراو هم ممنون یُو ستا   راوړونـکـې د قـــران ئې تـــه

(٤)

مقصود که ستا ظهور نه وې   حـــواؑ آدمؑ بـــه دواړه نـــه وؤ
عـــرشِ عـــظیـم وسیـع کـرسی   لـــوح قـــلـــم بـــه دواړه نـــه وؤ
کـه ستاسو لوئې خاطر نه وې   عـــرب عـــجـم بـــه دواړه نـــه وؤ

لوئے شان دے ورته بنائی گنے | دونو عالم به دواړه نه وؤ
که ته مو وسیله نه وے | بخشش کرم به دواړه نه وؤ
نن مونږ چه خوشبوئی اخلو | گلاب شبنم به دواړه نه وؤ
قربان ستا له خاطر نه شم | والله زمونږ ایمان ئے ته

(۵)

خادم ظفرگل ستا په لور | چشمان د انتظار لری
دولت دَ دُنیا نه غواړی | بس یو سوال دَ دیدار لری
خدمت د هغه چا کوی | چه ځوك تاسره پیار لری
چه ستاسو بے ادبه وی | هغوئ نه ځان بیزار لری
مرشد نورعلی شاهؒ صاحب | تارو کښے ایماندار لری
مخ تور خو وسیله خپله | خپل پیر ستا په دربار لری
د هر مشکل، مشکل کُشا | مُغیث د هر نا توان ئے ته

نعت شریف (۷۸)

زه قربان شمه ستا له پیزاره
طلب م زرکړه خپل حرم ته

عرشِ پاك اوکړو دغه سَوال
خدایه رحم م اوکړه په حال
ملاقی م کړه زر له خپل یاره.....

جنتونه په طمع کښې ستا وو
ارمانی دِ نبیؐ مصطفیٰ وُو
مشرف شول ټول ستا له دیداره......

موسیٰ ؑ چغه کړه اوسوزید طور
تا په لامکان اولیدو نور
بهره ور شو ے له رب ذوالوقاره......

دلته څه دی خوصرف هجران دے
زړه د غم په قَفَس بندیوان دے
اوکړه نظرِ کرم رب د پاره......

ظفرګل به تر هغې مولیٰ ته
لاس نیولے همیش وی دُعا ته
څو لوړے چه شی ستا له درباره......

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۷۹)

سپین مخ والضحیٰ لرے | خال پکښې طٰهٰ لرے
اے د مدینے آقا | یا محمد مصطفیٰ

(۱)

ښکلے د عرب سیمه | شوه روښانه ستا په نُور
هم ترے نه شغله | بره لاړه د عجم په لُور
ډیر شاهان ګدا لرے | ماپه ځان شیدا لرے

(۲)

شال دیٰسین ستا په سر خوند کوی محبوبه ډیر
هم د مزمل قبا شان لری د حد نه تیر
تور ګیسو اعلیٰ لرے ډیر پرے جان فدا لرے

(۳)

لویه مرتبه درکړه پاك الـلّهُ الـعَالمین
زیرِ قدم ستا شولو یا محبوبه عرش برین
زیرے د اسریٰ لرے عرش باندے ادا لرے

(٤)

هغه د یثرب زمین تاکړو په حجاز بدل
دین د اسلام غوره کړو ستا اُمت له لم یزل
برشان په هرچا لرے یا نبی زیبا لرے

(۵)

یار صدیق اکبر دے ستا بل حضرت عمر نبیؐ
دی په شان د ستورو تهول تاسوورکښے نمبر نبیؐ
دریم ډك له حیا لرے بل شیرِ خدا لرے

(٦)

تل زۀ ظفر گل خادم ستا دمخ صفت کوم
ستاسو تصور کښې غرق شکر هر ساعت کوم
لوئے احسان په ما لرے هر ماښام صبا لرے

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۸۰)

ښکلے دلبر خیرالابرار دلدار زما
ورپسے ئم په زړه بیمار قرار زما

(۱)

په انبیاء کښې سلطان جانان م دے
پاك محمد آخرزمان جانان م دے
په دوجهانو کښې نامدار سردار زما

(۲)

په دوجهان کښې نامور سرور مدنی
د هر عاشق د زړګی سر سرور مدنی
که ئے نصیب کړی کردګار دیدار زما

(۳)

ئم د وصال په طمع طمع له غمه ژاړم
د بیلتانۀ له جور ستمه له غمه ژاړم
یادم وی تل مدینه ښار ګلزار زما

(٤)

یادیږی ډیر هغه وطن م بدن م سوزی
شو رانزدے جوړ زنکدن م بدن م سوزی
ساده خبرم کړه روئیدار تاجدار زما

(٥)

چه مدینه منوره وے چهره وے دیار
صلوٰة سلام په خُله نعره وے چهره وے دیار
ختمے کیږی د انتظار باربار زما

(٦)

چه د سید نورعلی شاهؒ په مخ شیدا ئیم
دا کنړم فضل د بادشاه په مخ شیدا ئیم
زه ظفرګل ئیم ترے نه زار اقرار زما

✿✿✿✿✿

نعت شریف (۸۱)

احسن الجمال ئے......یا نبیؐ
دوست د ذالجلال ئے......یارسواللهؐ
دوست ئے د رب ذوالمنن......سید الابرار ئے ته
سرورِ دو عالمه......خومره حسندار ئے ته
صاحب اقبال ئے......یا نبیؐ

Scanned with CamScanner

یا عربی هاشمی......شو مره ښکلے شان لرے
وارو مرسلانو کښے......ښۀ پورته نشان لرے
ډیر زیات بے مثال ئے......یانبیؐ

رحمةُ للعالیمن......ستا کامل حسن شولو
نشته روستو بل نبی......ختم نبوت شولو
کفر له زوال ئے......یانبیؐ

مخکښے وۀ تور تم جهان......شو جهان رنړا رنړا
شوے د مرحبا نعرے......اوکړله شیطان ژړا
شپے له بل مشعال ئے......یا نبیؐ

زۀ یم ظفرکل خادم......ستا د در ملنګ شولے
ته نورانی شمع ئے......زۀ دِیو پتنګ شولے
ته م زړۀ کښے سوال ئے......یانبیؐ

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۸۲)

بوځے مدینے ته مونږه شو مره قدر دانه ده
عقل باندے ګرانه ده......تا ته خو اسانه ده
دا دمدینے وطن دِ خدایه شو مره ښکلے دے
دے ته دمکے نه په هجرت حبیبؐ راغلے دے
ټوله د محبوب د مخ په نور باندے روښانه ده

څه اوکړمه ربه ورته ډیر زیات مزلونه دی
غواړی لیدل غواړی هغه ډیرخائسته ګلونه دی
ډکه باغیچه ئے له صدیقؓ عمرؓ عثمانهؓ ده
سترګے به مو یخے شی چه کله پرے جنګله وینو
دا رنګے منبر او هم محراب او مصله وینو
دے پسے سینه مو ډیره ډکه له ارمانه ده
ناست چه وے په مینه تل په ریاض الجنت کښے
هم چه وے مشغول په نوافلو تلاوت کښے
چغه د درود سلام چه وتے له زبانه ده
تلے چه د اُحد د شُهداءُ زیارتونو له
هم دقبلتین ، سبعه ، قبا شریف مونځونو له
تلے د اسلام رنړا له مسجد قبا نه ده
وائی ظفرګل خادم ارمان راله پوره کړے ته
څو مره چه یاران دوستان دی واړه راسره کړے ته
پاکے مدینے پسے د زړهٔ خونه م ورانه ده

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۸۳)

دے بـانـدے ګـواه د خدائے کتـاب دے
یــا رســول الله وئیــل ثــواب دے

یــانـدا بـعیـد او هـم قـریـب لـره
ده جـائـز ولـی درب حبیـب لـره
دا بـحـث صـفـا لکـه د اُب دے

ګـوره سوره حج کښے رب جلیـل
کـړے دے فـرمـان پـه خپـل خلیلؑ
حج تـه اوبلـه کـه زوړ یا شاب دے

یــا ساریهُ، الـجبـل ، الـجبـل
درے زره میلونه مینځ کښے وومزل
دا قــول د عـمرؓ بـن خـطـاب دے

عـمرِوبن سالم راجز مکـه کښے وو
پـاك رسول اللهﷺ م مدینـه کښے وو
درے ځـل د لبیك ورتـه جواب دے

ډیـر زیـات کتـابونـه ورتـه حق وائی
څوك چـه ورتـه شرك او یانا حق وائی
ایـمـان روره د دے سړی خراب دے

خوك چه وئی حلالو ته حرام روره
کړی ځان له په اور کښې انتظام روره
دا سړے لائق دَ لوئے عذاب دے

نور دَ دِ دَ پاره دلیلونه شته
روره مُنکرانو کښې چلونه شته
نور ورله کافی یوم الحساب دے

څومره چه نمسی او یا بچی ئے دی
واړه ترے منکر خپل یا پردی ئے دی
مشر ئے ابنِ عبدالوهاب دے

دوئی په خدائے رسول باندے دروغ وائی
نه دی روغ چه هر څوك دوئی ته روغ وائی
دغه قوم ذِیابٌ فِی الثیاب دے

زهٔ ظفر کل کلك په زوړ مسلك ئیمه
ځکه چه مرید د مبارك ئیمه
پیرم په ولیانو کښې نواب دے

✿✿✿✿✿

نعت شریف (۸٤)

مخ دِ والضحٰی دے په نبیانو کښې افسره
تور تور دِ زلفان دی یانبیؑ سروه

ستا په تورو زلفو پاك الله کړے قسم دے
ستا په مخ شیدا دی که عرب دے که عجم دے
نشته په دارینو کښې بل څوك لتانه غوره

ګوته ئے په خُله کښې ده ستا حُسن ته حیران دی
څومره چه محبوبه په دنیا کښې خوبرویان دیٔ
اوړے دِ نمبر دے هم له شمس او له قمره

ستا راتلو سره په کافرانو زلزلے شولے
ستا په خاطر پورته د عشاقو حوصلے شولے
چغه د غم لاړه د شیطان د خُلے نه بره

شپه وه عجیبه په مقدس کښې چه امام شولے
تا پسے جرګے د انبیاءُ په قیام شولے
شول دِ مقتدیان نبیان یو لاکھ څلیریشت زره

شال دِ دَ یٰسین د مزمل قَبا په غاړه وه
ستا په استقبال کښې فرشته هره ولاړه وه
تلے چه لامکان ته اے څمونږ د زړګی سره

Scanned with CamScanner

تلے چه په هجرت کله مکے مکرمے نه
خلق وؤ راوتلی مدینے منورے نه
ویلے مونږ زاریږو دَ دِ ښکلی پیغمبرهٌ
پیر مِ د الله د معرفت لار کښے کمال لری
نوم نور علیشاهؒ صاحب لری ښکلے جمال لری
کړه د هر سالك سینه ئے ډیره منوره
زهٔ ظفرګل ستا دعاشقانو نه زاریږمه
پیر م لکه شمع زه پتنګ ترینه تاویږمه
برخه م د دوئی په واسطه ده مقرره

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۸۵)

ستا په درګاه کښے فریادونه خهٔ دی
زما په خُله تاته سوالونه خهٔ دی
ته ئے رحیم زهٔ ګنهګار یم ربه
وائیمه دا ستا صفتونه خهٔ دی
مونږ له دیدار راکړه فردوس جنت کښے
تاسره خدایه جنتونه خهٔ دی

چه ستا له حکم نه ګردن تاووی
هغه انسان له عذابونه خئ دی
یووخت م زړهٔ له غم نه نکړے خالی
راسره زړهٔ کښے ستا غمونه خئ دی
کله وصال راکوه کله هجران
زما په زړهٔ باندے داغونه خئ دی
دا د خواجه سیف الرحمن نظر دے
ګرم زمونږ دامحفلونه خئ دی
د خپل مرشد نورعلی شاهؒ په خاطر
نیولی تاته مولاسونه خئ دی
زۀ ظفر ګل خو نورعمل نه لرم
دا چه لیکم ښکلی نعتونه خئ دی

۞۞۞۞۞

نعت شریف (۸٦)

په مرسلانو کښے بهتر عربی
د زړګی سر عربی ئے څما
جهان پتا شو منور عربی
د زړګی سر عربی ئے څما

Scanned with CamScanner

جهـــان پتـــا شـــو مـــنـــور عـــربـــی
د زړګـــی ســـرعـــزيـــی ئـــے ځـــمـــا
شـغـلـود مخ تـه دِ خـورشيد دپاس اسمان نه رسی
د قـدم خـاورو تـه دِ ګُـل د ګـلستان نـه رسی
تـــه ئـــے بـــے حـــده جـلـوه ګـر عـربـی......
لـوئـے بـادشـاهان دِ په دربـارکښـے فقيری خوښوی
د بـادشـاهئ نـه لاس پـه سـر قلندری خوښوی
تـــه ئـــے مـــرهـــم د خـــوږ جيـــګـــر عـــربـــی......
ښـکـلـے لـه ښکلو ئـے ټول ښکلی خادمان لرے تهٔ
بـلـکـه د ښـکـلـو نه خائسته ښکلی ياران لرے تهٔ
ګـــران پـــه الله ئـــے مـــعـتبـــر عـــربـــی......
جـلـوه نـمـا شـوے پـه آخـر ئـے اولين هـر چـانـه
حبيبه خـورم قسـم چهٔ تـه ئـے بهـترين هـرچا نهٔ
نـــورالهـــدئ خيـــرالبشـــرعـــربـــی......
د ظـفـر ګـل دا تـمـنـا بـه رب ترسر کړی کله
هـزار خـوانئ نه به ئـے پورته رب اکبر کړی کله
چـــه جـــاروکـــش وے ستـــا د در عـــربـــی......

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۷۸)

راوریږی رحمتونه......مدینه منوره کښې
عاشقان کړی فریادونه......مدینه منوره کښې

په زرګونو ملائك......راکوزیږی له اسمانه
ځی حاجیان په ډیرهٔ مینه......مدینې ته بیت الله نه
په یار وائی سلامونه......مدینه منوره کښې

چه د یار کوڅو کښې ګرځی......بختور هغه کسان دی
په صلوٰة او په سلام......ګویاخواکښې دجانان دی
ځی له سترګو ئې رودونه......مدینه منوره کښې

زړهٔ ئې نه غواړی واپس تلل......چه داخل شی دغه ښار کښې
د بلبل غوندے چغیږی......د آقا ښکلی ګلزار کښې
قرار مومی سوی زړونه......مدینه منوره کښې

چه د یار غیږے نه پاسی......واپسی دروِمی وطن ته
په زار زاړی روستو ګوری......اورئې پورے شی بدن ته
بل د عشق دی سرهٔ اورونه......مدینه منوره کښې

زهٔ خادم ظفرګل وائم......اے خالق پروردِګاره
په ژوندون کښې څوځل م......بوزه تر خیرالامصاره
چه لیکم ښکلی نعتونه......مدینه منوره کښې

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۸۸)

زۀ پرے شیدا ئیمه......آقا زما دے
زۀ ئے گدا ئیمه......آقا زما دے
سوزمه تل د فراقت په اور کښے
دیار د مخ د نزاکت په اور کښے
چه ترے جُدا ئیمه......آقا زما دے
نوم ئے د خوږ زړګی مرهم ګڼرمه
لوئے غنمیت ئے خلقه غم ګڼرمه
ترے نه فدا ئیمه......آقا زما دے
د بے کسانو مددګار لرمه
د یتیمانو لوئے غمخوار لرمه
په دے صدا ئیمه......آقا زما دے
لرم په زړۀ کښے دا ارمان زه مدام
چه ناست وے خواکښے د جانان زه مدام
غمژن په دا ئیمه آقا زما دے
زۀ ظفر ګل ئے د لیدو کوم سوال
ئیمه غریب نه لرم یو زره مال
په دے سودا ئیمه آقا زما دے

❀❀❀❀❀

Scanned with CamScanner

نعت شریف (۸۹)

خیر دے عُمر کم زما......خوښ دے په حرم زما

دغه سوالونه ربه تاته دی هر دم زما

د بیت الله شریف په خوا کښې

څڅیدے هر وخت د دواړو سترګو نم زما

د مکے ښار نه زار قربان شم

چه تماشا کوی په دار باندے عالم زما

چه دخدائے بیت ته م کتلے

د دغه غمه وی تالیٔ په هر قدم زما

د پاك رسولؐ د در ملنګ وے

رانجۀ د خپو کردونه وے د محترم زما

د مدینے د باغ بلبل وے

ثنا د ښکلی یار وے هر ساعت په فم زما

کاش د حجاز د لارو ګرد وے

والله چۀ عمر دلته ګران شو په عجم زما

د ظفر ګل دغه ارمان دے

په ژوندانۀ راکړه دیدار د غنچه فم زما

✿✿✿✿✿

Scanned with CamScanner

نعت شریف (۹۰)

دوست د رب العالمین ئے......یارسول اللہؐ زما
رحمة اللعالمین ئے......یارسول اللہؐ زما

ستا دمخ انوارو لرے کڑے د جهالت تیارے
بے مثاله ډیر حسین ئے......یارسول اللہؐ زما

راز د پاكِ الله سره موسیٰؑ په کوهِ طور کڑے
ته په لامکان قرین ئے......یارسول اللہؐ زما

صاحب لِواءِ الحمد ئے صاحبِ خلق عظیم
هم سردار مرسلین ئے......یارسول اللہؐ زما

وائی به نفسی نفسی اٰدمؑ نه ترعیسیٰؑ پورے
ته شفیع المذنبین ئے......یارسول اللہؐ زما

نوم مبارك ستاسو تسلی د عاشقانو ده
خوږ له قند شکر گبین ئے......یارسول اللہؐ زما

تړلے منصوبے دِ دکافرو دړے وړے کڑے
تندر په شیطان لعین ئے......یارسول اللہؐ زما

ته د غریبانو ملجأ هم مأوٰی د هریتیم
سرسورے دهر مسکین ئے......یارسول اللہؐ زما

Scanned with CamScanner

بے لتانه نشته قرارے والله په صبح وشام
ته م دزړګی تسکین ئے......یارسول الله ؐ زما
زۀ ظفرګل ستا دجیلانیؒ بچی خادم یمه
ته چه ئے ایمان او دین ئے......یارسول الله ؐ زما

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۹۱)

راکړه دیدن یو ځلے نبیانو کښے سرداره
تاپسے م زړۀ دے ناقراره
ستا په نالیدلی مخ ، پاك الله شیدا کړمه
ویر ژړا م خوښه ده ، اوس به څۀ خندا کړمه
ستا په فراقت کښے م زړګے شو پاره پاره
ته عربی شمع ئے ، زۀ یم پروانه عجم
مینے دِ ستی کړمه ، شومه دیوانه عجم
اوغواړه روضے ته م یا سَیِّدَالابراه
فخر کړی زمین پتا ، فخر د اسمان ئے ته
کړی جنت پتا فخر ، فخر د انسان ئے ته
حورے د جنت دِ شین لوګے شه له رُخساره

ځو مره مبارك خلق دی ، تا ته سلامونه کړی
ستا د دربه خاورو کښې ، ناست دی خدمتونه کړی
زه کم نصيب ګرزم زړهٔ زخمی سينه بيماره
ستا د حرم خاورے م ، تور وے د چشمانو
ياستی په مثل شوے ، زهٔ د پتنګانو
يو ساعت جُدا نه وے لتانه ګلعزاره
شوه سينه مجمر ځما ، زړهٔ م پکښے شو ستی
غواړی ستا وصال ګله ، هر وخت خوش قسمتی
خوښه م ده خدائيګو د فرقت سينه دا غداره
بچ زهٔ ظفر ګل به شم ، ستا په برکت ګله
اوکړه په ماخوار نظر ، ورځ کښے د قيامت ګله
کړے چه شفاعت د ګناه ګار امت د پاره

❁❁❁❁❁

نعت شريف (۹۲)

نه دے د شمس وقمر دا ستا د حُسن نور دے
يارسولهؐ ستا له رويه درست جهان ظهور دے
هوالله هوالله، هوالله، هو
نه رسيږی حورے د جنت ستا قدمونو ته
لاندے دی خوشبو ته ستا چه ګورمه ګلونو ته
نورِ الهی دِ په خانسته مخ کښے حضورؐ دے

ستا دمخ پتنګ وؤ يارسولهٔ حبشي بلالؓ
وؤ غلام دبل خو غلام ستا کړلو رب ذوالجلال
دار بانده ختلے ستا په مينه کښے منصورؒ دے

يو لاکھ او څليريشت زره مرسلان نبيان ښکلی
بيت المقدس کښے شولو ستاسو مقتديان ښکلی
شوے په طٰهٰ او په يٰسين درته مذکور دے

لانده مرتبے ته دِ نبيان دی ګلعزاره تهول
څو مره چه خوبان دی زار دِ شی ستاله پيزاره تول
ته راز دار په لامکان موسٰیؑ په کوهِ طور دے

ستا له مخه فخر کوی زمکه په اسمان ګله
کيښودو قدم دِ مبارك په لامکان ګله
زړه دِ په ديدار د پاك الله بانده معمور دے

دربه شمه کله ستا د دربناورے چه ښکل کړمه
څو پورے به زه له فراقته ژړيدل کړمه
روح م پکښے سوزی مدام جسم م تنور دے

دلته ظفر ګل خادم خوستا د آل غلام شومه
ورځ به د اختروی که حرم کښے لاس پنام شومه
يا حبيبه کله دِ زمونږ کلی نه دور دے

✿✿✿✿✿

ماهِ رمضان (۹۳)

ماهِ رمضان دے د الله نه رحمتونه راځی
په مسلمان باندے بے حده برکتونه راځی
بیت العزت ته پدے میاشته کښے قران نازل وۆ
ځکه ئے هر جماعت نه نن تلاوتونه راځی
د اتو وارو جنتونو دروازے کُهلاؤ شی
د شیطانانو لاس او خپو ته زنځیرونه راځی
اولے لس ورځے رحمت بیا مغفرت یادیږی
په آخری لسو کښے اور نه نجاتونه راځی
مسلمه نفل پکښے پاك الله په فرضو قبلیږ
فرض په اویاءُ دی دَرب نه انعامونه راځی
وړاندے گناه بنده ته معاف شی د روژے په حُرمت
عمل نامے ته ئے بے شماره ثوابونه راځی
د لوږے تندے په بدله کښے دمحشر میدان کښے
دے روژه دار له به جنت نه نعمتونه راځی
ځی به جنت ته په باَ بُ الریّان حضورؐ فرمائی
هم د قران او د روژے شفاعتونه راځی

Scanned with CamScanner

په دغه میاشته مبارکه کښې جبریلِ امینؑ
ورسره هم د فرشتو ډیر زیات فوجونه راځی
مومنه روره احترام قدر ئے ډیر پکار دے
په ژوند کښې رب خبرکه بیا داسے وختونه راځی
بختور خلق دی چه روژے نیسے کوی تلاوت
په ژبه زړه ئے ډیر دپاك لله ذکرونه راځی
زۀ ظفرگل ئے جوړوم بیا ئے محفل کښې وائم
شکر دے ماله د حضورﷺ ښکلی نعتونه راځی

۞۞۞۞۞

نعت شریف (۹٤)

مدینے ښاره ستا دمینے سمندرلره درځم
دلبر لره درځم
دنعمتونو مجموعه ئے
والله د هر ځائے نه خائسته ئے
چه رحمتونه پرے وریږی هغه درلره درځم
چه معزز او محترم دی
خواکښے د سرورِعالم دی
دوه وزیران دی یو صدیقؓ او بل عُمرؓ لره درځم

مشك وعنبرترے نه لوګے شه
عطرفُليل ترے سپيلنے شه
دے بے حسابه معطرهغه سحرلره درځم
ترمرګه پورے نه هيرړی
والله چه سترګو کښے غږيږی
د شين ګنبد د لاندے ښکلی مازيګرلره درځم
خواکښے ئے رياض الجنت دے
پکښے جاری دخدائے رحمت دے
دے باغيچه کښے سپين محراب اوهم منبرله درځم
چه فرشتے راځی سلام له
روضے د سيدالا نام له
د اويازره فرشتو دغه محضرلره درځم
چه پکښے حضرتِ عثمان دے
د رحمتونوپرے باران دے
د جنت البقيع خائسته عظيم لښکرلره درځم
چه اويا تنه شهيدان
لری لمنه کښے ګلان
د محبت نه ډك دے هغه اُحد غرلره درځم

Scanned with CamScanner

زۀ ظـــفــرکــل پــــه احتـــرام
وائـــمـــــه تــل صـلــوـة سـلام

روژے د هـــجـــرمِ نیــولـــی دی اختــر لــره درځـم
دلبـر لـره درځـم

۞۞۞۞۞

طرز - مقام اسری اعلیٰ محبوبؐ عربی

نعت شریف (۹۵)

امام الانبیاء محبوبؐ عربی

حبیـــب کبـریـــا مـحبـوب ذوالـجـلال
مـن اسمــه مـحـمـد . ذوالـحسن والجمال

الله ورتـــه ویــئـلــی بشیــراً ونــذیــراً
رحـمـت د مـخـلـوقـاتـو نازل شولـه قدیرا

شاهان ان کی در میں. روتے رہیں سوالی
ثانی نہیں ہے ان کا واللہ دوجهان پر
ستاره چمکتا ہے اقبال کی اسمان پر
دی حسـن تـه ئـے لانـدے .کـه شمس وی که هلالی

یــایهـــا الـمـدثـر ، ایـت راوړو جبـریـلؑ
پـه حـکـم درب پاسه دین خورکړه دجلیل
مشـرق نـه تـر مـغربه . جنوب نه تر شمالی

والال الصحابه دښکلی پیغمبر م
ورته پتنګان وؤ د یار دسپین بشرم
صدیقه رفیق . فی الغار والملالی
فاروق ؓ جو معروف ہے عمر بن خطابؓ
عثمانؓ کی سخاوت روشن ہے لاجواب
چهارم اسدالله دے . ژوندے به ئے کمالی
خادمه ظفرګله درب په درکښے ژاړه
خائسته د حجاز مکه دپاك الله نه غواړه
صلِ علی محمد . یاطالب الوصال

✿✿✿✿✿

نعت شریف (۹۶)

ہر درد کی دوا ہے......صل علی محمد
تعویذ ھر بلا ہے......صل علی محمد
مراد به ئے حاصل شی جنت به داخل شی
هغه کس به د هغه . خائسته حورو واصل شی
جس نے لکھا پڑھا ہے......صل علی محمد
جنت به ئے مقام وی . دوزخ به پرے حرام وی
دیدار د پاك الله به هغے کس ته انعام وی
گر دل میں لکھ لیا ہے......صل علی محمد

دا لوله شابه شابه . ورځے به ترترابه
برزخ کښے به خوشحال وی . شی خلاص به له عذابه
جو پڑھ گے مرگیا ہے......صل علی محمد

که پټ وی که ظاهر وی . درون که باهر وی
په شوق سره ئے وایه . فائده به د آخر وی
کیا نسخۂ شفاء ہے......صل علی محمد

که رب خوشحالوے ته . شیطان خفه کوے ته
دجهل د زنځیر نه . له غاړے ماتوے ته
اللہ کی رضا ہے......صل علی محمد

شفیع المذنبین دے . اَنیسُ الغریبین
راحة العاشقین دے . رحمت د عالمین دے
محبوب کبریا ہے......صل علی محمد

په مخ د هغه یار . چه دے شمس النهار
خادمه ظفر ګله . لیکه ښکلی اشعار
کیا نقش خوشنما ہے......صل علی محمد

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۹۷)

خدائے بہ جنت ورکړی هغه کس ته په انعام
ثوك چه درود وائی په نبی علیه السلام

ښکلی پیغمبر دا مبارك حدیث وئیلی دی
ماپه خپلو سترګو په حدیثو کښے لیدلی دی
من ذکرتُ عنده نبیؐ م فرمائیلی دی
کیږده د نبیؐ په نقشِ قدم خپل اقدام

بل ځائے کښے فلم یصلِ علی فرمائی
نوم چه ځما واوری وریسے درود نه وائی
دغه کس بخیل دے به څنګ جنت ته بیائی
راشه که مومن ئے پَرے تینګ کړه د اسلام

وائی پاك رسولؐ که تادرود اولوستو ماباندے
پاك الله به لس ځله درود اووائی تاباندے
اوس دِ خوښه خپله ده جبراً نشته په چاباندے
زړۀ که خوشحالئے وایه صلوٰة اوهم سلام

واوره ظفرګله خامخابه ځے عقبا ته ته
څو ورځو دپاره ئے راغلے دے دُنیا ته ته
اطیعوا الرسول شه بیا به اورسے مولیٰ ته ته
بچ به شے برزخ کښے د درود په احترام

❀❀❀❀❀

نعت شریف (۹۸)

تـاکښـې پـراتـهٔ دی د فـردوس د بـاغ ګلونـه
مــدیـنــې ښــاره تــل کــوه فــخــرونــه

مـدیـنـې ښـاره ډیـر بـخـتـورئـې
د فـیـوضـاتـو لـوئـې سـمـنـدرئـې
ځـائـې د هـجـرت م د سـرورئـې
سـتـا پـه سیـنـه بـانـدې ئـې ایښـی قـدمـونـه

تـاکښـې مـوجـود نبـی سـلطان دې
صـدیـقؓ عـمـرؓ غـنـی عثـمانؓ دې
د رحـمـتـونـو پتـا بـاران دې
د هـر طـرف نــه درچـلـیـږی عـالـمـونـه

تـا کښـې مـسـجـد دپاك حضرت دې
بـاب الـسـلام بـاب الـرحـمـت دې
پتـا کښـې ریـاض الـجـنـت دې
د هـر سُتـون سـره عشُـاق کـوی مـونځـونـه

تـا کښـې مـحـراب او مـصـلـه ده
مـنـبـر د میـنـې مـرحـلـه ده
تـا کښـې د یـار ښـکـلې جـنګله ده
دلتـه پیـش کـیـږی پـه ژړا کښـې سـلامـونـه

پتـا کښې ښـکـلـې مـقـبـرې دي
پــکښــې زرګــونــه ســتــارې دي
نــورانـــي ستـــا ذرې ذرې دي
ستـا دبـقـيـع هـره ذره ښـکـاري لـعـلـونـه

پتـاکښــې مـســجـد قبـا دے
داُحـد غـر ځـو مـره زيبـا دے
پـکښـې مـصـعـبؓ، امير حمزهؓ دے
دلتــــه وريـــږي د انــوارو بـــارانـــونــــه

ځـــو مـــره مـــزه کـــوي قيـــام
چـــه پيـــش کـوي صـلـوة سلام
ګـنــړي پــه ځــان دَرب انـعـــام
د ظـفـرګـل خـادم پـه مـخ اوښـکـې رودونـه

❁❁❁❁❁

رباعی (۳۵)

دکـونيـنـود سـرور نـه شـمـه زار
خوږ مـحبـوب د رب اکبـر نه شمه زار
يـارِغـار چـه دمـحبـوب د ذوالـجـلال وؤ
ابــوبــکـــرؓ بــختــور نـــه شـمـــه زار

Scanned with CamScanner

چه د عدل پوله چاده غورولے
د عادل حضرت عمرؓ نه شمه زار

چه بے مثله دے حیا او په سخاکښے
د عثمانؓ ګلِ صدبر نه شمه زار

څلورم چه وؤ اجل د کافرانو
مرتضٰی علیؓ حیدر نه شمه زار

مدینه منوره ډیره خائسته ده
زۀ ئے د شام او د سحر نه شمه زار

ریاض الجنت کښے ناسته څومره خوند کړی
د محراب او د منبر نه شمه زار

په باب السلام چه درومه سلام له
دَ دے بے بها سفر نه شمه زار

چه جنګلے سره په ډکو سترګو جاړم
ښکته ګورم دے نظر نه شمه زار

چه بهر شم د ګنبد په نظاره شم
دَ دے ډیر ښکلی منظر نه شمه زار

ظفرګله چه جهان پرے خائسته دے
زه هغے جبین قمر نه شمه زار

✿✿✿✿✿

رباعی (۳۶)

نن که دے دلته د الله پاك عبادت اوکړو
تګ دِ په ښکلے خائسته لار د شریعت اوکړو
شے په دارینو به کامیاب اے د ایمان خاونده
که په فنا کښے دِ څه غم د آخرت اوکړو

تهولے نیکئ به دِ په اور لکه لرګے اوسوزی
که پشی شا دِ مسلمان پسے غیبت اوکړو
شے به خبر په رموزو او ادب د علم
که دِ دَ دین د عالمانو څه خدمت اوکړو

خدائے به دِ وروُلی آخر دخپل محبوب غیرے له
که دِ طلب د عاشقئ په صداقت اوکړو
د سلو کالو عبادت نه به بهترشی درله
که دِ صحبت د اولیاءُ یو ساعت اوکړو

زړهٔ به دِ شی لکه شیشه هم به انوار اووینے
که د کامل پیر او مرشد نه دِ بیعت اوکړو
ظاهر باطن به دِ صفا شی ظفرګل خادمه
که خپل مرشد درته نظر د مرحمت اوکړو

۞۞۞۞۞

رباعی (۳۷)

محمد نبی سردار دے مدینه کښے
د زخمی زړونو قرار دے مدینه کښے
پاك الله دے د لولاك خطاب ورکړے
دوست د پاك پروردګار دے مدینه کښے
دی یاران څلور د پاك نبیؐ سرور
ابوبکر صدیقؓ یار دے مدینه کښے
چه دعدل ئے اواز خور په جهان دے
دوئم عمرؓ اعلیٰ وقار دے مدینه کښے
چه غنیان ورته د تهول جهان دی لاندے
درئم عثمانؓ دوست د غمخوار دے مدینه کښے
د سخی صاحب په نوم یاد شیر علیؓ دے
اوسیدلے دا دلدار دے مدینه کښے
چه نمسی د پیغمبرؐ حسنؓ حُسینؓ دی
د حسن ښکلے مزار دے مدینه کښے
ظفر ګله مدینه څومره خائسته ده
جلوه ګر ستا ښکلے یار دے مدینه کښے

رباعی (۳۸)

بختورئے بختورئے یا حبیبہؐ
نامورئے نامورئے یا حبیبہؐ
ستا پہ مخ دوارہ جھانہ رب پیدا کړل
مخورئے مخورئے یا حبیبہؐ
د لولاک تاج دِ پہ سر دے مولیٰ ایښے
ناز پرورئے نازپرورئے یا حبیبہؐ
رب در کړے د طٰہٰ یٰسین لقب دے
معتبرئے معتبرئے یا حبیبہؐ
رب نازل پہ تا کتاب کلام پاک کړو
پاک سرورئے پاک سرورئے یا حبیبہؐ
ستا دیدن تل ظفر گل د رب نہ غواړی
تہ ئے دلبرئے تہ ئے دلبرئے یا حبیبہؐ

❁❁❁❁❁

رباعی (۳۹)

کہ شداد ځان لہ جوړ کړے وؤ جنت
لیکن نہ وؤ د ظالم پکښے قسمت
کہ نمرود پہ ځان دعوہ د خدائیٔ اوکړہ
پاک اللہ ډوب کړو دریاب کښے دلعنت

رودنیل کښې پاك الله فرعون تباه کړو
غرق ئې کړلو د موسیٰ پـه برکت
افلاطون کـه د یونان شهر آباد کړو
ښاریـه ورلـه رب کړلـه لټ پـه لت
چـه انکار ئې د زکوة ورکړے نـه اوکړو
رب قارون کړلو اختـه پـه مصیبت
نافرمانـه چـه د نوحؑ نبی نـه قوم شو
رب تعالیٰ پرے طوفان راوست دَهیبت
کـه یوسفؑ رونړو ګزار کړو پـه کوهی کښې
خدائے تعالیٰ ورکړو د مصر حکومت
ظفر ګلـه د الله نـه عفوه غواړه
سربالا چـه شې پـه ورځې د قیامت

❀❀❀❀❀

رباعی (۴۰)

کـه سپرلے پـه ګلوشتـه دے خزان هم شتـه
کـه وصال پـه جهان شتـه دے هجران هم شتـه
دا جهان رب پیدا کړے عجیبـه دے
خوشحالی کـه پکښې شته دے خفګان هم شته

په الله پاك تل یقین لره صادق شه
ستا په رنګ د الله بندیګان هم شته

تل یقین په فرشتو کوه چه شته دے
په اوګو دِ ملائك د آسمان هم شته

کتابونه د الله ګڼره چه حق دی
پکښې ښکلے د الله پاك قرآن هم شته

انبیاء د الله حق دی خبردار شه
پکښې ختم الانبیاء قدردان هم شته

په نامه دے محمد نبیؐ سرور
بله داده چه د حشر میدان هم شته

خیر او شر درب د لوری دی انسانه
په قدرت علم په هر یو مکان هم شته

که ته نیك عمل همیش کړے مسلمانه
حورے څئ چه ستا دپاره غلمان هم شته

که په طمع د جنت ئے عمل نه کړے
اے کم عقله سرے لمبے د نیران هم شته

که بغیر د خدائے د فضله بزرګ کیږی
اے زاهده ګورے نفس او شیطان هم شته

Scanned with CamScanner

په لوئي فضل د الله عقيده بچ کړه
هزارها معتزله اونجديان هم شته
ظفرګل خادمه هرولي له درومه
په دے تلوکښے دِ ډير خيردايمان هم شته

❀❀❀❀❀

رباعی (٤١)

ستاله غمه م زړګے ناقرار نه شي
ستاپه عشق او محبت کښے بيمار نه شي
ستا په عشق کښے چه تراوسه ژوندے ګرزم
دغه عمر م په عمر کښے شمار نه شي
تن ځمانده عاشق هسے ساده دے
چه حُبيب غوندے د مرګ خريدارنه شي
په قدم دابراهيم ئے تګ اونکړو
چه ستي د يار د مينے په نار نه شي
معرفت ئے په چشمانوليدے نه دے
چه منصورؒ پشانے پورته په دارنه شي
چه د يارد ذکرفکرنه غافل شو
پابند ځکه د ازل په اقرار نه شي

Scanned with CamScanner

ترهغے مقام ته نه شی رسیدلے
چه دپاك رب دولی خدمتګارنه شی
دا دعوے دظفرګل خادم دی خوشے
چه روان تر اوسه سم ستاپه لارنه شی

❁❁❁❁❁

د حضرت بلال رض صیب واقعه (۹۹)

بلال رض خفه وؤ څکه چغے فریادونه کوی
زړۀ ئے دردونه کوی . دمدینے نه څی روان دے
هجرئے زړۀ باندے انبار دے
سوچ ئے ملګرے دخپل یار دے
ناسته ولاړه باندے هر وختے سو چونه کوی
زړۀ ئے دردونه کوی . دمدینے نه څی روان دے
دشام په لوری روانیږی
اوښکے ئے سترګونه بهیږی
دشتے میرے دی دشپے ورځے مزلونه کوی
زړۀ ئے دردونه کوی . دمدینے نه څی روان دے

شـــام تـــه چـــه لاړلـــو بـــلال رض
خـوب کـښـې مـحـبـوب دذوالجلال
بلال رض وائـی چـه عـاشق څنګه کارونه کوی
زړۀ ئـې دردونه کوی . دمدینې نه ځی روان دے

تـه چـه رخصت ځماله خواشوے
بـلالـه رض څـومره بے وفا شوے
مـحبوب دمينې ګيله کړی څومره نازونه کوی
زړۀ ئـې دردونه کوی . دمدینې نه ځی روان دے

بـــلال رض دستــــی شـــو را روان
د شـام نـه ډيـر پـه هـائـے سـوران
تـوبـے اوباسی د محبوب درکښې عُزرونه کوی
زړۀ ئـې دردونه کوی . دمدینې نه ځی روان دے

حتـیٰ چـه راغـے مـدينـې تـه
قـرارئـے نـه راتـلـوسينـې تـه
خلق را چليـږی د بلال رض صيب ديدنونه کوی
زړۀ ئـې دردونه کوی . دمدینې نه ځی روان دے

ورلـــه راځـی بـنـځـے او نـــر
داســـے صــديـق رض اوهـم عـمـر رض
پـه عـجـزونيـازسـره بـلال رض تـه منتـونه کوی
زړۀ ئـې دردونه کوی . دمدینې نه ځی روان دے

Scanned with CamScanner

بلالهؓ غم نه موکړه خلاص
اذان شروع کړه په اخلاص
ته چه اذان کړے جوړیدل به مو زخمونه کوی
زړۀ ئے دردونه کوی . دمدینے نه ځی روان دے

هر یو سړے په انتظار شو
بلالؓ اذان نه په انکار شو
چه محبوب نه وی دے به څنګه اذانونه کوی
زړۀ ئے دردونه کوی . دمدینے نه ځی روان دے

حسنؓ حسینؓ دواړه ګلونه
بلالؓ له ئے راوړل تشریفونه
بلالهؓ اوکړه اذان څو مره به ښوندونه کوی
زړۀ ئے دردونه کوی . دمدینے نه ځی روان دے

بلالؓ درخواست کړلو منظور
دا ګران نمسی وؤ دحضورؐ
په کانړی اودریدو د سوز ډك اوازنه کوی
زړۀ ئے دردونه کوی . دمدینے نه ځی روان دے

بــلالؓ شــروع کــړلــو اذان
اورسیــدنــوم تـــه د جـــانـــان
بـې هـوشـه پرېـوت رپيـدل ئې اندامونـه کوی
زړۀ ئې دردونه کوی . دمدينې نه ځې روان دے

حــافــظ بشيــره لــوئې عــاشــق وۀ
پــه عــاشــقـئ کښې ډيــر صــادق وۀ
د ظـفـرکـل خـادم قلم ئې صفـتونـه کوی
زړۀ ئې دردونه کوی . دمدينې نه ځې روان دے

۞۞۞۞۞

رباعی (۴۲)

چـه بـلـې پـه مـحبت رقيبـان پټ پټ
پـه سختئ رټې همـه عـاشقان پټ پټ
پــه ظـاهـره لـه کعبې نـه قـربانيږے
ننـه بـاسې پـه کښې مينـځ بتـان پټ پټ
دوحـدت تـائيـد کـوے د رسـالـت نـه
دشـمـن دارشـوے دحـجاز دجانان پټ پټ
رابـلـې خـلق تيـارے تـه لـه رنـړا نــه
ساده خـلق ډکـړل منـکر لـه قرآن پټ پټ

گویا سپی له ورکوے په زمزم غُسل
دفائدے په ځائے دِ واخست تاوان پټ پټ

اهل سنت وجماعت نه مخالف شوے
درته خوښ شو غیر مذهبه سګان پټ پټ

د دُنیا په مال دولت دِ ایمان خرڅ کړلو
چه ګزار کړے په امام نعمانؒ پټ پټ

ظفرګل وائی چه څوپورے ژوندے یم
خپل مذهب نه به دِ کړمه قربان پټ پټ

❁❁❁❁❁

نعت شریف (۱۰۰)

طرز: تنا له چې خدائے د درګه لوحیمان ځائے

یا الله د پاك نبی سلطان په طُفیل
ګناه موکړے معاف د مخ روښان په طُفیل

ستامحبوب دے ستا مطلوب دے تاته دے ډیرګران
اوبخے مونږ تول دَ دغه ګران په طُفیل

تا معاف آدم علیه السلام کړلو یو دم
وے غوښته معافی چه د جانان په طُفیل

بچ شولو خلیلؑ د نمرو اور کښے سوزیدو نه
دا خود مهمانِ لامکان په طُفیل

نُور چه په تندی داسماعیلؑ کښې وؤ موجود
بچ شولو دَ دِ نورد فیضان په طُفیل

بچ شو عبد اللهؓ صاحب والد د پاك رسولؐ
دغه هم د شاهِ دوجهان په طُفیل

پریوته مانړئ دکسریٰ اور د فارس مړشو
په آمد د سرورِ خوبان په طُفیل

مونږه ته ایمان اسلام قران امن ملاؤ شو
دا ټول د نبیؐ آخرزمان په طُفیل

خدایه شفاعت اوخپل دیدار زمونږ نصیب کړے
لاړ چه شو جنت ته د ایمان په طُفیل

هم راله دیدار د حرمینو بار بار راکړه
خاص د مدینے د ګلستان په طُفیل

حُبّ د اولیاءُ عقیده د اهل سنت
کړه راته نصیب دخپل لوئے شان په طُفیل

بچ موکړه د نفس شیطان د مکراو فریب نه
شاهِ نقشبندؒ، شاه جیلانؒ په طُفیل

غواړم ظفرګل خادم معافی درنه اِلهَ
د غوث د تارؤ دارچیؒ ځوان په طُفیل

❁❁❁❁❁

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi





بفیضان نظر

پیر طریقت رہبر شریعت منبع الفیوض والبرکات
شیخ المشائخ ولی کامل سید السادات علامہ

سید نور علی شاہ

الجیلانی السیفی صاحب

(استانہ عالیہ نوریہ سیفیہ تاروشریف)

گل دوا خانہ

انقلاب روڈ محلہ غریب آباد سوریزئ پایان

حکیم مولانا ظفر گل خادم نوری سیفی

فون نمبر ۰۳۰۰۵۹۷۷۵۷۶

المکتبۃ الخادمیۃ

انقلاب روڈ محلہ غریب آباد سوریزئی پایان پشاور بالمقابل دار العلوم نوریہ سیفیہ

0313- 80 03 281 / 0340- 43 63 222

Scanned with CamScanner